بسم الله الرحمن الرحيم

# غزني پوهنتون

## علمي ـ څېړنيزه مجله

لومړی کال، څلورمه گڼه، ۱۴۰۲هـ ل

# غزني پوهنتون

## د فعالیت پیل : ۱۴۰۱هـ ل


**د غزني پوهنتون علـمي، څـېړنیزه مـجله**

**لومړی کال، څلورمه ګڼه، ۱۴۰۲هـ ل**



**د امتیاز خاوند:** غزني پوهنتون

**مسئول مدیر:** پوهنمل محمدمصطفی صفا

**سردبیران:** د طبیعي علومو: پوهنمل دوکتور شفیق الله رحماني

د اجتماعي علومو: پوهنمل غلام یحیی اصغري

**د مجلې عمومي مدیر:** احمدشاه الماس

**د مجلې د خپراوي مدیر:** شعیب فیضي

**د مجلې د متن د سمون مدیر:** شمس الرحمن علي



**د مجلې د ثبت ګڼه:** RCTD-GNJR-007-23


## کتنپلاوی


### طبیعي علوم

- پوهندوی حبیب الله همایون
- پوهندوی عبدالرحمن عثماني
- پوهنمل جواد علي یار
- پوهنوال قربان علي فروغ
- پوهنمل دوکتور حمید الله واعظي
- پوهندوی سیدرحیم غفاري
- پوهنمل سیدمقیم حسیني

### اجتماعي علوم

- پوهنمل دوکتور همایون غفورزی
- پوهنمل دوکتور محمد سلیم مدني
- پوهنمل دوکتور سبحان الله شهاب
- پوهنمل محمد شریف ادیب
- پوهنمل رحمت الله حیدري
- پوهنمل حمیدالله نوري
- پوهنمل عبدالمتین میانی
- پوهنمل سید صبغت الله ابراهیمي



**پته:** غزني پوهنتون، د څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت، غزني – افغانستان

www.gu.edu.af

gu.n.journal@gu.edu.af

# لړلیک


| ګڼه | د مقالې عنوان | لیکوال/لیکوالان | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د غزني پوهنتون د محصلینو د خوړو د روغتیا ساتنې ارزونه | پوهندوی دوکتور نورالله احمدزی[۱*] او پوهنمل روح الله کمال[۲] | ۱ |
| ۲ | په غزني ولایت کې د غوښینو چرګانو د یوې روزنیزې دورې د عوایدو او لګښتونو پرتله کول | فضل محمد محمدي۱* او حبیب الله همایون۲ | ۱۴ |
| ۳ | محصولات نانویی در بخش‌های بهداشت و سلامت | سید روح الله موسوی[۱*]، کرامت الله امیری[۲]، گل حبیب حنیفی[۳] پوهنمل سید عبدالمقیم حسینی[۴] | ۳۰ |
| ۴ | تحلیل بلاغی اشعار محمدشریف سعیدی بر پایهٔ هنجارگریزی معنایی؛ با تکیه بر مجموعهٔ شعری «آهسته رفتن چاقو» | پوهنمل علی‌اکبر زاولی[1]*، پوهنیار محمد رضایی[2] | ۴۱ |
| ۵ | د مالیې څېړنه د اسلامي فقهې او افغانستان د مدني قانون په رڼا کې | پوهندوی دکتور محمدسلیم"مدني" | ۵۶ |
| ۶ | د بام په سر کرنه (Roof Gardening) | *محمد عمر " درویش[۱] محمد طارق درویش "[۲] | ۶۸ |
| ۷ | د خاورې سولرائزیشن او د نباتي افتونو، ناروغیو او هرزه بوټو په کنترول باندې د هغه اغیزي | پوهندوی سیدرحیم "غفاري" او پوهنیار سیدالرحمن "*[۱] صمیمي"[۲] | ۷۹ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې خنډونه او حل لارې | ¹او *پوهنمل وحیدالله امین پوهنمل احسان الله سعید² | ۹۷ |
| ۹ | تأثیرات حلقه‌برداری (Girdling) بر کیفیت و کمیت انگور بی‌دانه "کشمشی" | پوهنیار عبدالواسع تاج‌زاده ، پوهندوی غلام معروف *۱ فقیری ۲ و پوهندوی دوکتور شفیق الله رحمانی ۳ | ۱۰۹ |
| ۱۰ | Structural Analysis of sonnet 1 by William Shakespeare | پوهنیار خالد احمد سروري | ۱۲۲ |

# د غزني پوهنتون د محصلینو د خوړو د روغتیا ساتنې ارزونه

**پوهندوی دوکتور نورالله احمدزی[۱*] او پوهنمل روح الله کمال[۲]**

۱- کابل پوهنتون، وترنري علومو پوهنځی، حیواني روزنې څانګه

۲- غزني پوهنتون، کرنې پوهنځی، حیواني علومو څانګه

Rohullahkamal9@gmail.com

د تر لاسه کولو نېټه: (۱۴۴۵/۶/۲۳) د منلو نېټه (۱۴۴۵/۷/۲۸)

**لنډیز**

د خوړو روغتیا ساتنه په افغانستان کې د خوړو د خوندیتوب یوه مهمه برخه ګڼل کیږي، او همدارنګه کرنه او مالداري د کارموندنې، کاري بوختیاوو او د خوړو په اماده کولو کې مهمه ونډه ترسره کوي. په افغانستان کې کلیوال وګړي د مالداري او خوړو د خوندیتوب مهم عنصر ګڼل کیږي، همدارنګه خواړه د تولید تر مصرف ځای پورې په کافي اندازه روغتیا ساتنې ته اړتیا لري. نوموړې څېړنه چې د غزني پوهنتون زده کړیالانو د خوړو د روغتیا ساتنې د ارزونې په موخه ترسره کړل شویده، ارقام د پوښتنپاڼې له لارې راټول شویدي او بیا وروسته د SPSS پواسطه تجزیه شویدي. په نوموړې څېړنه کې ۸۰ تنه محصلین په تصادفي ډول غوره کړل شویدي. د څېړنې پایله ښکاره کوي چې اکثره محصلین (۷۰٪) عمرونه د ۲۰-۲۴ کلونو ترمنځ ده، همدارنګه اکثریت (۴۳،۸٪) د څلورم ټولګي اړوند دي چې په نوموړې څېړنه کې برخه اخیستې وه. پایلې ښکاره کوي چې اکثریت محصلین د خوړو د روغتیا ساتنې اړوند کافي پوهاوی نلري، د نوموړو ستونزو د حل په موخه د عامه پوهاوي په موخه د پروګرامونو د تدویر او د هیواد په کچه د خوړو د ساینس او تکنالوژي اړوند علمي برنامو، پوهنځیو او یا هم پوهنتونونو د ایجاد وړاندیز کوو.

**کلیدي ټکي**: غزني پوهنتون، زده کړیالان، خواړه، روغتیا ساتنه

## ۱. سریزه

د خوړو خوندیتوب لدې څخه ډاډ حاصلول دي چې خواړه د تهیه کولو او مصرف پرمحال د مصرف کوونکي لپاره کوم خطر نلري (WHO, 2004). نوموړي خواړه په ښه ډول ساتنې ته د تولید (مزرعه) تر دسترخوان پورې اړه لري (Bruhn and Schutz, 1999). د خوړو ناوړه ساتنه او د

روغتيا ساتنې کړنلارې په ځانګړې ډول په عنعنوي پخلنځايونو کې کيداى شي د يو زيات شمير خوړو اړوند ناروغيو د رامنځته کېدو باعث وګرځي (Jay et al., 1999). هر کال په ميليونونو کسانو په نړيواله کچه د ککړو خوړو د خوړلو له امله مړه او ناروغه کيږي چې اصلي علت يې د ککړو خوړو خوړل او د روغتيا ساتنې نه مراعات کول دي (Osaili et al., 2011). د خوړو د روغتيا ساتنې اړوند پوهې د لاسته راوړو لپاره معمولي سرچينې د پوهنتون په کچه مطالعه، شخصي، کورنيو او ملګرو، ډاکترانو، رسنيو، مجلو، مقالو، انټرنيټ، ښوونيزو بنسټونو، دولتي اداراتو، په ښوونځيو کې د پخلنځي د ټولګيو او تلويزوني نندارتونونو څخه کولاى شو لاسته راوړو ( Marklinder et al., 2020). ولې بدبختانه په افغانستان کې د خوړو د ساينس او تکنالوژي ملي پوهنتون نشتون، هر پوهنځي کې د خوړو د روغتيا ساتنې اړوند مضمون نه تدريس ددې عامل ګرځيدلي چې خلک د خوړو خونديتوب اړوند کمه اندازه معلومات لري، په افغانستان کې د خوړو د لاسته راوړو يواځينی سرچينه کرنه او مالداري ده ځکه د افغانستان د نفوس ٪۸۵ په کرنه او همدارنګه نور د ژوند ثبات په فعاليتونو پورې تړلي دي (Kamal and Nasiri, 2021).

د خوړو په ښه ډول د روغتيا ساتنې اړوند پنځه کليدي ټکي چې بايد د خوړو د روغتياساتنې په وخت کې په نظر کې ونيول شي ترڅو خوړو ته د انتاناتو د ليږد څخه مخنيوى وکړي چې هغه عبارت دي له (خواړه پاک وساتي، پاخه او خام خواړه جلا وساتي، په احتياط سره خواړه پاخه کړي، خواړه په مناسبه تودوخه کې وساتي او همدارنګه بهتره اوبه او مواد وکاروي) نوموړي کليدي ټکي د خوړو او روغتياساتنې د نړيوال سازمان لخوا وړانديز شوي دي (WHO, 2005). درى مهم فکتورونه د خوړو زهريت د پيښو په مخنيوي کې مهمه ونډه ترسره کوي چې نوموړي فکتورونه د خوړو سره د نيږدې کارکوونکو د پوهې، کړنلارې او کړو وړو څخه عبارت دي چې نوموړي فکتورونه په نوموړې څېړنه کې چې د غزني پوهنتون په زده کړيالانو ترسره کړل شوې ده څېړل شوي دي، ځکه تر دې مخکې په نوموړي پوهنتون کې په نارينه زده کړيالانو باندې دا ډول کومه څېړنه نده ترسره کړل شوې.

## موخې

د نوموړې څېړنې عمده موخې په لاندې ډول دي:

- د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې د غزني پوهنتون د زده کړيالانو د پوهې ارزونه.
- د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې د غزني پوهنتون د زده کړيالانو د تګلارې ارزونه.
- د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې د غزني پوهنتون د زده کړيالانو د کړو وړو ارزونه.

## ۲. مواد او کړنلاره

### ۱,۲ د څېړنې ساحه

نوموړې څېړنه چې د غزني په پوهنتون کې ترسره کړل شوې ده. د غزني ولایت د افغانستان په جنوب زون کې موقعیت لري، غزني د اقلیم له نظره یخ ژمی او همدارنګه ګرم او وچ اوړی لري (Kamal and Nasiri, 2021). د غزني ولایت ۱۸ ولسوالۍ لري، چې د غزني پوهنتون د نوموړي ولایت د مرکز اړوند قلعه جوز په سیمه کې چې د غزني –ګردیز د لویې لارې په سر موقعیت لري، غزني پوهنتون د کرنې، ښوونې او روزنې، اقتصاد، شرعیاتو، ژبو او ادبیاتو او همدارنګه د کمپیوټر ساینس د پوهنځیو لرونکی ده، په نوموړې څېړنه کې د کمپیوتر ساینس پوهنځی په استثنی د نورو ټولو پوهنځیو زده کړیالانو ګډون کړی دی.



**انځور (۱): غزني پوهنتون اړوند کرنې پوهنځی ودانۍ**

### ۲,۲ د ارقامو راټولول، تحلیل او تجزیه

په نوموړې څېړنه کې اعداد او ارقام د پوښتنپاڼې له لارې د ۸۰ زده کړیالانو څخه چې د مختلفو پوهنځیو څخه په تصادفي ډول غوره کړل شوي وو راټول کړل شوي دي، په لومړي سر کې یوه ازمویښتیزه څېړنه ترسره کړل شوه او بیا وروسته اصلي څېړنه د زده کړیالانو څخه د مخامخ مرکې کولو له لارې ترسره او لومړني ارقام په ایکسل کې ثبت او بیا وروسته د SPSS په وسیله تحلیل او تجزیه کړل شوي دي.

## ۳. پایله او بحث

نوموړې څېړنه چې د غزني پوهنتون ۸۰ تنو محصلینو باندې ترسره کړل شوې ده، چې په نوموړې څېړنه کې د محصلینو د لاندې ځانګړتیاوو ارزونه ترسره کړل شوېده:

۱ – برخه اخیستونکو (د غزني پوهنتون د محصلینو ) د شخصي معلوماتو ارزونه.

۲ – د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د غزني پوهنتون د محصلینو د پوهې ارزونه.

۳ – د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د غزني پوهنتون د محصلینو د تګلارې ارزونه.

۴ - د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د غزني پوهنتون د محصلینو د کړنلارې ارزونه.

**۱,۳ د برخه اخیستونکو زده کړیالانو شخصي معلوماتو ارزونه**

د ۱ دیاګرام د غزني پوهنتون د زده کړیالانو (۸۰ تعداد) شخصي ځانګړتیاوې چې په دې څېړنه کې ګډون لرلو ښکاره کوي. د څېړنې په دې برخه کې د څېړنې د ګډون کوونکو زده کړیالانو د عمر او ټولګي ځانګړتیاوې شاملې دي. ددې څېړنې د اکثریت ګډون کوونکو عمرونه د ۲۰-۲۴ کلونو ترمنځ وو(٪۷۰)، او ورپسې ۱۶-۲۰ کلونو عمر لرونکي (٪۲۱,۳)، د ۲۴-۲۸ کلونو عمر لرونکي(٪۷,۵) او همدارنګه هغه کسان چې عمرونه د ۲۸ کلونو پورته دي یوازې (٪۱,۳) دي. له بلې خوا په دې څېړنه کې برخه اخیستونکي محصلین اکثریت (٪۴۳,۸) د څلورم ټولګي محصلین دي چې په لاندې دیاګرام کې ښودل شوي دي.




**دیاګرام (۱): د څېړنې د ګډون کوونکو د عمر / سن ځانګړتیاوې**

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲).




**دیاګرام (۲): د څېړنې د ګډون کوونکو د ټولګي/ صنف ځانګړتیاوې**

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲).

### ۲,۳د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینو د پوهې ارزونه

د خوړو د روغتیاساتنې اړوند د ګډون کوونکو د پوهې کچه په موخه ۱۰ پوښتنې ترتیب شوې دي چې د هغوی ارزونه پکې ترسره شوې ده چې په ترتیب سره په لاندې جدولونو کې ښکاره کړل شوي دي.

**جدول (۱): د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینو د پوهې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| ګڼه | د خوړو د خرڅلاو پرمهال کومو څیزونو ته پاملرنه کوئ؟ | تعداد | سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د خوړو د تولید او ختم نیټه | ٦۴ | ۸۰ | ۸۰ |
| ۲ | د خوړو بیروني برخه | ۵ | ٦,۳ | ۸٦,۳ |
| ۳ | خوړو ته اضافه کړل شوي مواد | ۱ | ۱,۳ | ۸۷,۵ |
| ۴ | استاندارد نښې | ٦ | ۷,۵ | ۹۵,۰ |
| ۵ | نور څیزونه | ۴ | ۵,۰ | ۱۰۰ |

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲).

د (۱) جدول څخه څرګندیږي، چې اکثریت ګډون کوونکي (٪۸۰) د خوړو د خرڅلاو پرمهال د هغوی د تولید او ختم نیټه ته په زیاته اندازه نسبتاً نورو برخو(د خوړو بیروني ځانګړتیاوې، اضافه

کړل شوي مواد Food additives او همدارنګه د استاندارد نښې د بېلګې په ډول ISO 9001، ISO 22000، HACCP، حلال، GMP او داسې نور نړيوال تصديق پاڼې) ته پاملرنه کوي، همدارنګه نوموړې څېړنه د (Anne and Kethleen, 1999) پواسطه ترسره کړل شوې څېړنه سره چې د Missouri پوهنتون په محصلينو باندې ترسره شوې ده ښکاره کوي چې ٪۹۰ محصلين د خوړو د اخستلو پرمهال د هغوی د توليد او ختم نېټو ته پاملرنه کوي، ورته پايله ښکاره کوي.

**جدول (۲): د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې د زده کړيالانو د پوهې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| ګڼه | تاسې زياتره د کوم ډول اماده کړل شويو خوړو څخه استفاده کوی؟ | تعداد | سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | تازه اماده شوي خواړه | ۷۵ | ۹۳,۸ | ۹۳,۸ |
| ۲ | يخچالي خواړه | ۱ | ۱,۳ | ۹۵,۰ |
| ۳ | کنسرو شوي خواړه | ۱ | ۱,۳ | ۹٦,۳ |
| ۴ | رستورانتونو کې اماده شوي خواړه | ۲ | ۲,۵ | ۹۸,۸ |
| ۵ | نور | ۱ | ۱,۳ | ۱۰۰ |

سرچينه: د غزني پوهنتون د محصلينو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲).

د ۲جدول پايله ښکاره کوي چې د څېړنې اکثره ګډون کوونکي (٪۹۳,۸) د تازه اماده کړل شويو خوړو څخه ګټه اخلي، چې ددې اصلی علت په کورنيو کې په ګډه د خوړو څخه استفاده کول دي، د يخچالي او کنسرو کړل شويو خوړو څخه کمه ګټه اخيستنه، د برېښنا د نشتون او همدارنګه د هغوی د کره روغوالي د نشتون او همدارنګه په اکثره رستورانتونو کې روغتيا ساتنه په نظر کې نه نيول کيږي او اکثره خلک په رستورانتونو کې د خوړوله خوړلو څخه وروسته ناروغ کيږي.

**جدول (۳): د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې د زده کړيالانو د پوهې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| ګڼه | د خوړو لپاره د کوم ډول لوښو څخه ګټه اخلی؟ | تعداد | سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پلاستيکي | ۷ | ۸,۸ | ۸,۸ |
| ۲ | شيشه اي | ۵۷ | ۷۱,۳ | ۸۰,۰ |
| ۳ | اوسپنيز | ۱۴ | ۱۷,۵ | ۹۷,۰ |
| ۴ | قلعي | ۰ | ۰,۰ | ۹۷,۰ |
| ۵ | نور لوښي | ۲ | ۲,۵ | ۱۰۰ |

سرچينه: د غزني پوهنتون دمحصلينو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲)

د ۳ جدول پایله ښکاره کوي، چې د څېړنې اکثریت ګډون کوونکي( ٪۷۱,۳) د شیشه اي لوښو څخه نسبت اوسپنیزو، قلعي او نورو ډولونو څخه استفاده کوي، ځکه شیشه اي لوښي د خوړو د خرابوالي باعث نه ګرځي نور لوښي د خوړو کیفیت د خرابوالي باعث ګرځي او همدارنګه پخپل ترکیب کې داسې مواد لري چې په خوړو اغیزه کوي او بلاخره د مصرف کوونکو د روغتیا لپاره زیانمن تمامیږي.

**جدول (۴): د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینو د پوهې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| ګڼه | خواړه د یخچال په څو درجو کې ساتی؟ | تعداد | سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ۱ سانتي ګراد کمه | ۱۱ | ۱۳,۸ | ۱۳,۸ |
| ۲ | ۱-۵ سانتي ګراد | ۱۸ | ۲۲,۵ | ۳۶,۳ |
| ۳ | ۶-۱۰ سانتي ګراد | ۸ | ۱۰,۰ | ۵۸,۸ |
| ۴ | ۱۱-۱۵ سانتي ګراد | ۸ | ۱۰,۰ | ٦۸,۸ |
| ۵ | بې ځواب | ۲۵ | ۳۱,۳ | ۱۰۰ |

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲)

د ۴ جدول پایله ښکاره کوي چې اکثریت ګډون کوونکي (٪۳۱,۳) ددې پوښتنې په ځواب کې بې ځوابه پاتې شوي دي، چې علت هم د یخچال سره د هغوی نه بلدتیا او په کورونو او ځانګړې ډول کلیوالو سیمو کې د یخچال ګټه نه اخیستنه او په ټوله کې د بریښنا ستونزه ګڼل کیږي، او ورپسې هغه محصلین چې په کورنو کې یخچال استفاده کوي (٪۱۸) خواړه د ۱-۵ درجې سانتی ګراد په یخچال کې ساتي.

**جدول (۵): د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینو د پوهې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| ګڼه | که د خوړو د خوړلو وروسته ناروغ شوي یاست لاندې نښې مو لیدلې دي؟ | تعداد | سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | نس ناسته | ۳۰ | ۳۷,۵ | ۳۷,۵ |
| ۲ | کانګې | ۲ | ۲,۵ | ۴۰,۰ |
| ۳ | تبه | ۵ | ٦,۳ | ۴٦,۳ |
| ۴ | ګېډې درد | ۱۹ | ۲۳,۸ | ۷۰,۰ |
| ۵ | پورتني ټول ذکر شوي حالتونه لیدل شویدي | ۲۴ | ۳۰,۰ | ۱۰۰ |

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینوڅخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲)

د ۵ جدول پایله ښکاره کوي چې د څېړنې اکثریت ګډون کوونکي (۳۷,۵٪) د خوړو د خوړلو وروسته د ناروغه کیدو په حالت کې نس ناسته ورته پیداشوې ده او ورپسې هغوی ته کانګې، تبه او د ګېډې درد (ټول حالتونه) پیدا شوي دي، چې ددې علت د ککړو خوړو او هغه باکتریا موجودیت دی چې په نوموړو خوړو کې وجود لري. مخکینی څېړنه ښکاره کوي چې د خوړو د خوندیتوب په برخه کې پوهه د هغوی د عمر په زیاتوالي، تحصيلي کچه، خوړو د تهیه کولو تجربو په زیاتوالي سره زیاتوالی مومي (Unusan, 2007).

### ۳,۳ د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینو تګلاره

د غزني پوهنتون د مختلفو پوهنځیو د محصلینو د روغتیا ساتنې په برخه کې د تګلارې ارزونه سرته رسیدلې چې په دې برخه کې ۱۰ پوښتنې د دریو ځوابونو موافق، بی تصمیم او مخالف پواسطه پوښتل شوې او ځوابونه ترلاسه شوي دي چې د ٦ جدول کې ښکاره کړل شوي دي.

**جدول (٦): د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینو د تګلارې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| ګڼه | پوښتنې | موافق | | بی تصمیم | | مخالف | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه |
| ۱ | خام او پاخه خواړه باید په جلا ډول وساتل شي. | ۷۵ | ۹۳,۸ | ۳ | ۳,۸ | ۲ | ۲,۵ |
| ۲ | خام خواړه باید د یخچال په پورتني او پاخه خواړه باید د یخچال په لاندیني برخه کې وساتل شي. | ۴۹ | ٦۱,۳ | ۱۴ | ۱۷,۵ | ۱۷ | ۲۱,۳ |
| ۳ | د خوړو زهریت اکثراً د باکتریا پواسطه منځته راځي. | ۵۵ | ٦۸,۸ | ۱۵ | ۱۸,۸ | ۱۰ | ۱۲,۵ |
| ۴ | خواړه باید یوځل ګرم او وخوړل شي دوهم ځلې ګرم او ونه خوړل شي. | ۵۴ | ٦۷,۵ | ۷ | ۸,۸ | ۱۹ | ۲۳,۸ |
| ۵ | د خوړو د زهریت کنترول د دولت دنده ده. | ۵۸ | ۷۲,۵ | ۸ | ۱۰,۰ | ۱۴ | ۱۷,۵ |
| ٦ | د چرګانو، ماهیانو او نورو څارویو خامه غوښه باید یو د بل سره اړیکه پیدا نکړي. | ۵٦ | ۷۰,۰ | ۱۴ | ۱۷,۵ | ۱۰ | ۱۲,۵ |
| ۷ | خامه غوښه باید په یخچال کې د سبزی لاندې کېښودل شي. | ۳۹ | ۴۸,۸ | ۱۸ | ۲۲,۵ | ۲۳ | ۲۸,۸ |
| ۸ | غوره ګڼل کیږي چې د چرګانو چاک او درز کړل شوې هګۍ استفاده کړل شي. | ۲۴ | ۳۰,۰ | ۸ | ۱۰,۰ | ۴۸ | ٦۰,۰ |
| ۹ | د چرګانو ککړه هګۍ که په احتیاط سره ماته کړل شي کولای شو بیدون د وینځلو څخه استفاده کړو. | ۳۳ | ۴۱,۳ | ۹ | ۱۱,۳ | ۳۸ | ۴۷,۵ |
| ۱۰ | هغه خواړه چې زهریت لرونکي وي خوند، رنګ او بد بوی لرونکي وي. | ٦۸ | ۸۵,۰ | ۷ | ۸,۸ | ۵ | ٦,۳ |

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲)

د ٦ جدول پایله ښکاره کوي چې د څېړنې (۹۳,۸٪) گډون کوونکي موافق وو چې خام او پاخه خواړه باید یو د بل څخه په جلا ډول وساتل شي، نوموړې پایله د Askarian et al., 2004 د څېړنې سره چې ٪۹۹,۱ ددې سره موافق وو چې خام او پاخه خواړه باید جلا وساتل شي مطابقت لري، له بلې خوا د Base et al., 2006 څېړنه سره چې ٪۵۹,۳ ورسره موافق دي ورته والی نه لري. همدارنگه د (٪۲۲,۵) شاوخوا کې په دې اړوند بې تصمیم وو چې باید خامه غوښه په یخچال کې تر سبزی لاندې کېښودل شي او همدارنگه (٪٦۰) ددې سره مخالف وو چې کولای شو د درز کړل شوې یا ماتې شوې هگۍ څخه استفاده وکړل شي. د نوموړې څېړنې پایله ښکاره کوي چې ٪۷۰ محصلین ددې سره موافق وو چې باید د چرگانو، ماهیانو او نورو څارویو خامه غوښه باید یو د بل سره اړیکه پیدا نه کړي، چې نوموړې څېړنه د (Angelillo et al., 2000) څېړنې سره نیږدیوالی لري.

### ۴,۳ د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینوکړنلاره

د غزني پوهنتون دمحصلینو کړنلاره چې په دې څېړنه کې د مختلفو پوهنځیو څخه د ۸۰ په تعداد گډون کړی وو د ۱۰ پوښتنو پواسطه چې د څلورو ځوابونو (نخیر، ځینې وختونه، اکثره وختونه او همیشه) څلورو ځوابونو لرونکي وو ترسره کړل شوه، چې د ۷ جدول کې ښودل شویدي.

**جدول (۷): د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینود کړنلارې ارزونه (تعداد=۸۰)**

| گڼه | پوښتنې | نخیر | | بعضې وختونه | | اکثره وختونه | | همیشه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه |
| ۱ | د خوړو د اخیستلو پر مهال د هغوی د ځای (لنده بل، پاکي او روغتیا ساتنه) په نظر کې نیسی؟ | ٦ | ۷,۵ | ۱۲ | ۱۵,۰ | ۱٦ | ۲۰,۰ | ۴٦ | ۵۷,۵ |
| ۲ | د خوړو د اخیستلو پرمهال د هغوی د ختم نیټه گوری؟ | ۵ | ٦,۳ | ۴ | ۵,۰ | ۱٦ | ۲۰,۰ | ۵۵ | ٦۸,۸ |
| ۳ | د خوړو د خوړلو او اماده کولو مخکې خپل لاسونه پریمنځی؟ | ۳ | ۳,۸ | ۰ | ۰,۰۰ | ۱۲ | ۱۵,۰ | ٦۵ | ۸۱,۳ |
| ۴ | د خوړو د ښه والي او خرابوالي په موخه د هغوی خوند گوری؟ | ۸ | ۱۰,۰ | ۱۲ | ۱۵,۰ | ۱۸ | ۲۲,۵ | ۴۲ | ۵۲,۵ |
| ۵ | خامه هگۍ او هغه خواړه چې پخپل ترکیب کې خامه هگۍ لري خوری؟ | ۲۴ | ۳۰,۰ | ۳۳ | ۴۱,۳ | ۲۱ | ۲٦,۳ | ۲ | ۲,۵ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | کله چې غوښه په ښه ډول نه وي پخه شوې آیا هغه خوری؟ | ۵۱ | ٦۳,۸ | ۲۲ | ۲۷,۵ | ۵ | ٦,۳ | ۲ | ۲,۵ |
| ۷ | د سبزي د پریمنځلو په موخه د پتاس څخه ګټه اخلی؟ | ۳۴ | ۴۲,۵ | ۱٦ | ۲۰,۰ | ۲۲ | ۲۷,۵ | ۸ | ۱۰,۰ |
| ۸ | مخکې د لاسکښو د استعمال څخه خپل لاسونه پریمنځی؟ | ۲۴ | ۳۰,۰ | ۱٦ | ۲۰,۰ | ۲۰ | ۲۵,۰ | ۲۰ | ۲۵,۰ |
| ۹ | د لاسکښو د ویستلو وروسته خپل لاسونه پریمنځی؟ | ۷ | ۸,۸ | ۱٦ | ۲۰,۰ | ۲۳ | ۲۸,۸ | ۳۴ | ۴۲,۵ |
| ۱۰ | کله چې د خامو خوړو څخه ګټه اخلی لاسکښې استفاده کوی؟ | ۳۰ | ۳۷,۵ | ۲٦ | ۳۲,۵ | ۱۱ | ۱۳,۸ | ۱۳ | ۱٦,۳ |

سرچینه: د غزني پوهنتون د محصلینو څخه راټول کړل شوي ارقام (کال ۱۴۰۲)

د۷ جدول پایله ښکاره کوي چې د ۵۷,۵٪ د څېړنې ګډون کوونکي د خوړو د اخیستلو پر وخت کې همیشه د هغوی ځای په نظر کې نیسي. او همدارنګه ٦۴,۸٪ بیا د هغوی د ختم نیټه د همیشه لپاره ګوري، د بلې خوا څخه ٦۳,۸٪ خامه غوښه نه خوري او هغوی د نخیر ځواب په ښه کړی ده.

**۴. پایله**

نوموړې څېړنه چې د غزني په پوهنتون کې ترسره شوې ده اکثریت ګډون کوونکي یې د څلورم ټولګي څخه دي او همدارنګه اکثریت د ۱٦-۲۰ کلونو ترمنځ عمر لري. ددې څېړنې پایلو ته په کتو سره د څېړنې ګډون کوونکي د خوړو د روغتیا ساتنې اړوند ځینو برخو کې کافي اندازه پوهې درلودل ښکاره کوي، د خوړو د تولید او ختم نیټه (٪۸۰) پواسطه کتل. او همدارنګه د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې ستونزې د استاندارد نښو نه کتل یوازې (٪۷,۵) محصلین نوموړې نښې ګوري، همدارنګه (٪۹۳,۸) د تازه اماده کړل شویو خوړو څخه ګټه اخلي او ډیره لږه سلنه یې د کنسرو شویوخوړو او د رستورانتونو د خوړو څخه ګټه اخلي، له بلې خوا هغوی د خوړو د مصرف لپاره شیشه اي لوښي (٪۷۱,۳) استفاده کوي او یوازې (٪۸,۸) بیا پلاستیکي لوښي کاروي. همدارنګه یوه عمده ستونزه دا وه چې یوازې (٪۲۲,۵) خواړه د یخچال د ۱-۵ درجې سانتي ګراد کې ساتي چې علت د یخچال نه استفاده کول، بریښنا ستونزه ده. له بلې خوا د خوړو د روغتیا ساتنې په برخه کې د محصلینود تګلارې سلنه نسبتاً ښه وه چې (٪٦۳,۹) د خوړو روغتیا ساتنې غوره تګلاره درلوده. همدارنګه په ټیټه کچه محصلینو د خوړو د روغتیا ساتنې اړوند کړنلاره لرله او یوازې (٪۴٦,۵) سلنه په ښه ډول د خوړو روغتیا ساتنې کړنلاره ترسره کوي او ستونزه د هغوی د لاسکښو څخه ګټه نه اخیستل، د سبزیجاتو

پريمنځلو او نورو برخو کې درلوده. چې ددې علت د خوړو د روغتيا ساتنې د مضمون نه تدريس کول او همدارنگه ددې اړوند مسلکي کاري سيمنارونو او ترينگونو نه موجوديت بلل شوی. په دې څېړنه کې د کرنې پوهنځي زده کړيالانو د خوړو د روغتيا ساتنې اړوند پوهه نسبتاً نورو پوهنځيو ته يو څه اندازه زياته وه ځکه هغوی د خوړو خونديتوب اړوند مضمون په لومړي ټولگي کې لولي.

**۵. وړانديزونه**

د نوموړې څېړنې پايلې ته په کتو سره لاندې وړانديزونه ذکر کوو:

۱ – په افغانستان کې بايد د خوړو د ساينس او تکنالوژی ملي پوهنتون رامنځته شي ترڅو ټولنې ته ځوان او متعهد کادرونه وړاندې کړي او د خوړو اړوند ستونزې حل او هيواد مو د خوړو له اړخه پخپل ځان بسيا هيواد باندې بدل شي.

۲ – د لوړو زده کړو وزارت بايد د کرنې يا وترنري په پوهنځيو کې د خوړو د تکنالوژۍ څانگه په جبري ډول رامنځته کړي.

۳ – د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې بايد د مسلکي کسانو لخوا سيمنارونه او ورکشاپونه داير کړل شي ترڅو محصلين او عام خلک د خوړو د اخيستلو پرمهال د هغوی د روغوالي څخه باخبره و اوسي.

۴ – د خوړو د روغتيا ساتنې او په ټوله کې د روغتيا ساتنې اړوند بايد عامه پوهاوی رامنځته کړل شي ترڅو خلک خپلې شخصي او چاپيريالي روغتيا ساتنې ته متوجې شي.

۵ – د ککړو خوړو د استفاده څخه د ډډې کولو په موخه بايد عامه پوهاوی خلکو ته ورکړل شي او په دې برخه کې بايد مسلکي کسانو ته په ځانگړي ډول د خوړو د روغتيا ساتنې په برخه کې زده کړه ورکړل شي.

۶ – دولت بايد د هوټلونو، رستورانتونو، قصابيو او نورو عامه ځايونوڅخه چې خلک ترينه خواړه استفاده کوي په جدي ډول څارنه وکړي ترڅو هلته د خوړو روغتيا ساتنه مراعات او په ټولنه کې د خوړو اړوند ناروغيو کې د پام وړ کموالی رامنځته کړل شي.

**اخځليکونه**

1. Angelillo, I.F., Viaggiani, N.M.A., Rizzo, L. and Bianco, A. 2000. Food handlers and foodborne diseases: knowledge, attitudes, and reported behavior in Italy. *J. Food Protect*. 63(3): 381-385.

2. Anne, B. and Kathleen, J. 1999. Knowledge, attitude, and behaviors of college students regarding the nutrition labeling Education Act food label. *J. Am. Diet. Assoc*. 99: 445-449.
3. Askarian, M., Kabir, G., Aminbaig, M., Memish, Z.A. and Jafari, P. 2004. Knowledge, attitudes and practices of food service staff regarding food hygiene in Shiraz, Iran". Infect. *Control Hosp. Epidemiol*. 25(1): 16-20.
4. Bas, M., Ersun, A.S. and Kivanc, G. 2006. The evaluation of food hygiene knowledge, attitudes and practides of food handlers' in food businesses in Turkey. *Food Control* 17: 317-322.
5. Bruhn, C.M. and Schutz, H.G. 1999. Consumer food safety knowledge and practices. *J. Food Safe*. 19: 73-87.
6. Jay, L.S., Comar, D. and Govenlock, L.D. 1999a. A video study of Australian domestic food-handling practices. *J. Food Protect*. 62(11): 1288-1296.
7. Kamal, R., Nasiri, F. 2021. Evaluation of food hygiene among female students in Ghazni, Afghanistan. *E-planet*, 19 (2): 117-127.
8. Marklinder, I., Ahlgren, R., Blucher, A., Börjesson, S.M.E., Hellkvist, F., Moazzami, M. and DanielssonTham, M.L. 2020. Food safety knowledge, sources thereof and self-reported behaviour among university students in Sweden. *Food Control* 113: 107130.
9. Osaili, T., Obeidat, B., Abu Jamous, D., and Bawadi, H.A. 2011. Food safety knowledge and practices among college female students in north of Jordan. *Food Control* 22(2): 269-276.
10. Unusan, N. 2001. Yumurtanın evlerde hijyenik olarak kullanılmasının belirlenmesi aras¸tırması. *Sag˘lık ve Toplum* 11(3): 57-60. WHO. 2004. Food and H
11. WHO. 2004. Food and Health in Europe: A New Basis for Action, WHO, Geneva, WHO regional publications European series, No. 96.
12. WHO. 2005. Enterohaemorrhagic Escherichia coli (EHEC). WHO, Geneva, Fact Sheet No. 125 available at: www.who.int/mediacentre/factsheets/ fs125/en/index.html (accessed 10 July 2008).

# په غزني ولایت کې د غوښینو چرگانو د یوې روزنیزې دورې د عوایدو او لگښتونو پرتله کول

**فضل محمد محمدي۱ * او حبیب الله همایون۲**

۱. غزني پوهنتون، کرنې پوهنځي، کرنیز اقتصاد او پراختیا څانگې استاد

۲. غزني پوهنتون، کرنې پوهنځي، د هارتیکلچرڅانگې استاد

*fazal.mohammady@gmail.com

**د تر لاسه کولو نېټه:** (۱۴۴۵/۶/۲۸) **د منلو نېټه** (۱۴۴۵/۸/۱)

**لنډیز**

د غوښینو چرگانو روزنې فارمونه عاید لرونکي فعالیتونه دي او د ټولنې زیاتو خلکو ته کاري فرصتونه برابروي. دغه څېړنه په غزني ولایت کې د غوښینو چرگانو د یوې روزنیزې دورې د عوایدو او لگښتونو پرتلې ترسرلیک لاندې ترسره شوې، موخه یې د غوښینو چرگانو د یوې روزنیزې دورې د عوایدو او لگښتونو پرتله کول دي. د ساده تصادفي نمونې نیونې دکړنلارې په واسطه د غوښینوچرگانو روزنې ۶۰ فارمونه انتخاب شوي لومړني ارقام د پوښتنپاڼې په واسطه له فارم لرونکو را ټول شوي او د ارقامو تحلیل د تشریحي احصائیې او اقتصادي سنجشونو له مخې ترسره شوي. موندنې ښیي چې په اوسط ډول في فارم ۷۴۳۴۵۶،۸۹ افغانۍ عواید، ۶۷۸۸۳۶،۶۴ افغانۍ لگښتونه او ۶۴۶۲۳،۲۶ افغانۍ خالصه گټه لاسته راغلې، د عامل- محصول نسبت یې ۱:۱،۰۹ ، دخالص عایداتو- لگښت نسبت یې ۱:۰،۰۹۵ او في چرگوړي اوسط گټه ۳۶،۶۶ افغانۍ ښودل شوي دي، د غوښینو چرگانو د فارمونو د موقعیت لیرې والی، د فارم لرونکو بیسوادي، د همکارۍ د فرهنگ نشتون او د فارم لرونکو لخوا د کره او باوري معلوماتو نه ورکول، د څېړنې پر وړاندې پرتې ستونزې ښودل شوي دي. داسې وړاندیز کیږي چې د دغې څېړنې موندنې امارتي او غیر امارتي مسئولین و هڅوي چې د غوښینو چرگانو روزنې فرصتونه رامنځته کړي ترڅو د غوښینو چرگانو روزونکو بزگرانو عواید زیات او لگښتونه راکم کړي.

**کلیدي ټکي**: روزنیزه دوره، عواید، غزني ولایت، غوښین چرگان، لگښتونه

**۱.سریزه**

کرنيز صنعت د ټولنيز، سياسي، تخنيکي او اقتصادي اجزاوو په درلودلو سره د نورو سکتورونو په پرتله خورا مهم او ځانگړی ځای لري. د کرنې سکتور نه يواځې د خلکو اساسي اړتياوې پوره کوي بلکې د پام وړ اقتصادي اغيزې لري او د کرنې په بنسټ تشبثات، بهرنۍ سوداگري او ملي عايداتو په رامنځته کولوکې مهم رول ترسره کوي(Tosun and Oguz,20212). د کرنې سکتور يو مهم سکتور ده چې د هيواد د داخلي ناخالصو توليداتو په ترکيب کې ۳۳,۷ سلنه رول لري او د اټکل له مخې ۶۰ سلنه د ټولنې د خلکو په گمارنې کې رول ترسره کوي. د افغانستان د اقتصاد يو بل مهم سکتور د مالداري فرعي سکتور ده چې د د اخلي ناخالصو توليداتو په ترکيب کې ۱۵ سلنه رول لري(Muradi and Boz 2018). مالداري د متوازنې او صحي تغذيې په برابرولو، د کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د پانگې د ژر راگرځيدلو، کورنيو سيستمونو ملاتړ کولو او د کرنې د بيارغونې د تخنيکونو پراختيا ورکولو کې رول ترسره کوي(Tosun and Oguz,20212).

د غوښينو چرگانو روزنه د کرنې او مالدای د سکتور له مهمو برخو څخه ده او په زياته اندازه هيوادوال د غوښينو چرگانو د محصولاتو له پلور څخه عوايد لاسته راوړي. دغه حيواني محصولات د ښه کيفيت غذايي موادو درلودونکي دي او د انسانانو د روغتيا لپاره اړين بلل کيږي. د حيواني محصولاتو داندازې زياتول او د هغوی د کيفيت ښه کول يوه اړينه موضوع بلل کيږي، يو گڼ شمير پوهان په دې اند دي چې که چيرته د حيواني محصولاتو د توليد سطحه له اوسني حالت څخه لوړ نشي نو په نږدې وخت کې به انسانان د حيواني محصولاتو له کمښت سره مخامخ شي(Azeemi,2015).

د چرگانو روزنې صنعت زياتو خلکو ته د دندې فرصتونه برابروي. د چرگانو د غوښې توليد د انسانانو د پروتينونو په زياتوالي کې اغيزناک رول تر سره کوي. د چرگانو غوښه د پروتين يوه منل شوې سرچينه ده، لوړ بيالوژيکي ارزښت لري او په نسبي ډول سره د زياتو ضروري امينو اسيدونو درلودونکې ده. سربيره پردې، هغه د نورو اړينو غذائي موادو څخه هم تشکيل شوې، کوم چې ويټامينونه او منرالونه پکې شامل دي(Beskiاو همکاران۲۰۱۵).

په افغانستان کې د غوښينو چرگانو روزنه د کرنيزو تشبثاتو يوه نوعه ده او د هيواد زياتره وگړي په همدغه تشبث کې په کار کولو لگيا دي او د کليوالي کورنيو د عايد يوه ښه منبع گڼل کيږي. او د منظمو پراختيايي پروگرامونو په پلي کيدلو سره کولای شي د کليوالي خلکو په اقتصاد او عايد کې د پام وړ بدلون راولي.

دا چې په هيواد کې دکرنې او مالداري په سکتور کې په لوړه کچه بزگران په کار کولو بوخت دي، ولې بيا هم متأسفانه د نوروگاونډيو هيوادونو په پرتله د افغانستان د کرنې او مالداری د توليد سطحه په ډيره ټيټه کچه کې قرار لري، د ماهروکسانو نشتون ، د غذائې موادو کمښت، بېلا بېلې ناروغی، د اصلاح شويو نسلونو نه موجوديت او نور علتونه کيدای شي چې د کرنې او مالداری د توليد سطحه ټيټه کړي . که چيرته دغو ستونزو ته حل لاره پيدا شي کولای شو، چې په ډير کم وخت کې د غوښينو چرگوړو له روزنې څخه لوړ عايد لاسته راوړو(اعظمي، ۲۰۱۵).

په آخرکې په غزني ولايت کې د غوښينو چرگانو روزنې د ودې او پرمختگ لپاره به د حل لارې وړاندې شي او همدارنگه دغه څېړنه به د هغو کسانو لپاره چې د غوښينو چرگانو روزنې په برخه کې په راتلونکي کې څېړنې کوي گټور تمام شي. د دغې څېړنې اصلي موخې په غزني ولايت کې د غوښينو چرگانو د يوې روزنيزې دورې د عوايدو او لگښتونو پرتله کول دي.

**۲.د ستونزې ارايه/ مسئلې بيان**

د کرنې سکتور د پرمختيايي هيوادونو لپاره زيات مهم سکتور دی، هغه د زياتيدونکي نفوس لپاره لومړنی اړتياوې او د کليوالو خلکو لپاره د گمارنې فرصتونه برابروي او د ملي عوايدو او صادراتو په زياتوالي کې مرسته کوي. د کرنې سکتور همدارنگه د صنعت د سکتور لپاره بشري ځواک او خام توکي برابروي؛ او د توليد د عواملو (کيمياوي موادو او کرنيز ماشين الاتو) لپاره چې د بېلابېلو صنعتونو پواسطه سره منځ ته راغلي دي، تقاضا برابروي(Boz او همکاران، ۲۰۰۵).

کرنيز توليد د هيوادونو د اقتصادي پرمختيا يو مهم رکن دی. دا يو قاطع امر دی چې دغه سکتور او گټورتوب بايد حيواني توليد ته وهڅول شي (Gollin اوهمکاران، ۲۰۱۱) مالداري او په ځانگړي ډول د چرگانو روزنه د کرنې د سکتور مهمه او اړينه برخه ده او دغه برخه تر نبات کمه نه ده، او د چرگانو روزنې د برخې ايجادول د حيواني توليداتو يوه مهمه برخه ده او د چرگانو غوښه د صنعتي او تجارتي ارزښتونو لرونکې ده (Kanno او همکاران، ۲۰۱۱).

غوښين چرگان روزل هم د کرنيزو تشبثاتو يو مهم ډول ده چې زياتو خلکو ته يې د کار زمينه برابره کړې ده. دا چې په غزني ولايت کې د غوښينو چرگانو فارمونه په زيات شمير موجود دي، د غزني ولايت اوگاونډيو ولايتونو لپاره غوښه توليدوي. دلته د غزني په ولايت کې د غوښينو چرگانو د روزنې په برخه کې ډيرې ستونزې وجود لري. کوم کسان چې د غوښينو چرگانو د روزنې په فارمونو پانگه اچونه کړې ده د غوښينو چرگانو روزنې په برخه کې له پانگې اچونې څخه ناخوښ دي. زيات خلک بيا د غوښينو چرگانو روزنې په برخه کې پانگې اچونې ته زياته ليوالتيا لري، ولې په دې برخه کې د معلوماتو د نه درلودلو له امله زړه نا زړه دي چې د دې علمي څېړنې په وسيله به تر يوه حده دا ستونزې و سپړل شي او حل لارې به ورته پيدا شي.

**۳. تیرو آثارو ته کتنه**

Kalla او همکارانو (۲۰۱۵) موندلي چې متوسط مجموعي متحول لگښتونه ۳۱ .۶۲۰۶۳۳۳ نایجریایې نیري شوي دي چې له دغې جملې څخه د غذا لگښت،دیو ورځني چرگوړي لگښت او د غوښینو چرگانو د مرگ ژوبلې لگښت په ترتیب سره ۱۳ .۵۸ سلنه، ۱۳ .۱۹ سلنه او ۲۴ .۹ سلنه د ټولو مجموعي لگښتونو جوړوي. او ټول عواید بیا د غوښینو چرگانو له پلور څخه تقریبا ۴۴ .۷۶۳۹۶۹ نایجریایې نیري تخمین شوي دي.

Baba او همکارانو (۲۰۱۶) له څېړنې دا پایله ترلاسه کړې چې ۳۴ سلنه د کوچنیو غوښینو چرگانو فارم لرونکي د ۴۱-۵۰ کلونو په مابین کې عمر درلود، ۶۷ سلنه یې نارینه وو، ۷۳ سلنه یې د واده درلودونکي وو، ۸۴ سلنه د غوښینو چرگانو فارم لرونکي رسمي زده کړې درلودې، ۵۹ سلنه فارم لرونکو کرنه اصلي مسلک وو، ۹۲ سلنه فارم لرونکو د کورنۍ د غړو تعداد یې ۱- ۱۰ تنو پورې وو او د ۳۵ سلنه بزگرانو میاشتني عاید د ۱۰۰۰۰-۲۰۰۰۰ نایجریایې نیري وو. متوسط مجموعي لگښتونه یې في چرگوړي ۸۵ نایجریایي نیرې او متوسط مجموعي عاید یې ۵۹۰ نایجریایي نیرې او دفارم خالصه گټه في چرگوړي ۵۰۵ نایجریایي نیرې وو. د غوښینو چرگانو د فارم لرونکو تر ټولو لویه ستونزه د غذا لوړ لگښتونه ښودل شوي وو او همدارنگه د کوچني اندازې چرگوړو تولید د څېړنې په ساحه کې گټور ثابت شوي او د غوښینو چرگانو روزونکو لپاره یې گټورتوب درلود او اساسي ستونزه یې د غذا لوړ لگښت پېژندل شوی وو.

Onuk او همکارانو (۲۰۱۷) له څېړنې څخه دا پایله ترلاسه کړې چې ۶۰ سلنه د چرگانو روزونکي نارینه وو ۳ .۵۸ سلنه بزگران په درېیمه درجه تعلیمي سطحه کې وو، ۵۰ سلنه له ۱-۵ کورنۍ غړي درلودل او ۷ .۳۶ سلنه له ۶-۱۰ کلونو په فارم کې تجربه درلوده. همدارنگه د عوایدو او لگښتونو پایله ښیي چې د چرگانو مجموعي عواید ۶۷ .۳۳۱۹۴۱ نایجریایي نیرې ښودل شوې چې مجموعي لگښتونه ۹۹ .۱۶۲۱۶۷ نایجریایي نیرې او ناخالص عواید او خالص عواید یې ۷۷ .۱۸۲۱۷۷ نایجریایي نیرې او ۶۱ .۱۶۹۸۳۳ نایجریایي نیرې ښودل شوي وي.

Azeez and Akbay (۲۰۲۱). له خپلې څېړنې څخه دا پایله ترلاسه کړه چې په فارم کې د چرگانو مجموعي زیاتوالی، د مرگ ژوبلې اندازه او د غذایي موادو لگښتونه په تولید باندې مهم اغیز لري; همدارنگه دا سې پایله یې ترلاسه کړې چې د چرگوړو د فارمونو په ټولو گروپونو کې ترټولو زیات لگښت د غذا لگښت راغلی دی چې ۳ .۵۸ سلنه د ټولو لگښتونو جوړوي. او د عوایدو او لگښتونو نسبت یې ۲۸ .۱ ښودل شوی دی.

**موخې**

**اصلي موخه**

- په غزني ولايت کې د غوښينو چرگانو د يوې روزنيزې دورې د عوايدو او لگښتونو پرتله.

**فرعي موخې**

- د غوښينو چرگانو د يوې روزنيزې دورې د خالصې گټې پيداکول.
- د غوښينو چرگانو د يوې روزنيزې دورې د عامل- محصول نسبت پيداکول.
- د غوښينو چرگانو د يوې روزنيزې دورې د لگښتونو- خالص عايداتو نسبت پيداکول.
- په يوه روزنيزه دوره کې د يو چرگوړي منځنۍ گټه پيداکول.

**۴. د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

- آيا په غزني ولايت کې د غوښينو چرگانو يوه روزنيزه دوره عوايد او لگښتونه پرتله شوي؟

**فرعي پوښتنې**

- آيا د غوښينو چرگانو په روزنيزې دورې کې خالصه گټه شتون لري؟
- آيا د غوښينو چرگانو روزنې په يوه روزنيزه دوره کې د عامل-محصول نسبت شتون لري؟
- آ يا د غوښينو چرگانو روزنې په يوه روزنيزه دوره کې د لگښتو- خالص عايداتو نسبت شتون لري؟
- آيا په يوه روزنيزه دوره کې د يو چرگوړي منځنۍ گټه شتون لري؟

**۵. د څېړنې ميتود**

دغه څېړنه چې په غزني ولايت کې د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو کې ترسره شوي ده تطبيقي بڼه لري او د ساحوي (سروې) ميتود څخه استفاده شوې لومړني ارقام د غوښينو چرگانو روزنې له فارمونو څخه د پوښتنپاڼې په ډول او دوهمي ارقام بيا د انترنيتي صفحو، معتبرو کتابونو، مجلو او ژورنالونو څخه راټول شوي دي او پکې له تشريحي احصائيې او اقتصادي سنجشونو استفاده شوې ده. د څېړنې د پوښتنپاڼې د حقيقت او واقعيت د معلومولو په پار د متخصيصينو نظر اخيستل شوی او د رښتياوالي (Reliability) د معلومولو لپار د الفاء کرو نباخ ضريب څخه گټه اخيستل شوې چې پايله يې ۰،۸۶ وو چې د پوښتنپاڼې لپاره د ثبات بيانونکې ده. دغه څېړنه د غزني ولايت د مرکز په شمول په ټولو ولسواليو کې ترسره شوې ده، د غزني ولايت کې د کرنې، اوبولگولو او

مالداري ریاست او د غوښینو چرگانو د اتحادیې په شتون کې دغوښینوچرگانو د فارمونو کره شمیر معلوم نه وو نو دې ستونزې ته په کتلو سره د نمونې اندازې د تعیین لپاره د کوکران د نمونې نیونې له کړنلارې څخه په استفادې ۹٦ سلنه نارینه د غوښینو چرگانو فارم لرونکي او ۴ سلنه بیا ښځینه فارم لرونکي د ۹۵ سلنه اطمینان او ۵ سلنې خطاء سره انتخاب شوي دي او پکې له ساده تصادفي نمونې نیونې میتوڅخه استفاده شوې ده.

$$\frac{z2pq}{d2} = \frac{1.96^2(0.96*0.04)}{0.05^2} = 60 \text{ n=}$$

**۱,۵ سلنه او فریکونسي:** که چیرته د هرې کتگوری فریکونسي په سل کې ضرب شي او د فریکونسي په مجموعي شمیر وویشل شي سلنه لاسته راځي.

**۲,۵ اوسط:** که چیرته د یوه بخش د ټولو نمراتو مجموعه د ځواب ویونکو په تعداد وویشل شي د نمونې اوسط لاسته راځي.                د نمونې اوسط= انفرادي نمره / د ځواب ورکوونکو شمیر

**٦. د عوایدو او لگښتونو پرتله کول**

که چیرته د غوښینو چرگانو له مجموعي عوایدو څخه مجموعي لگښتونه کم شي خالصه گټه لاسته راځي.

مجموعي عواید(A)= د فارم مجموعي محصول* نرخ+ د چرگانو د امبار ارزښت

مجموعي لگښتونه(B)= مجموعي لگښتونه+مجموعي متحول لگښتونه

خالصه گټه= مجموعي عواید - مجموعي لگښتونه

د عامل- محصول نسبت= مجموعي عواید / مجموعي لگښتونه

د لگښتونو - گټې نسبت= خالصه گټه / مجموعي لگښتونه

اوسط گټه في چرگوړی= مجموعي خالصه گټه / د چرگوړو مجموعي تعداد

**۷. د څېړنې موندنې**

د غزني ولایت په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د۱۴۰۱-۱۴۰۲ کال په جریان کې« په غزني ولایت کې د غوښینو چرگانو د یوې روزنیزې دورې د عوایدو او لگښتونو پرتله کول» تر سرلیک لاندې ترسره شوې ساحوي څېړنې لاسته راغلې موندنې په دغه برخه کې واضح شوي دي.

## ۸. د غوښينو چرګانو روزنې د فارم لرونکو عمومي ځانګړتياوې

د غوښينو چرګانو روزونکو بزګرانو خصوصي ځانګړتياوې له عمر، کورنۍ غړو تعداد، د زده کړو کچه، په فارم کې د کار کولو تجربه، مسلک، مياشتنی عايد ښودل شوي دي.

د لاندې F,E,D,C,B,A ګرافونو په اساس د غوښينو چرګانو روزونکي اکثريت ۵۸,۳۳ سلنه له ۲۶-۳۵ کالونو عمر لري، ۶۳,۲۶ سلنه بيسواده دي، ۴۳,۳۳ سلنه له ۶-۱۰ تنه د کورنۍ غړي لري، ۶۵ سلنه له ۱-۵ کالونه په فارم کې د کار کولو تجربه لري، ۶۱,۶۷ سلنه بزګرانو کرنه مسلک ده، ۵۶,۶۷ سلنه له ۱۱۰۰۰-۳۰۰۰۰ افغانيو مياشتني عايد لري.


















## ۹. د غوښينو چرګانو د فارمونو خصوصي ځانګړتياوې

د غوښينو چرګانو د فارمونو خصوصي ځانګړتياوو کې په فارمونو کې د کار کولو وخت، د چرګانو تعداد، د فارمونو د روغتيايي حالت، د فارمونو ضد عفوني کول، د چرګانو د مړيني علتونه او د چرګانو د مرګ ژوبلي علتونه ښودل شوي دي. د لاندې L,K,J,I,H, ګرافونو په اساس د غوښينو چرګانو فارمونو کې ۴۳,۳۳ سلنه بزګرانو له ۱۱-۱۵ ساعته په فارمونو کې کار کوي، ۴۵ سلنه له ۲۰۰۰ قطعه څخه زيات چرګوړي په خپلو فارمونو کې لري، ۵۸,۳۴ سلنه فارمونه ښه روغتيايي حالت لري، ۷۱,۶۷ سلنه فارم لرونکو خپل د چرګانو فارمونه په چونه او کيمياوي موادو دواړو ضد عفوني کوي، ۶۳,۳۳ سلنه د چرګانو د مړيني علتونه د هوا ناوړه حالتونه شتون او۶۸,۳۳ سلنه د غوښينو چرګانو روزني فارمونو کې ۱۰ سلنه د چرګوړو مرګ ژوبله لري.


















**۱۰. د غوښينو چرگانو د يوې روزنيزې دورې عوايد**

د څېړنې په دغه برخه کې د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو ټول هغه عوايد ښودل شوي دي چې د يوې روزنيزې دورې(٦) اونيو په جريان کې د ٦٠ په تعداد غوښينو چرگانو روزنې له فارمونو څخه د اصلي محصول (غوښې) او فرعي محصول(امبار) څخه لاسته راغلي دي.

**(۱). جدول د غوښينو چرگانو د عوايدو اندازه ښيي**

| د عوايدو ډولونه | د عوايدو اندازه په افغانۍ | سلنه |
|---|---|---|
| له اصلي محصول (غوښې) څخه لاسته راغلي عوايد | ۴۳۹۰۸۹۷۵ | ۹۷.۹۴ |
| له فرعي محصول (امبار) څخه لاسته راغلي عوايد | ۹۲۳۰۲۵ | ۲.۰۵۸ |
| مجموعه | ۴۴۸۳۲۰۰۰ | ۱۰۰ |

منبع: څېړنيزې سروې ارقام چې د څېړونکي په واسطه تحليل شوي

(۱). جدول په اساس د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو د يوې روزنيزې دورې عوايد له اصلي محصول (غوښې) څخه ۴۳۹۰۸۹۷۵ افغانۍ چې ۹۷.۹۴ سلنه د ټولو عوايدو او له فرعي محصول (امبار) ۹۲۳۰۲۵ افغانۍ ښودل شوي دي چې ۲.۵۸ سلنه د ټولو عوايدو جوړوي چې مجموعي عوايد يې ۴۴۸۳۲۰۰۰ افغانۍ ښودل شوي دي. داسې پايله ترلاسه کيږي چې له اصلي محصول (غوښې) څخه لاسته راغلی عايد ۹۷.۹۴ سلنه د ټولو عوايدو جوړوي.

**۱۱. د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو د يوې روزنيزې دورې لگښتونه**

د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو ټول هغه لگښتونه ښودل شوي دي چې د يوې روزنيزې دورې په جريان کې د غوښينو چرگانو له خوا په مصرف رسيږي. په دې لگښتونو کې د چرگانو دغذا لگښتونه، د يو ورځني چرگانو د پير لگښتونه، د چرگانو د واکسين او درملو لگښتونه، د هوا دکنترول لگښتونه، د کارگر د معاش لگښتونه، د فارم کرايه او متفرقه لگښتونه شامل دي چې په(۴)جدول کې واضح شوي دي.

(۲)جدول په اساس د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو کې په يوه روزنيزه دوره کې په اوسط ډول د چرگانو د غذا لگښتونه ۲۷۱٦۳۴۰۰ افغانۍ «٦۷.۷۱» سلنه، د يو ورځني چرگانو د پير لگښتونه ۴۸۸۳۳۴۰ افغانۍ «۱۲.۱۷» سلنه، د چرگانو د واکسين او درملو لگښتونه ۲۷۱۴۱۵۰ افغانۍ «٦.۷۷» سلنه، د هوا دکنترول لگښتونه ۲۳۷۴۰۰۰ افغانۍ «۵.۹۱» سلنه، د کارگرو دمعاش لگښتونه ۱۷۹۰۰۰۰

افغانۍ«۴.۴۷» سلنه، د فارمونو کرایه ۴۳۳۰۰۰ افغانۍ«۱.۰۷۹»سلنه او متفرقه لګښتونه بیا ۷۵٦٦۲۸ افغانۍ «۱.۸۸» سلنه ښودل شوي دي چې ددې ټولو لګښتونو مجموعه ۴۰۱۱۴۵۱۸ افغانۍ ښودل شوې ده. داسې پایله ترلاسه کیږي چې د غوښینو چرګانو روزنې د فارمونو تر ټولو زیات لګښتونه «٦۷.۷۱» سلنه د چرګانو د غذا لګښتونه ښودل شوي دي.

**(۲) جدول د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو د یوې روزنیزې دورې لګښتونه**

| ګڼه | لګښتونه ډولونه | اندازه په (افغانۍ) | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د چرګانو د غذا لګښتونه | ۲۷۱٦۳۴۰۰ | ٦۷.۷۱ |
| ۲ | یو ورځني چرګانو د پیر / خرید لګښتونه | ۴۸۸۳۳۴۰ | ۱۲.۱۷ |
| ۳ | د چرګانو د واکسین او درملو لګښتونه | ۲۷۱۴۱۵۰ | ٦.۷۷ |
| ۴ | د هوا د کنترول/ د فارم د ګرمولو لګښتونه | ۲۳۷۴۰۰۰ | ۵.۹۱ |
| ۵ | د کارګرو د معاش لګښتونه | ۱۷۹۰۰۰۰ | ۴.۴۷ |
| ٦ | د فارمونو کرایه | ۴۳۳۰۰۰ | ۱.۰۷۹ |
| ۷ | متفرقه لګښتونه | ۷۵٦٦۲۸ | ۱.۸۸ |
| | مجموعه | ۴۰۱۱۴۵۱۸ | ۱۰۰ |

منبع: څېړنېزې سروې ارقام چې د څېړونکي په واسطه تحلیل شوي

## ۱۲. د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو خالصه ګټه

د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو کې مجموعي ناخالص عواید چې د اصلي محصول (غوښې) او فرعي محصول (امبار) څخه لاسته راغلي وي او همدارنګه ټول هغه لګښتونه چې له غذا، یو ورځني چرګوړي، واکسین او درمل، د هوا کنترول، د کارګرو معاش، د فارمونو کرایه او متفرقه لګښتونو له مجموعې څخه منځ ته راځي شامل دي.د مجموعي ناخالصو عوایدو او مجموعي لګښتونو له توپیر څخه بیا خالصه ګټه لاسته راځي.

(۳)جدول په اساس په اوسط ډول د غوښینو چرګانو روزنې له فارم څخه په اوسط ډول ٦۴٦۲۳,۲٦ افغانۍ خالصه ګټه لاسته راغلې ده، چې په دې کې په اوسط ډول ۷۴۳۴۵۹.۸۹ افغانۍ د غوښینو چرګانو له فارم څخه عواید او ٦۷۸۸۳٦.٦۴ افغانۍ لګښتونه راغلي دي. چې د عوایدو او لګښتونو له توپیر څخه خالصه ګټه لاسته راغلې ده.

**(۳). جدول د غوښينو چرگانو  فارمونو د يوې روزنيزې دورې خالصه گټه ښيي**

| ځانگړتياوې | مجموعي عوايد او لگښتونه | اوسط | معياري خطاء |
|---|---|---|---|
| مجموعي ناخالص عوايد په افغانۍ (A) | ۴۴۸۳۲۰۰۰ | ۷۴۳۴۵۹. ۸۹ | ۱۵۷۹۰. ۰۵ |
| مجموعي لگښتونه په افغانۍ (B) | ۴۰۱۱۴۵۱۸ | ٦۷۸۸۳٦. ٦۴ | ۴۸۷۷۰. ۱۵ |
| خالصه گټه په افغانۍ (A-B)=C | ۴۷۱۷۴۸۲ | ٦۴٦۲۳. ۲٦ | ۱۷۹۸۴. ٦۷ |

## ۱۳. د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو د عامل- محصول نسبت

د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو کې د عامل - محصول نسبت ښودل کيږي. دا په دې معنی چې د څومره عامل د توليد په کار اچولو سره محصول توليد شوی دی. يا د مجموعي ناخالصو عوايدو په مجموعي لگښتونو له ويشلو څخه وروسته د عامل- محصول نسبت منځ ته راځي او په(۴) جدول کې په ښه ډول واضح شوی دی.

**(۴)جدول د غوښينو چرگانو رزونې فارمونو  د يوې روزنيزې دورې د عامل -  محصول نسبت ښيي**

| ځانگړتياوې | مجموعي ناخالص عايد (افغانۍ) | مجموعي لگښتونه (افغانۍ) | د عامل- محصول نسبت |
|---|---|---|---|
| فارم | A | B | A/B=C |
| ۱ | ۷۴۳۴۵۹. ۸۹ | ٦۷۸۸۳٦. ٦۴ | ۱:۱. ۰۹ |

د (٦)جدول په اساس د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو کې په اوسط ډول د ۷۴۳۴۵۹.۸۹ افغانۍ عوايد د ٦۷۸۸۳٦.٦۴ لگښتونو په کار اچولو سره په يوه فارم کې لاسته راغلي دي. په دې خاطر د عامل- محصول نسبت ۱:۱.۰۹ د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو له ساحې څخه لاسته راغلي دي؛ دا داسې معنی ورکوي چې د ۱ افغانۍ په کار اچونې سره ۱.۰۹ افغانۍ په اندازه محصول لاسته راغلی دی.

## ۱۴. د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو د لګښتونو - خالص عاید نسبت

د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو کې د لګښت - ګټې نسبت ښودل کیږي. دا په دې معنی چې د څومره لګښت په کولو سره ګټه لاسته راځي. یا که چیرته خالصه ګټه په مجموعي لګښتونو باندې وویشل شي د لګښتونو- ګټې نسبت لاسته راځي او په (۵) جدول کې واضح شوي دي.

**(۵)جدول د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو د لګښتونو - ګټې نسبت ښیي**

| ځانګړتیاوې | خالصه ګټه (افغانۍ) | مجموعي لګښتونه (افغانۍ) | د لګښتونو-ګټې نسبت |
|---|---|---|---|
| فارم | (A) | (B) | A/B=C |
| ۱ | ۶۴۶۲۳. ۲۶ | ۶۷۸۸۳۶. ۶۴ | ۱:۰. ۰۹۵ |

منبع: څېړنېزې سروې ارقام چې د څېړونکي په واسطه تحلیل شوي

(۵)جدول په اساس د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو د لګښتونو- ګټې نسبت ۰۹۵ .۱:۰ لاسته راغلی دی؛ دا په دې معنی چې د غوښینو چرګانو روزنې فارم لرونکي د ۱ افغانۍ لګښت په مصرف کولو سره ۰۹۵ .۰ افغانۍ ګټه لاسته راوړې ده.

## ۱۵. د غوښینو چرګانو فارمونو فی چرګوړي اوسط ګټه

د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو کې فی چرګوړي اوسط ګټه له فارمونو څخه مجموعي خالصه ګټه په فارمونو کې د غوښینو چرګانو په مجموعي تعداد ویشل کیږي او فی چرګوړي خالصه ګټه لاسته راځي چې په(۶) جدول کې په ښه ډول ښودل شوې ده.

**(۶)جدول د غوښینو چرګانو روزنې فارمونو کې فی چرګوړي اوسط ګټه ښیي**

| مجموعي خالصه ګټه په افغانۍ | د ۶۰ فارمونو د چرګوړو مجموعي تعداد | اوسط ګټه فی چرګوړي په افغانۍ |
|---|---|---|
| ۴۷۱۷۴۸۲ | ۱۲۸۶۵۲ | ۳۶. ۶۶ |

د (۶) جدول په اساس د غوښینو چرګانو روزنې په فارمونو کې د ۴۷۱۷۴۸۲ افغانۍ مجموعي خالصه ګټه لاسته راغلې ده او په ټولو ۶۰ واړه فارمونو کې د چرګوړو مجموعي تعداد ۱۲۸۶۵۲چرګوړي ښودل شوي دي چې که چیرته مجموعي خالصه ګټه د چرګوړو په مجموعي تعداد وویشل شي نو په پایله کې فی چرګوړي اوسط ګټه ۶۶ .۳۶ افغانۍ لاسته راځي.

### ۱۶. مناقشه

دغه څېړنه چې په غزني ولایت کې د غوښینو چرگانو روزنې ۶۰ فارمونو کې ترسره شوې او پکې له ساده تصادفي نمونې نیونې له کړنلارې استفاده شوي د عوایدو برخه ښيې چې له اصلي محصول (غوښې) څخه لاسته راغلي عاید ۹۴ .۹۷ سلنه د ټولو عوایدو جوړوي. دې ته ورته څېړنه د (Abdurofi او همکارانوپه ۲۰۱۷) کال کې ترسره شوې ده. چې د غوښینو چرگانو روزنې په یوه دوره کې د ټولو عوایدو ۴۵ .۹۲ سلنه اصلي محصول (غوښې) جوړول. د لگښتونو برخه ښیي چې د غوښینو چرگانو روزنې په یوه دوره کې د نورو لگښتونو په پرتله د غذا لگښتونه چې ۷۱ .۶۷ سلنه د ټولو لگښتونو تشکیلوي. دې ته ورته څېړنه د (Abdurofi او همکارانو، ۲۰۱۷) په واسطه ترسره شوې او ویل شوي چې د غوښینو چرگانو روزنې په یوه دوره کې د نورو لگښتونو په پرتله د غذا لگښتونه ۷۰ سلنه د ټولو لگښتونو جوړول. همدارنگه له انتخاب شویو فارمونو څخه في فارم په اوسط ډول ۲۶ .۶۴۶۲۳ افغانۍ خالصه گټه، ۸۹ .۷۴۳۴۵۹ افغانۍ مجموعي عواید او ۶۴ .۶۷۸۸۳۶ افغانۍ مجموعي لگښتونه د مطالعې په ساحه کې لاسته راغلي دي. دې ته ورته څېړنه د (Noonari او همکارانو، ۲۰۱۵) په واسطه ترسره شوې وه چې له انتخاب شویو غوښینو چرگانو له فارمونو څخه په اوسط ډول في فارم ۳۲۶۷۴۴ روپۍ، ۱۰۹۶۵۰۰روپۍ مجموعي عواید او ۶۷۹۷۵۶ روپۍ مجموعي لگښتونه د مطالعې په ساحه کې ترلاسه شوي دي. د عامل- محصول نسبت يې۰۹ .۱:۱ ښودل شوی دی دې ته ورته څېړنه د (Noonari او همکارانو ، ۲۰۱۵) په واسطه ترسره شوې چې د عامل- محصول نسبت یې ۶۱ .۱:۱ روپۍ ښودل شوی وو. سربیره پردې د لگښتونو-گټې نسبت يې في فارم ۰۹۵ .۱:۰ ښودل شوی دی. دې ته ورته څېړنه بیا د (Khatimi او همکارانو، ۲۰۲۲ ) په واسطه ترسره شوې ده چې پکې د لگښتونو-گټې نسبت يې في فارم ۴۸ .۱:۰ ښودل شوی وو دا په دې معنی چې د ۱ روپۍ په لگښت سره يې ۴۸ .۰ روپۍ گټه لاسته راوړې وه.

### ۱۷. پایله

د نوموړې څېړنې اصلي موخې په غزني ولایت کې د غوښینو چرگانو د یوې روزنیزې دورې د عوایدو او لگښتونو پرتله کول دي، د څېړنو له پایلو څخه په ډاگه شوه، چې د غوښینو چرگانو ۳۴ .۵۸ سلنه روزونکي بزگران له ۲۶- ۳۵ کلونو عمر لري، ۳۴ .۴۳ سلنه له ۶-۱۰ تنه د کورنۍ غړي لري، ۳۴ .۶۳ سلنه بزگران بیسواده دي، ۶۵ سلنه بزگران له ۱- ۵ کلونو پورې په فارمونو کې کاري تجربه لري، ۶۷ .۶۱ سلنه بزگرانو اصلي مسلک کرنه ده او ۶۷ .۵۶ سلنه بزگرانو میاشتنی عاید له ۱۱۰۰۰- ۳۰۰۰۰ افغانیو پورې ښودل شوي دي. ۳۳ .۴۳ سلنه فارم لرونکي له ۱۱-۱۵ ساعتونو په خپلو فارمونوکې کار کاوه، ۴۵ سلنه د غوښینو چرگانو روزونکي له ۲۰۰۰ زیات چرگان په خپلو فارمونوکې

لرل، ۳۴ .۵۸ سلنه غو ښينو چرگانو فارمونو روغتيايي وضعيت ښه وو، ۶۷ .۷۱ سلنه بزگرانو له خپلو فارمونو د ضدعفوني کولو لپاره له چونې او کيمياوي توکو استفاده کوله، ۳۳ .۶۳ سلنه فارمونو د چرگانو مړينه د هوا د ناوړه حالاتو څخه منځ ته راغلې ، ۳۳ .۶۸ سلنه فارمونوکې د چرگانو د مړينې اندازه ۱۰ سلنه ښودل شوې وه. د چرگانو د اصلي محصول (غوښې) څخه لاسته راغلي عوايد ۹۴ .۹۷ سلنه د مجموعي عوايدو جوړول، د غوښينو چرگانو روزنې فارمونو تر ټولو زيات لگښتونه ۷۱ .۶۷ سلنه د چرگانو د غذا لگښتونه ښودل شوي وو، د غوښينو چرگانو له فارمونو څخه في فارم په اوسط ډول ۲۶ .۶۴۶۲۳ افغانۍ خالصه گټه لاسته راغلې وه، د عامل- محصول نسبت يې ۰۹ .۱:۱ ښودل شوی وو، د لگښتونو-گټې نسبت يې ۰۹ .۱:۰ ښودل شوی او في چرگوړي خالصه گټه ۶۶ .۳۶ افغانۍ ښودل شوې وه. د غوښينو چرگانو د عوايدو د زياتوالي او لگښتونو کموالي د حل په موخه دې د افغانستان اسلامي امارت د ولايتونو په سطحه د دې برخې د متخصيصينو په واسطه پاليسي جوړې او تطبيق کړي، د ولايتونو او ولسواليو په سطحه دې د غوښينو چرگانو روزونکو لپاره مرستندويه ټولنې رامنځته کړي ترڅو د غوښينو چرگانو د توليد او بازارموندنې په برخه کې آسانتياوې رامنځته شي، فارم لرونکو ته دې د پور ورکړې آسانتياوې چمتو کړي، د منجمنټ په برخه کې دې د ترويجي خدماتو استازي فارم لرونکو ساحو ته وليږي او د غوښينو چرگانو د ناروغيو او آفتونو د کنترول په برخه کې دې څېړنيز مرکزونه رامنځته کړي څو د غوښينو چرگانو روزونکو لپاره د زياتې گټې سبب وگرځي.

**اخځليکونه**

۱. اعظمي، توحيد علي. (۲۰۱۵). په افغانستان کې په کوچني کچه د تجارتي فارمونو لپاره د غوښينو چرگانو لارښود. د کرنې، اوبولگولو او مالداري وزارت، د باغداري او مالدارى ملي پروژه.

در استعارهٔ مکنیه، مشبه‌به متروک در اکثر مواقع انسان است و به اصطلاح استعاره، انسان‌مدارانه است. غربیان به این استعاره، پرسونیفیکاسیون می‌گویند که در فارسی به «تشخیص» یا «جان‌دارپنداری» ترجمه شده است. تشخیص یا جان‌دارپنداری از جمله آرایه‌هایی است که به تفکر بشر اولیه بازمی‌گردد که در قدیم همه‌چیز را جان‌دار می‌پنداشتند (شمیسا، ۱۳۹۴: ۱۸۴). از مسایل مهم مطرح‌شده در شعر شریف سعیدی، توجه و دید او نسبت به جهان است. او طبیعت را زنده و جان‌دار می‌بیند. در شعر سعیدی زمین، آسمان، ماه، درخت و از مفاهیم انتزاعی؛ عشق و دل و... بیش‌ترین آرایهٔ تشخیص را دارند.

می‌شود درک کند سردی روحم را ماه
در شب سرد اگر پیرهنش تر باشد
(همان: ۴۴)

زمین با گردباد و آسمان با ژاله هوهوزن
و اقیانوس‌های بی‌کران با جزر و مد بازی
(سعیدی، ۱۳۹۲: ۱۴)

چهارگوش جوالی، چهار ماه جوان
و عشق، شاخه‌ی سرخ ستاره تک می‌داد
(همان: ۲۱)

درخت تاوهٔ خورشید را به سر گیرد
به شوق آن‌که تو زیر درخت بنشینی
(همان: ۲۶)

گلی که جامه‌ی ضد گلوله می‌پوشید
که منفجر نشود غنچه روی لب‌هایش
(همان: ۳۷)

خسوف آمد و ماه برهنه جیغ کشید
که خون جاری ما سر از آن ستیغ کشید
(همان: ۴۶)

گرفت عکس سپید و سیاه او را ماه
به طاق آبی و با صد ستاره قاب گرفت
(همان: ۵۶)

تو در خوابی و کژدم روی قلبت نقشه می‌ریزد
ز هذیان‌گفتنت پیداست با یک نیش درگیری
(همان: ۵۹)

به تاخت می‌رود و در پی شکار نو است
چه گردباد، چه آتش‌فشان بر اسپ سپید
(همان: ۱۴۰)

نهاده هاله، کلاه گشاد بر سر ماه
که چون کلاه تو گردد کلاه افتاده است
(همان: ۱۳۸)

صبح لبخند می‌زند خورشید، ظهر شمشیر می‌کشد به سرم
شب پر از خون تازه می‌خوابد روبه‌روی دو چشم سرخ و ترم
(همان: ۱۳۲)

**۹. مخالفت با باورهای رایج**

معمولاً شاعران را دست‌مایه‌هایی ثابت و پذیرفته‌شده است. در مکتب اینان لب، لعل را و گل، بلبل را تداعی می‌کند. سرو از اندام حکایت دارد و نی از دوری شکایت. این‌ها نشأت‌گرفته از باورهای اجتماعی، فرهنگی، مذهبی، سنتی و گاه خرافی است و هرچه هست، قولی است که جملگی برآن‌اند. برخی امور مقدس است و مطلوب و برخی ناپسند و منفور. حیوانی عزیز است و فرخنده‌پی و دیگری شوم است و نامبارک. این‌که چرا در نزد ملتی کبوتر پیک عشاق و مظهر مهر است و در نزد ملتی دیگر کلاغ این رتبت را دارد، قابل تأمل می‌نماید؛ اما این‌که شاعری با این باورها از در مخالفت درآید و نغمهٔ مخالفت را چنان خوش سردهد که به گوش جان‌ها بنشیند، خبر از نوعی تخیل نیرومند و اندیشهٔ ژرف می‌دهد و از مشخصه‌های شعر شریف سعیدی نیز یکی همین امر است.

آب مایهٔ حیات است و شاعران و نویسندگان همواره آن را ستوده‌اند؛ اما در بیت زیرین آب دشمن شاعر است و سد راه آرزوها و امیالش و خاموش‌کنندهٔ ذغال جان وی:

بیهوده بر ذغال ترم پکه می‌کنم
این‌جا که بر تمام زمین نهر حاکم است
(سعیدی، ۱۳۹۲: ۳۹)

درخت و باغ و بوستان که در ادبیات کلاسیک مظهر و نماد زندگی و شادابی و سرخوشی است، در باور شاعر پدیده‌های غیر قابل اعتماد و منحوس اند:

مرغ حق با هراس می‌گوید اعتمادی به این درختان نیست
فکر کن این درخت سبز انار پس از این لحظه چوبهٔ دار است
(همان: ۴۰)

کهکشان لانهٔ ماران سپیدند و سیاه
ماه من، برج فلک، چاه کبوتر باشد
(همان: ۴۴)

شیشه‌ها را کاه‌گل، دروازه‌ها را بسته کن
وانکن کلکینچه‌ها را رو به فردا، بسته کن
(همان: ۴۸)

در بیت بالایی، پنجره، که در سنت گذشتهٔ ادبی ما و هم‌چنان باورهای رایج در جامعه، همواره نماد امیدبخشی و امیدواری برای داشتن فرداهای بهتر و روشن‌تر تلقی شده است، در نزد شاعر، نماد دلهره‌آوری از آیندهٔ موهوم و فرداهای تاریک است. در بیت زیرین نیز، خورشید و باران که در حقیقت عوامل زندگی‌ساز و زندگی‌بخش طبیعت هستند، به عذاب‌دهی و تازیانه‌زنی حلزون محکوم گشته‌اند:

زیر خورشید داغ گشت کباب، زیر باران به تازیانه عذاب
چه عذابی کشیده از دنیا با همین عمر مختصر حلزون
(همان: ۵۳)

**۱۰. نتیجه‌گیری**

هنجارگریزی به عنوان نگاهی نو برای نگرش به ادبیات و شعر، از مهم‌ترین مسایل قابل توجه در شعر است. براساس آن‌چه تاکنون بررسی شد، می‌توان دریافت که هنجارگریزی معنایی عامل مهمی در آفرینش شعر است؛ بدین مفهوم که هرچه بسامد وقوع این نوع هنجارگریزی بیش‌تر باشد، به همان نسبت افق‌های گسترده‌تر معنایی در شعر حاصل می‌شود و به تبع آن، رسیدن به معنا دیرتر اتفاق می‌افتد. در حقیقت تمامی کوشش‌هایی که از طرف شاعر و نویسنده برای تشخص‌بخشی به کلام انجام می‌گیرد، منجر به آشنایی‌زدایی می‌گردد.

رهایی از ذهنیت‌های موجود در جامعه، گریز از تصویرپردازی‌های کهنه و کلیشه‌ای و گرایش به خلق تصویرهای تازه و بی‌سابقه، ایجاد تحول و دگردیسی در دست‌مایه‌های تصویری شعر پیش از خود، فضای دیگرگونه را در حوزهٔ معنایی غزل سعیدی پدید آورده است. سعیدی، به مضامین

کهن شعری دلبستگی نداشته و در فکر دست‌یافتن به معنی برجسته است. وی با تعمق در جوهره و روح عناصر و پدیده‌ها و مظاهر طبیعت پیرامون خود، به آفرینش معانی و مضامینی متضاد از مضامین پیشینیان توفیق یافته است.

پربسامدترین عنصر هنجارگریزی در غزل‌های شریف سعیدی، تشبیه است. او با ایجاد شباهت بین عناصر ذهنی و طبیعی، تصویرهایی زیبا و قابل درک برای اقناع مخاطب شعر خود خلق کرده است. پس از آن، استعاره و تشخیص بسیار مورد توجه سعیدی و از پرکاربردترین آرایه‌های شعر وی است.

**منابع**


۱. احمدی، بابک. (۱۳۸۰). حقیقت و زیبایی؛ چاپ هفتم. تهران: نشر مرکز.

۲. احمدی، بابک. (۱۳۸۰). ساختار و تأویل متن؛ چاپ هفتم. تهران: نشر مرکز.

۳. سعیدی، شریف. (۱۳۹۲). آهسته رفتن چاقو. تهران: مؤسسه‌ی انتشارات عرفان.

۴. سلدن، رامان؛ ویدوسون، پیتر. (۱۳۷۲). راهنمای نظریه ادبی معاصر؛ ترجمه‌ی عباس مخبر. تهران: طرح نو.

۵. شفیعی کدکنی، محمدرضا. (۱۳۷۳). موسیقی شعر. تهران: آگاه.

٦. شفیعی کدکنی، محمدرضا. (۱۳۹۱). رستاخیز کلمات( درس‌گفتارهایی در باره‌ی نظریه‌ی ادبی صورتگرایان روس). تهران: سخن

۷. شفیعی کدکنی، محمدرضا. (۱۳۹۳). صور خیال در شعر فارسی؛ چاپ هفدهم ویراست دوم. تهران: آگه.

۸. شمیسا، سیروس. (۱۳۹۴). بیان؛ چاپ چهارم از ویراست چهارم. تهران: نشر میترا.

۹. صفوی، کوروش. (۱۳۷۳). از زبان‌شناسی به ادبیات(نظم). تهران: چشمه.

۱۰. علوی مقدم، مهیار. (۱۳۷۷). نظریه‌های نقد ادبی معاصر( صورتگرایی و ساختارگرایی). تهران: سمت.

۱۱. فتوحی، محمود. (۱۳۸۸). بلاغت تصویر. تهران: سخن.

۱۲. کزازی، میرجلال‌الدین. (۱۳۸۹). بیان ۱- زیبایی‌شناسی سخن پارسی. تهران: مرکز.

# د ماليې څېړنه د اسلامي فقهې او افغانستان د مدني قانون په رڼا کې

پوهندوی دکتور محمدسليم"مدني"

فقه او قانون څانګه، شرعياتو پوهنځی، البيروني پوهنتون.

salim0775040@gmail.com

د تر لاسه کولو نېټه: (۱۴۴۵/۷/۸) د منلو نېټه (۱۴۴۵/۸/۱۳)

**الخلاصة**

لا يخفى على أحد أهمية موضوع الضرائب التي لها انتشار واسع في أنحاء العالم حيث قلَ من حكومات ومؤسسات لا تعتني بهذه القضية، وتعتبر الضرائب التي تقوم الدول بأخذها من ميزان أكثر الدول المعاصرة بل تعتبر من مصادرها الأساسية لميزانتها، وبما أن للموضوع نقطاق واسع على التوسعة حسب مراعات ضوابطها واللوائح المطبقة على الساحة العالمية فإن الموضوع المشار إليه بحاجة إلى دراسة وتحقيق أحببت أن اكتب مقالاً حول الموضوع بعنوان: (دراسة الضريبة في الفقه الإسلامي والقانون المدني الأفغاني)

والأهداف المرجوة من المقال المشار إليه كثيرة منها:

أن الموضوع من الأهمية بمكان حيث أن أغلب دول العالم تطالب ذويها بدفع الضرائب شركات ومؤسسات وكذا كثر فيها القيل والقال من حيث الجواز وعدمه، والمقال مشتمل على مقدمة، وأسباب اختيار الموضوع، وأهمية الموضوع، ثم دراسة الموضوع بالتفصيل؛ وذلك ضمن مطالب متنوعة التي لها صلة بالمقالة حيث بدأت بتفصيل ما وهي: عبارة عن التعريف بالضريبة، فثم تأريخ نشأة الضرائب في العالم ثم ذكرت مكانة الضريبة في الفقه الإسلامي، كما ذكرت المنهج المتبع في كتابة المقال حيث اخترت المنهج التوصيفي التحليلي، ثم ذكرت شروط الضرائب وضوابطها كما دعمت المقالة مقرونة بمواد القانون الأفغاني، وفي الأخير ختمت المقالة بالمناقشة فثم الخاتمة كما عقبت المقالة بالنتائج التي توصلت إليها ومن أهم النتائج أن الضرائب على أقسام من حيث الكم والكيف، وكذا كل دولة لها طريقة معينة في أخذ الضرائب حسب احتياجاتها وضروراتها كما ذيلت المقالة بالمصادر والمراجع التي استفدت منها.

**لنډیز**

دا یو څرګنـد حقیقـت دی چې د نن نړۍ ډیری هیوادونه مالیه اخلي او ډیر کم هیوادونه به وي چې د مالیې داخیســتلو په بهیر کې پوره ونډه نه اخلي؛ بلکې د معاصــرو مملکتونو د بودیجې ډیره برخه له دې لارې څخه پوره کیږي؛ له دې امله ما مناســبه وګڼله چې د نوموړې موضــو ع په هکله یو څیړنه ترســره کړم چې د دې عنوان ترســرلیک لاندې لیکل شــوي ده (د مالیې څېړنه د اســلامي فقهې او افغـانســتان د مدني قانون په رڼا کې) نوموړې مقاله مشــتمله ده په یوه پیلیزه او دمقـالې داختیـار لاملونه، او همدرا راز دڅېړنې ارزښــت، او د مقالې د لیکلو تګلاره چې کتابتوني تحلیلي توصیفي بڼه لري، وروسې ګڼ مسائل او مطلبونه ځای پر ځای شوي دي چې عبارت دي د مقالې معرفي او پیژندنه، وروسې دمالیې تاریخچې ته لنډه کتنه شوې ده، او وروسته دمالیې ارزښت داســلامي فقهي لـه نظره، او موخې چې ځینې هیوادونه مالیه له خپلو اتباعو څخه اخلي او د اتباعو سـره یې دا پوښـتنه شـتون لري چې د دې کار حکم څه شی دی، نو د دې اساس په بنأ د دې ډول موضــوعاګانو څېړنې ته اړتیا ده، او بل دا چې د نوموړي موضـــوع په هکله په عمومي توګه خبرې اترې شــتون لري (د جواز او نه جواز) له پلوه هم دا د یوې پوښــتنې ځای دی ، او همدا راز دمالیې شـرطونه او ضوابط، او وروسته دمالیې اندازه او مقدار، او دمقالې په پای کې مناقشه او سپارښتنې او پایلې هم شـــتون لري، چې ځینې یې د ادې چې مالیه ګڼ ډولونه لري د (کم او کیف) په اعتبار، او همدا راز هر هیواد د خپلې تګلارې په سـمون مالیه اخلي او وروسـې په مقاله کې دسـرچینو لېست هم ترتیب شـوی دی، او د اکثرو مسائلو او احکامو تر څنګ دافغانستان دمدني قانون مادې هم یاد شوي دي.

**کلیدي کلیمې.** شریعت، مالیه، دلیلونه، څیړنه، قانون.

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین، نبینا محمد وعلی آله وأصحابه أجمعین.

اما بعد:

دلوی الله جل جلاله په خپلو بندګانو سـتر فضـل او مهرباني ده چې دژوند دښـه سـمبالولو سـره چې هر څه تړاو لري هغه یې ورته په بشپړ توګه څرګند کړي دي، او هیڅ ډول نیمګړتیاې یې په کې نده پریښودي، او وخت په وخت یې دبندګانو د لارښونې لپاره د خلکو زیرکه او نهایي پوه او خورا زیات رحم کوونکي بندګان چې عبارت دي دانبیاء- علیهم الصـلاة والسـلام- څخه رالیږلي دي، بیا د دوی څخه وروسته دغه تار او کړی پریکړه شو خو رب العالمین دعلماوو په واسطه سره دغه لړۍ ته جریان او دوام ورکړه تر څو دبندګانو حجت په رب العالمین پاتې نه شي، پر دې اساس دغه یوه

مقاله چې (د مالیې څېړنه د اسلامي فقهې او د افغانستان د مدني قانون په رڼا کې)، دعنوان د لاندې ترتيب شـوې ده، سـره له دې چې دماليې راټولول دوګړو څخه داسې يو قانون دی چې دولتي مالي چارو ته وده ور کوي برابره خبره ده که په هره برخه کې وي خو که په لويه کچه وي لکه: دشرکتونو او مؤسسـاتو څخه ماليه راټولول، او که په کوچنۍ کچه وي لکه: شـخصي او کورنۍ تجارت څخه مـاليه راټولول؛ له د امله چې دولت وکولای شــي چې د خپلو وارداتو خرچ او پالنه په ســمه توګه باندې سرته ورسوي لکه: د زده کړو خرچ، او همدا راز دامنيتي ځواکنو، او د روغتيايي خدمتونو، او ترانســپورت... وغيره د نورو خـدمتونو خرچ دې لـه دې لارې څخه اداء کړي په ځانګړي توګه چې کله دولت اقتصـادي نمګړتياوې ولري. له دې امله مناسـبه به دا وي چې دغه څېړنه ديو علمي مقالې په شکل ترتيب کړای شي.

له رب العالمين څخه د بشپړ توفيق غوښتونکی يم.

**د موضوع ارزښت**

له دې امله چې نوموړې موضوع د هيوادونو لپاره حياتي مسئله ده، او د دې لپاره چې هر هيواد دماليې دپلي کولو لپاره قوانين جوړ کړي دي، د نوموړې موضوع ارزښت په راتلونکو نکاتو کې ځای پر ځای شوی دی.

۱/ دماليې مسائل او احکام د هغه مسئلو او احکامو څخه دي چې د انسان ژوند ور سره خورا اړين تړاو لري.

۱/ د ټولنې د اړتيا له امله يعنې: ډېری وګړي دخپل مالونو د راکړې ورکړې مسئلو باندې ښه پوهاوي ته اړتيا لري.

۳/ دماليې چارې د روزمره ژوند سره تړاو لري.

**د موضوع موخې او لاملونه.**

د دې مقالې موخې په لاندې ټکو کې ترتيب شوي دي.

۱/ په جزئي څېړنو او ځانګړو مقالاتو باندې د ځان او ټولنې خدمت.

۲/ دماليې پيژندنه په ښه کچه داسلامي شريعت او د افغانستان د مدني قانون له حيثيته.

۳/ ديو غلط فهمی سمول هغه دا چې دافغانستان قوانين داسلامي شريعت سره مخالفت لري.

۴/ دا برخه ځکه انتخاب شوې ده چې له امله يې د ماليې په برخه کې په عمومي توګه د وګړو سره ګڼ سوالونه ذهن ته راځي يعنې دروا والي او ناروا والي له حيثيته.

**دفرضيې پوښتنې**

د ماليې اخيستل په اسلامي شريعت او مدني قانون کې څېړل.

د ماليې لپاره ضوابط او شرطونه په گوته کول.

د ماليې لپاره ټاکل شوی مقدار او اندازه ټاکل.

**دموضوع مواد او تگلاره**

زما دا ليکنه تحليلي توصيفي بڼه لري، او د گڼو سرچينو څخه پکې استفاده شوې ده، لکه کتابتون، الکترونيکي کتابتون، انټرنټ سايټونه او همدا راز نور وسايل.

**۱. د ماليې لغوي پيژندنه.**

د ماليې توري په ملي ژبو (پښتو او فارسي)کې مستعمل دي چې مقصد او موخه ترينه پر حقيقي او حکمي اشخاصو باندې يوه اندازه ماليه ټاکل دي، او په عربي ژبه کې ورته ضريبه او ټکس وايي چې دلته همدغه معنا مراد ده.

**د ماليې اصطلاحي پيژندنه**: ۱/ ماليه يو حتمي او الزامي حق دی چې دولت يې د خپلو اتباعو څخه اخلي په مقابل د يو منفعت کې چې دوی ترينه گټه اخلي. لکه شرکتونه مؤسسې، او تجارتي محلات او افراد او داسې نور. قلعجي، محمد رواس - حامد صادق قنيبي، (۱۴۰۸هـ)، معجم لغة الفقهاء، دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع ص: ۲۸۴.

۲/ ماليه يو حتمي او الزامي نقدي حق دی چې دولت يا د دولت استازي يې د عمومي وگړو او افرادو څخه جبرا اخلي په مقابل د يو منفعت کې چې دوی ترينه گټه اخلي او يا پرته دکوم منفعت څخه د عمومي بوديجې د ترتيب کولو لپاره (مصطفی محمود زکي (ب، ت) الضريبة في ميزان التشريع الإسلامي ص: ۹).

**۱. د ماليې پيژندنه د افغانستان مدني قانون له نظره.**

د افغانستان پر عايداتو باندې د مالياتو قانون لومړی فصل، عمومي احکام لومړی ماده کې داسې راغلي: ماليه الزامي ورکړه ده چې دولت د ماليې بنسټ د پياوړتيا او عامې سوکالۍ په منظور له حقيقي او حکمي اشخاصو څخه دمتقابل خدمت له سرته رسولو يا له جنس د وړاندې کولو پرته د دط قانون د حکمونو مطابق اخيستل کيږي د عدليې وزارت (۱۳۸۷ش)، دمالياتو قانون. فوق العاده گڼه، رسمي جريده، دکب مياشتې ۲۸، پرله پسې شميره (۹۷٦)

**۱،۱ دماليې تاريخچې ته لنډه کتنه**

مخکې زمانو کې د ماليې شکل او صورت زيات د گمرکونو په شکل کې چليدو، وروسته بيا د عامو وگړو منځ کې ماليه مروجه شوه لکه: ايټالويانو ماليه اخيستل په هر يوه خپل هيواد وال حتمي

کړې وه، او همدا راز ماليه يې دخرڅلاو پر شيانو او ميراث باندي هم ايښې وه، ورپسې دنصاراوو (عيسويانو) په زمانه کې عشر (لسمه برخه) د مالونو کليسا ته ورکول کيده، ورپسې دا کار اروپا کې پيل شو چې د ۱۷۹۵م او ۱۸۶۹م کلونو ترمنځ په ځينې شيانو کې د ماليې اخستل شتون درلوده، او ځيني غريبه طبقه خلک د دې ماليې څخه معاف وو، او په ځينې وختونو کې د زياتې ماليې اخيستل د خپلمنځي جنگونو لامل وگرځيد، همدا راز انگلستان کې ماليه په کال ۱۸۶۱م – ۱۸۶۵م په کورني تجارت کې پيل شوه، او همدا راز نور گڼو هيوادونو کې په گڼ ډول سره د ماليې گڼې بيلگې لرلې چې او س مهال هم په ټولو هيوادونو کې په گڼو طريقو سره دا کار جريان لري. الموسوعة العربية العالمية (۱/ ۱-۷).

**۲,۱ دماليې د ورکولو شرطونه او ضوابط**

ماليه خپل شرطونه او ضوابط لري که چيرې دغه شرطونه صورت ونه مومي ماليه سم او سالم صورت نه نيسي چې ځينې دهغو څخه په لاندې توگه دي.

۱/ دماليې اخيستل بايد د اړتيا په بناء وي، هر وخت چې اړتيا پای ته ورسيږي بايد ماليه هم له منځه لاړه شي.

۲/ د ماليې اخستل يو ځانگړی کار دی چې د عمومي مصلحت په بناء بايد واخيستلی شي او يوازې شخصي موخې بايد ونه مومي.

۳/ کوم حاکم چې دا ټاکل کوي بايد عادل وي.

۴/ حاکم بايد کفايت او وړتيا ولري له دې امله چې ماليه په مناسب ځای کې خرچ کړي.

۵/ دماليې خرچ بايد په مناسب او سم ځای کې وشي (مصطفى محمود زكي (ب، ت) الضريبة في ميزان التشريع الإسلامي ص: ۴۷).

**۲. په اسلام کې د مال اهميت**

اسلام يواځينی دين دی چې احکام او مسائل يې دهر شي، او هر چاته شامل، او کامل دي هيڅ کمی په هيڅ يو شي کې چې هغه ته ضرورت او اړتيا وي دهغه څېړنه او څرگندونه يې نه وي کړې؛ بناء اسلام کې دمال ارزښت په گڼو نصوصو کې ځای پر ځای شوی دی او د دې اړوند احکام او جزيات يې په ډاگه کړي دي چې ځينې نصوص د بيلگې په توگه دې ځای کې د ياد وړ دي.

**۱,۲ دقرآن کريم نصوص**

۱/ الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا..﴾ د النساء سورت (۵) آيت.

ژباړه: مه ورکوئ کم عقلانو ته خپل هغه مالونه چې الله ستاسې لپاره هغه دژوند معيشت گرځولي دي.

د آيت څخه د استدلال طريقه: دلته الله- جل جلاله- مال د انسان دبقاء او پاتې كيدو لپاره لامل او سبب باندې موصوف كړى دى، او دا يو څرګند حقيقت دى چې هيڅوک ترينه سترګې نشي پټه ولى مورږ ټول د ماشومتوب څخه پيل تر بوډاتوب، او د شتمن څخه تر ګدا، او مال داسې يو عنصر دى چې روغونه ترينه نشي كيداى، او دا مال پوره كول او توزيع كول د ګڼو لارو څخه صورت مومې چې له هغو څخه يو لاره ماليه اخيستل او د هغو ترتيبول دى.

۲/او همدا راز الله رب العالمين فرمايې﴿وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا﴾ د القصص سورت (۷۷) آيت.

ژباړه: او مه هيره وه خپله برخه له دنيا څخه

د استدلال طريقه له مخكني آيت څخه داسې ده چې مال په نصيب او برخه كې لومړى حصه كې دا خليږى چې د ماليې مسايل هم د دې اړوند دي.

او ډير احاديث هم د دې اصل او اساس تأييد كوي چې ځيني له هغو څخه په لاندې ډول دي.

۱/ عن عمرو بن العاص رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (نِعم المالُ الصالح للمرء الصالح). ابن حبان، محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي، (۱۴۱۴هـ)، صحيح ابن حبان صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان، بيروت.الطبعة الثانية:۸/ ٦.

ژباړه: عمرو بن العاص -رضى الله عنه - فرمايې: چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايي: د صالح انسان لپاره يو ستر نعمت ښه مال دى.

۲ / عن يسار بن عبيد- رضي الله عنه- قال: قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-: (لا بأس بالغنى لِمَن اتقى...) ابن ماجه، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (۱۴۳۰هـ)، سنن ابن ماجه الناشر، دار الرسالة العالمية، :۳/ ۲۷۳.

(ژباړه: يسار دعبيد زوى -رضى الله عنه -فرمايي: چې رسو ل الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايي: هيڅ باک نشته په شتمنئ او مالدارئ دتقوا دار كس لپاره...

د استدلال طريقه له مخكنيو حديثونو څخه داسې ده چې مال او شتمني په نوموړو حديثونو كې په ګڼو اوصافو توصيف شوي دي چې د ماليې مسايل هم د دې اړوند دي.

### ۳. دماليې اقتصادي اغيزې

ابن خلدون رحمه الله د ماليې اقتصادي اغيزو په اړه يو ځانګړى فصل ليكلى او په هغه كې يې هغه لاملونه په نښه كړي دي، او د دې اغيزې په عمومي اقتصادي حالاتو چې بازارونه كوټه كيږي او آبادئ ته هم ضرر رسيږي او دغه ناوړه اغيزې عمومي اقتصاد ته ضربه او صدمه رسوي، او ان تر دې چې كله اقتصاد لمنځه وړي او داسې فرمايې:(دا ګمان مه كوه چې ظلم به يوازې دا وي چې يو څوک د چا مال واخلي او يا د هغه څخه شيان واخلي چې د هغه د تصرف او ملكيت د لاندې وي پرته دكوم عوض او سبب نه لكه څنګه چې دا خبره مشهوره ده؛ بلكې خبره له دې څخه هم ډيره

عامه ده هر هغه څوک چې د چا مال واخلي، او یا یې غصب کړي، او یا ترینه غوښتنه وکړي پرته دکوم ثابت حق څخه، او یا په یو حق فرض کړي چې شریعت هغه حق نه وي فرض کړی نو یقینا دوی ظلم وکړه د هغه سره....) ابن خلدون (ب،ت) مقدمة ابن خلدون ص: ۱۵۰).

**۴. دمالیې دا خیستلو حکم د اسلامي فقهې له نظره**

اصل او عمومي قاعده په اسلامي شریعت کې دا ده چې کله مسلمان پابندي او التزام وکړي دهغه مال چې د د ې د ملکیت او د لاس لاندې وي هیچا ته جائز نه دی چې دهغه په مال باندې مالیه وټاکي، او یا بل کوم یو الزامي حق په خلکو کیږدي؛ پرته دکومې استثناء او ضرورت او اړتیا نه چې د اسلامي شریعت عمومي اصول او قواعد دهغوی په مشروعیت دلیلونه ولري او له همدې امله مخکنیو او معاصرو فقهاوو د مالیې د اخیستولو په هکله ګڼ نظرونه لري چې لنډیز یې په لاندې کرښو کې ذکر شوی دی.

۱/ احناف فقهاء رحمهم الله په دې نظر دي چې مالیه اخیستل یوازې د اړتیا په صورت کې جواز لري لکه څنګه چې اکمل الدین بابرتي رحمه الله فرمايي(وأما النوائب فقد يراد بها ما يكون بحق وقد يراد بها ما ليس بحق، والأول ككري الأنهار المشتركة وأجر الحارس للمحلة وما وظف الإمام لتجهيز الجيش وفداء الأسارى، بأن احتاج إلى تجهيز الجيش لقتال المشركين أو إلى العناية فداء أسرى المسلمين ولم يكن في بيت المال مال فوظف مالا على الناس لذلك والضمان فيه جائز بالاتفاق) (البابرتي (ب، ت) العناية شرح الهداية دار الفكر: ۷/ ۲۲۱-۲۲۲).

ژباړه: هر چې د مالیې اخستل دي نو دا په حکم کې توپیر لري یو ډول مالیه جواز لري لکه په ګډه ویاله ویستونکو ته کرایه ورکول، او یا د یوې سیمې لپاره څوکیدار ټاکل او هغو ته کرایه ټاکل، او یا د فوځیانو او بندیانو اعاشه ورکولو لپاره پر داسې مهال چې بیت المال کې کافي څه شتون ونه لري نو د تیر شوو کارونو لپاره مالیه اخیستل بالاتفاق جواز لري.

مالکي فقهاء وايي: چې امام او مشرتابه دا حق لري چې نورین او اړمند حالاتو کې په خلکو مالیه وضع کړي. امام قرطبي رحمه الله فرمايي: (واتفق العلماء على أنه إذا نزلت بالمسلمين حاجة بعد أداء الزكاة فإنه يجب صرف المال إليها. قال مالك رحمه اللّٰه : يجب على الناس فداء أسراهم وإن استغرق ذلك أموالهم. وهذا إجماع أيضا) (القرطبي( ۱۴۲۳هـ)، الجامع لأحكام القرآن، دار عالم الكتب: ۲/۲٤۲.

ژباړه: په دې مسئله علماوو اتفاق کړی دی که چیرې د مسلمانانو مال ته اړتیا پیداشي له زکات ورکولو څخه وروسته واجب دي چې هغوی ته مال ورکړای شي. امام مالک رحمه الله فرمايي: په خلکو حتمي ده چې د بندیانو خرچه ورکړي، اگر که دغه خرچه ددوی مالونو ته سرایت وکړي.

شافعي فقهاوو کې هم امام غزالي رحمه الله فرمايي: (إذا خلت الايدي من الاموال ولم يكن من مال المصالح ما يفي بخراجات العسكر، ولو تفرق العسكر واشتغلوا بالكسب لخيف دخول الكفار بلاد الاسلام، أو خيف ثوران الفتنة من أهل العرامنة في بلاد الاسلام،

فيجوز للامام أن يوظف على الاغنياء مقدار كفاية الجند، ثم إن رأى في طريق التوزيع التخصيص بالاراضي فلا حرج، لانا نعلم أنه إذا تعارض شران

ضرران قصد الشرع دفع أشد الضررين وأعظم الشرين...) (الغزالي (۱۳۱۳هـ المستصفى، دار الكتب العلمية: ۱۷۷.

ژباړه: کوم وخت کې چې داسلامي لښکر لاسونه د مالونو څخه خالي شي، او څه نه وي چې د لښکر لپاره بسنه وکړي، او که لښکر خور شي، او کار او کسب باندې اخته شي نو د دښمن دداخليدو احتمال شته چې اسلامي هيوانو ته راننوځي، او يا له دې امله د فتنې زمينه رامنځ ته کيږي، نو په داسې صورتونو کې دحکومت مشر تابه ته جائز دي چې د شتمنو خلکو په مالونو باندې ماليه کيږدي تر دې چې داسلامي لښکر ژغورنه وکړای شي، او د دغه ناکاره حالت څخه وژغورل شي؛ ځکه موږته دا معلومات دي چې کله د دوو لويو شرونو منځ کې ټکر راشي نو کوم چې له دغو شرونو څخه ډير لوی وي هغه به دفع کولی شي (يختار أهون الشرين) يعنې په کولو دکوچني له هغی څخه...

د حنابلو فقهاوو څخه امام ابن تيميه رحمه الله تعالى فرمايي: أن المسلمين إذا احتاجوا إلى مال يجمعونه لدفع عدوهم وجب على القادرين الاشتراك في ذلك) (ابن تيمية، (۱۴۱۶هـ) مجموع الفتاوى الرقمية، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية: ۳۰/ ۳۴۲.

ژباړه: کله چې مسلمانان د دښمن دفاع لپاره مال ته اړتيا پيدا شي نو شتمن کسان بايد په نوموړي کار کې ګډون وکړي.

د لازياتو معلوماتو لپاره (مصطفى محمود زکي (ب، ت) الضريبة في ميزان التشريع الإسلامي ص:۲۸-۳۰) کتلی شی.

راجح او غوره قول

مخکني قولونه په ټوله کې په دې مسئله باندې اتفاق لري چې د ماليې اخيستل د مصلحت او اړتيا په بناء کومه شرعي ستونزه نه لري.

**۵. دماليې اخيستل د افغانستان د مدني قانون له نظره**

دخوږ هيواد افغانستان دماليې قانون ډيرې مادې دماليې د اخستلو په اړه وضاحت، او تصريح لري چې ځينې مادې دلته د بيلګې په توګه دياداښت وړ دي.

دماليې داخيستلو دويمه ماده داسې تصريح لري: د هيواد په دننه او بهر کې دحقيقي او حکمي اشخاصو له ټولو عوايدو څخه چې افغاني سرچينو څخه لاس ته راځي، او د هغو عوايدو څخه چې په افغانستان کې مېشت يي له افغاني سرچينو او بهر څخه لاس ته راوړي، د دې قانون له حکمونو ماليه اخستل کيږي.

او همدا راز ددې مادې په دويمه شميره کې داسې وضاحت ياد شوی دی. افغاني سرچېنې: هغه عوايد دي چې په داخل کې د هيواد له سرچېنو څخه په افغانستان کې دمېشتو اشخاصو او په بهر کې د دولتي ادارو شتمنيوڅخه لاس ته راځي.

او غير افغاني سرچيني هغه عوايد دي چې د افغانستان په دننه کې دنورو هيوادنو له سرچينو څخه په افغانستان کې دمېشتو اشخاصو په واسطه لاس ته راځي.

کورنۍ سرچينې: هغه عوايد دي چې دهيواد له کورنيو سرچينو څخه دافغاني او غير افغاني سرچينو په شمول لاس ته راځي.

### ٦. دماليې اندازه او ټاکل د مدني قانون له نظره

پر عوايدو باندې دمالياتو قانون ۴ مه ماده داسې وضاحت لري:

۱/ دحکمي اشخاصو پر عايداتو باندې ماليات مالي کال کې دهغه دماليې وړ عوايدو په سلو کې شل دي.

۲/ د اسعاري عوايدو پر عايداتو باندې ماليات په افغاني پيسو سنجول، او تسعير کيږي. دتسعير نرخ، دهرې مياشتې په پای کې دپلورنې پر بنسټ د (دافغانستان بانک) دآزاد نرخ اوسط دی.

۳/ دحقيقي اشخاصو پر عايداتو باندې ماليات دلاندې جدول څخه سنجول کيږي.

دماليې مقدار او اندازې دوضاحت جدول.

**(۱)جدول د مالياتو د اندازې توضيح**

| دماليې وړ عوايد | دماليې مقدار |
|---|---|
| له صفر څخه تر پنځه زره افغانيو پورې | صفر (معاف) |
| له پنځه زره او يوې څخه تر دوولس زرو او پنځه سوه افغانيو پورې | په سلو کې دوه |
| له دوولسو زرو پنځه سوه يوې افغانۍ څخه تر سلو زرو افغانيو پورې | پر (۱۵۰) ثابتو افغانيو برسيره په سلو کې لس |
| له سلو زرو او يوې افغانۍ پورته | له (۸۹۰۰) ثابتو افغانيو بر سېره په سلو کې شل. |

او همدا راز اتمه ماده داسې څرگندونه کوي.

۱/ هغه غير مېشت حقيقي، او حکمي اشخاص چې په افغانستان کې په اقتصادي سوداگريزو، او خدماتي فعاليتونو باندې بوخت دي مکلف دي خپل ماليات دهغو عوايدو پر بنسټ چې دهيواد له کورنيو سرچينو څخه يې تر لاسه کوي ورکړي.

۲/ پر عايداتو باندې دمالياتو کسرت په هغه صورت کې دمجرايي او محاسبې وړ گڼل کيږي چې دهيواد دننه سرچېنو څخه په تر لاسه شوو پورې مربوط وي.

۳/ د هغه الوتکو او د هغو کارکونکو له عوايدو ماليه ډول په هغه هيواد کې دافغاني غير مېشتو اشخاصو لپاره اټکل شوي وي.

**تبصره**

پورته يا شوي د مدني قانون مادې له اسلامي شريعت سره کوم ټکر نه لري البته يو څه تبصرې ته اړتيا شته چې په لاندې نکاتو کې څرگنده کيږي.

۱/ د ماليې د اخيستلو پر مهال بايد د وگړو اقتصادي ظروف او اوضاع په نظر کې ونيول شي.

۲/ د ماليې د اخيستلو پر مهال بايد د افرادو او مؤسساتو تو پير مراعات کړل شي.

۳/ ماليه بايد دخرچ، او مصرف کولو پر مهال د اړتيا مناسب وکارول شي.

۴/ ماليه بايد د اقتصادي او ضاع تابع شي ( دکموالی او ډير والی له لحاظه).

**۷. مناقشه.**

دماليې په اړه گڼې ليکنې پخوانۍ او نوې تر سره شوي دي، البته زما د معلوماتو مطابق په ځانگړې توگه د دې مسئلې نوې بيلگې او تطبيقي مثالونه دمعاصر او نوي کتابونو په داخل کې په غير منظم شکل سره شتون لري،او همدا راز د ماليې فقهي څېړنه په ځانگړي توگه دافغانستان دقوانينو مطابق په يو مستقل ډول ديوې مقالې په څير په پښتو ژبه شتون نه لري. بناء د دې مقالې د څيړنې پر مهال گڼ نظرونه ياد شوي دي او د هرې نظريې دليلونه هم په ډاگه کړای شول، او په پای کې دا نظريه غوره ده چې د اړتيا په صورت کې ماليه اخيستل کوم باک او حرج نه لري تر دې چې د دولت عوايد غني او د وگړو اړتياوو ته لاس رسی پيدا شي.

**پايلې او سپارښتنې.**

د دې مقالې په اخير او پای کې ځينې لاندې لاسته راوړونو ته رسېږو.

۱- په اسلام کې په عمومي او په ځانگړي توگه، اسلامي فقه کې او همد راز دافغانستان په قانون کې د ماليې ښه څرگندونې او ستر ارزښتونه او پاملرنې لري.

۲- دماليې څېړنه او قوانين خورا زياتو شيانو ته شامليږي او کومه څېړنه چې دلته ترسره شوه يواځې بېلگه ده او د موضوع دټولو اړخونو څېړنه نه ده شوې.

۳- ماليه داړتيا او ضرورت په بناء مشروعيت مومي.

۴- هر دولت او مملکت دخپل اړتيا، او ضرورت په بنا ماليه ټاکي، او مقدار او اندازې هم دهغې په بنا ټاکل کيږي.
۵- ماليه بايد په ګڼو ګټورو وګړو او د خلکو اقتصادي او مالي وضعې مطابق واخستل شي.

**ځينې سپارښتنې**

۱- نوې او معاصره اسلامي فقه تر اوس مهال پورې ځيني مسائلو کې دوهم ځل پلټنه ته اړتيا لري، بناء د څرګندېدو په موخه بايد نوې بېلګو د عصر مطابق ته زياته پاملرنه وکړای شي.
۲- د ماليې احکام او قوانين دڅېړنې په موخه په عمومي توګه او په ځانګړې توګه افغاني ټولنه کې ځيني وګړي غلط فهمي کې ښکيل دي، د دې ستونزې درفع لپاره داسلامي فقهې له علماوو څخه هيله ده چې علمي ليکنې او پياوړي مقالات په ملي ژبو ددې مملکت اتباعو ته وړاندې کړي.
۳- د افغانستان ماليې وزارت ته مې دا وړانديز دی؛ چې بايد دماليې احکام او قانون په بشپړه توګه پلي کړي؛ ځکه افغانستان، کړيدلی او خوار بيچاره دولت دی، او بې وزله او غريبانان وګړي ډېر لري، بناء دې کار ته اړتيا او ضرورت خورا زيات دی تر دې چې اقتصادي ستونزې کمې شي او خلک باراحته سوکاله ژوند وکړي.
۴- بل وړانديز مې ماليې وزارت دا دی چې نوموړی وزارت کار او نوښت ته پوره پاملرنه وکړي؛ ځکه صنعت او کاروبار داقتصادي ستونزو دحل لپاره د ښو چارو څخه شميرل کيږي، او په بابريکو د ماليې ټاکل يو لامل دی چې په عمومي بڼه په اقتصاد کې ځانګړې رول لوبوي.

**د سرچينو لړليک**

**قرآن کريم**

١- ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (١٤١٦هـ)، مجموع الفتاوى، المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، الناشر، مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية.
٢-ابن حبان، محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي، (١٤١٤هـ)، صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان، الناشر ، مؤسسة الرسالة – بيروت.الطبعة الثانية، ١٤١٤هـ- ١٩٩٣م، تحقيق ، شعيب الأرنؤوط.
٣-ابن حزم، أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي الظاهري (ب، ت)، المحلي بالآثار. الناشر، دار الفكر – بيروت.
٤-ابن خلدون، عبد الرحمن بن محمد، مقدمة ابن خلدون، الكترونيكي نسخه.
٥- ابن ماجه، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، (١٤٣٠ هـ)، سنن ابن ماجه، الناشر، دار الرسالة العالمية، الطبعة الأولى.

٦- أبو داود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي، (١٤٣٠هـ)، سنن أبي داوود، المحقق، شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، دار الرسالة العالمية، الطبعة، الأولى.
أبو نعيم، نعيم أحمد بن عبد الله الأصبهاني،(١٤٠٥هـ) حلية الأولياء، الناشر، دار الكتاب العربي – بيروت، الطبعة الرابعة.
٧- البابرتي، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين (ب، ت)، العناية شرح الهداية،الناشر، دار الفكر، الطبعة.
٨- رسمي جريده، دافغانستان اسلامی جمهوریت، دعدلې وزارت. پر عایداتو باندي دمالیاتو قانون. فوق العاده ګڼه. دخپرېدو نېټه ۱۳۸۷ش دکب میاشتې ۲۸، پرله پسې نمبر (۹۷۶).
٩- الشاطبي، إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشهير الشاطبي(١٤٢٩ هـ)، الاعتصام، تحقيق ودراسة، الناشر، دار ابن الجوزي للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، الطبعة، الأولى.
١٠- الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (١٤١٣هـ)، المستصفى، تحقيق، محمد عبدالسلام عبد الشافي، الناشر، دار الكتب العلمية، الطبعة، الأولى.
١١- القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (١٤٢٣ هـ)، الجامع لأحكام القرآن، المحقق، هشام سمير البخاري الناشر، دار عالم الكتب، الرياض، المملكة العربية السعودية.
١٢- قلعجي، محمد رواس - حامد صادق قنيبي،(١٤٠٨هـ)، معجم لغة الفقهاء، الناشر، دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع. الطبعة الثانية.
١٣- مصطفى محمود زكي (ب، ت) الضريبة في ميزان التشريع الإسلامي.
١٤- الموسوعة العربية العالمية. الكترونيکي نسخه.

# د بام په سر کرنه (Roof Gardening)

محمد عمر " درویش "[1]* محمد طارق درویش "[2]

۱- غزني پوهنتون، کرنې پوهنځي، باغداري څانګې استاد

۲- پکتیکا پوهنتون، کرنې پوهنځی، باغداري څانګې استاد

omerdarwish153@gmail.com

د تر لاسه کولو نېټه: (۱۴۴۵/۷/۱۲)                    د منلو نېټه (۱۴۴۵/۸/۱۸)

**لنډیز**

د بام په سر باغ د ښاري کرنې یا ښاري باغداری یو ځانګړی ډول دی چې د ښاري سمسورتیا لپاره د بام په سر د باغ رامنځته کول یو ښه کړنلاره بلل کیږي. په دی ورستیو کلونو کې د بام په سر د نباتاتو کرل د خلکو د پام وړ ګرځیدلي دي ځکه چې زیاتې ګټې لکه اقتصادي ، محیطي او د ښار د ښایست په رامنځته کولو کې ستر رول لوبوي. شنه بامونه په امریکا ، جرمني ، کاناډا او ځینو نورو اروپایي او آسیایي هېوادونو کې لیدل کیږي چې ددغه بامونو په رامنځته کولو کې د منظرى معمارانو، نبات او بیولوژي پوهانو د اصلي بوټو کارولو ته وده ورکړې په شنو بامونو کې د اصلي نباتاتو د کارولو ډېر دلیلونه د ځمکې د سطحې منظرې ځخه سرچینه اخلي او په ساده ډول چت(بام) ته لیږدولای شي، پرته له دې چې دې حقیقت ته پام وکړو چې چت د ځمکې په پرتله په بنسټیز ډول توپیر لري.په علمي مجلو کې ډېرې داسې مقالې خپرې شوې چې څوک او څنګه د بام په سر بوټي کري او روزنه یې کوي. د بام په سر تر ډېره د *Crassulaceae* کورنۍ د *Sedum* spp دجنس ډولونه کرل کیږي کوم چې ۶۰۰ نوعې لري ددې جنس نوعې څو کلن غوښیني سره تاو شوې او یا غزیدلې پاڼې لري چې ځینې یې د ګل د تولیدولو خاصیت هم لري. د یاد جنس *Allium cernuum L*، *Opuntia humifosa* Raf، *Coreopsis lanceolata* L او *Tradescantia ohiensis* L مناسبې نوعې دي. همدا شان کولای شو چې چمنونه، سابه او بیلابیل ګلان هم د چت په سر وکړو.

**کلیدي ټکي:** شنه بامونه، اقتصادي او زینتي اهمیت ، چاپیریال ساتنې اهمیت.

## ۱ـ سریزه

په ځمکه کې د انسانانو د نفوس دوامداره وده په چاپیریال باندې ډیرې ټولنیزې، اقتصادي او ایکولوژیکي فشارونه رامینځته کوي چې په دې سره ښاري ټولنې دصحي او روغتیایي ستونزو سره مخ کیږي. چې تر ډیره دا ستونزې له چاپیریال څخه منځ ته راځي. صنعتي گازونه، موټرونو لوگي او د ښار ناوړه چاپیریال دهوا پرکیفیت باندې منفي تأثیرکوي.( Urbanization Statistics UN 2018) په داسې حال کې چې اقلیمي تغیرات دځمکې دگرموالي سبب گرځي چې شنه بامونه په داسې شرایطوکې په لوړو طبقو او دساختمانونو په لوړو قسمتونو کې دتازه هوا سبب گرځي. اوداشنه بامونه دتازه هوا اودسیوري سبب گرځي چې دهوا دآلودگۍ (ککړتیا ) مخنیوی کوي، دباران یا اورښت اوبه جذبوي. چې په ټوله کې دلوړو طبقاتو دښکلا اود هوا دککړتیا دمخنیوي په خاطر شنه بامونه ارزښت لري.چې دغه سیستم زیاته سابقه په امریکا او اروپا کې لري.چې اوس مهال په امریکا، آلمان، اونورو اروپایي هیوادونوکې دبام دسرکرنه یا شنه تراسونه استفاده کیږي.(جوزی،سیدعلی ۱۳۸۹) چې تقریبا په آلمان کې ۸۰۰۰ پروژې موجودې دي. نن سباپه نړۍ کې نفوس مخ په زیاتیدو دی د ښارونو په داخل کې دلوړوتعمیرونو جوړول پیل شویدي او د ښارونو په نیږدې چاپیریال کې کرنېزې ځمکې په ښار باندې بدلې شوې نو د غذایي موادو د کمښت سره مخ کیدل ددې ستونزو د حل لپاره یوه لاره په هېوادونوکې د بام په سر کرنه (روف گاردنینگ) ده.د بام په سرکرنه نه یواځې د غذائي موادو د کمبود په موخه روزل کیږي بلکې ډیرې نورې لکه اقتصادي ، ټولنیزې، طبي گټې لري او همدارنگه د ښاري ښایست سبب گرځي.(Abass et al 2020F) د چت باغونو د جوړولویوله مهمودلیلونوڅخه په ښارکې دشنوساحو زینتي لید دی،چې د ښاریانو د ژوند کیفیت سره مرسته کوي. شنه چتونه د باران اوبه جذبوي،لږ تر لږه پنځوس سلنه د اوبو جریان کموي او د ناپاکو اوبو، سیندونو او جهیلونو ته د ننوتلو دمخه د ناپاکو اوبو فلټرکول او په دې توگه د هوا ککړتیا او دوړې کموي. په ټوله کې دچت باغونه یو له خورا نوښتونو او ارزانه لارو څخه دی چې د خراب شوي ښاري چاپیریال د ښه کولو لپاره کارولای شو

**مؤخې**

- دشنو بامونو پیژندل
- د شنو بامونو اقتصادي ارښت
- د شنو بامونو زینتي ارزښت.

**۲ـ د څېړنې کړنلاره**

داڅېړنه کتابتوني ده کوم چې تشریحي کړنلاره غوره کوي. د موضوع اړوندمې دبیلابیلو معتبرو کتابونو،انترنیتي سایټونو او ژورنالونو څخه کوم چې نوي څېړنیزي مقالې په کې نشرشوې گټه پورته کړې ده.

هغه مهم او رزښتناکه ټکي چې د موضوع د ښه وضاحت لپاره اړین بلل کیږي راټول او په لاندې ډول تشریح شوي.

## ۳ـ د شنو بامونو( روف گارډن ) پیژندنه

ټولې هغه عملیې چې د بام پر سرد شین چاپیریال باعث گرځي یا هر هغه باغ چې د تعمیر پر سر موقعیت ولري د بام په سر باغ ورته ویل کیږي. د شنه بام (Green Roof) ، د اوسیدو بام living roof ) ، ایکو بام( eco-roof) د سبو بام (Vegetative roof) او د بام د سر باغ( roof top garden) اصطلاحگانې د بام په سر د کرنې څخه عبارت دي یا شنه بامونه د هغه نوې تکنالوژي (کړنلاري )څخه عبارت دي چې د بام پر سر په مناسبو ځایونکې فصلي او یا همیشني نباتات کرل کیږي( حسین یزدان داد او ملگری یط ۱۳۸۹).

په هند کې د شنو بامونو او شنوخونو په منځ کې غلط تصور وو او په ډیرو عنوانونو کې شنوخونو ته شنه بامونه ویل شوي خو د بریتانیا په تخنیکونو او تجربوکې دقیقاً صحیح نه دي شنې خونې په مکمل ډول توپیر لري د شنو بامونو سره په اکثرو ځایونوکې د زرغون بام کلیمې څخه گټه اخیستل کیږي. پداسې حال کې چې د بام په سرکرنه یو لړ تدابیر نیول غواړي ترڅو چې بام د اوسیدو د چاپیریال لپاره امکاناتو شتون لکه لمریزې هنداري، بادي توربینونه د اوبو ټولولو او بیا استعمال سیستمونه او داسې نورو څخه گټه اخیستلای شي.د روف گارډن هغه مثبتې اغیزې چې د ښاري ژوند پر چاپیریال باندې یې لري په دې ورستیو کلونو کې د نړۍ د ډیرو هیواونو توجه یې ځانته اړولې او اوس مهال تورونتو، برلین، سنگاپور او ځینو نورو هیوادونو د بام په سر دکرنې په مختلفو پروژو لاس پوري کړي(احمد او ملگري ۲۰۱۴) .

د بام په سر بیلابیل نباتات د بیلابیلو موخو د ترلاسه کولو په منظور کرل کیږي چې تر ډیره د Crassulaceae کورنی د Sedum spp دجنس ډولونه کرل کیږي کوم چې ۶۰۰ نوعې لري ددې جنس نوعې څو کلن غوښیني سره تاو شوي او یا غزیدلې پاڼې لري چې ځینې یې د گل د تولیدولو خاصیت هم لري. د یاد جنس Coreopsis ، Opuntia humifosa Raf،Allium cernuum L lanceolata L اوTradescantia ohiensis L مناسبې نوعې دي . همدا شان کولای شو چې چمنونه، سابه او بیلابیل گلان هم د چت په سر وکرو(Michael A. Monterusso at.al,2005)

**۴- کوم بامونه دشنه بام دپاره مناسب دي :**

په ټولو بامونو باندې يعنې په فلزي بامونو، سيمټي بامونو او د ختې څخه جوړ شوي بامونو باندې کولای شو چې نباتات وکرو په دې شرط چې د بامونو شيب يا ميلان د ۳۵ درجو څخه ډېر نه وي هغه موارد چې بايد هغه په نظر کې ولرو د باد دحرکت جهت ، دکړکينانو څخه د لمر د وړانگو انعکاس او د بام درنځا اخيستلو ميزان ته اشاره کولای شو .

**۴-۲د شنو بامونو ډولونه (مختلفې نوعې)**

د بام د باغونو اجرايي سيستم په څلورو ډولو تقسيم شوی دی :

۱. پراخ سيستم Extensive System
۲. متمرکز سيستم Intensive System
۳. جعبه ئی سيستم Planter Box System
۴. ترکيبي سيستم Synthesis System

**۴-۲-۱ پراخ سيستم Extensive System**

د دي سيستم لپاره د green roof يا شنه بام کليمه استعماليږي او دا سيستم د کم عمقه او يا کم ضخامت لرونکي سيستم په نامه سره هم پيژندل شوی دی په دې سيستم کې يوازې يوه يا دوه نوعې د نباتاتو چې کم ژوروالي ته اړتيا لري کرل کيږي د دې سيستم څخه معمولاً هغه وخت گټه اخلي کله چې هغوی د هغه وزن په نظر کې ونيسي او دې ډول سيستم ته يوازې د هغه ساتونکي لاس رسی لري په دې سيستم کې يوازې چمنونه پر مسطح او شيب لرونکي بامونو باندې کري او همدارنگه هغه نباتات کرل کيږي چې د هغوی ريښې ۴ – ۱۰ سانتي ميترو پورې ژوروالي ته اړتيا ولري دا ډول بامونه په کال کې يو واری د نباتاتو د ودې لپاره کود ته اړتيا لري چې دا ډول بامونه يوازې يوه نازکه طبقه لري (Md Aslam Hossain and *at.al* 2019 ).




**انځور (۱) د پراخ سيستم طبقې(عباس او ملگری يې ۲۰۲۰)**

### ۴-۲-۲ ژور سیستم Intensive System

د دې سیستم لپاره د Roof garden یا د بام باغ یا Intensive system کلیمه استعمالوي او دا ډول سیستم د ژور سیستم په نامه سره هم پیژندل شوی په دې سیستم کې مختلف ډولونه د نباتاتو شتون لري او د پارک په ډول یې جوړولای شو د دي سیستم په یوه برخه کې لویې ونې موجودې دي دا ډول بامونه اوبو لګولو ، کود ورکولو او هر ډول مراقبت کولو ته اړتیا لري. ژور شنه چتونه یو کوچني پارک یا کورني باغ ته ورته گڼې وړاندې کوي.( Md Aslam Hossain and *at.al* 2019)




**انځور (۲) د ژور سیستم طبقې(عباس او ملگری یې ۲۰۲۰)**

### ۴-۲-۳جعبه ئی سیستم Planter Box System

په دې سیستم کې نباتات او د هغه د کرلو ټول محیط په مخصوصوجعبو یا بکسونوکې چې ټول یا د بام اکثره برخه یې پوښلې دي کرل کیږي په غیرجعبه ئی سیستم کې د کرلو طبقه د شنه بام سره نښتې وي او په دې سیستم کې دکرلو ساحه د بام سره تړلې نه دي.



**انځور (۳) جعبه ئی سیستم( ایوان راندولف ۲۰۱۰)**

**۵- د روف گارډن لپاره د خاورې انتخاب**

۱-د روف گارډن خاوره باید مخصوص وزن او ډیره سپکه وي .

۲-د روف گارډن خاوره باید د اوبو جذبولو ډیره توانايي ولري .

که څه هم د روف گارډن د نباتاتو د اړتیا وړ غذايي مواد د کود ورکولو پواسطه رفع کولای شو اما د روف گارډن د خاورې د اړولو د ستونزې په خاطر د روف گارډن خاوره باید غذايي مواد ولري تر څو د وخت په تیریدو سره وکولای شي د نباتاتو د اړتیا وړ غذايي مواد ور پوره کړي

**٦- د شنو بامونو اقتصادي اوطبي ارزښت**

۱-د بام د عمر ډېرېدل.

۲-د ملکیت ارزښت ډېرول.

۳- خلک کولای شي چې د خوراکي نباتاتو په ساتلو سره گټه تر لاسه کړي.

۴- د تودوخې او یخنی په وړاندې مقاومت پیدا کوي.

۵- د اورښتونو دشدت کمول.

٦- د استوگنې د پاره ښه چاپیریال رامنځته کوي.

۷- دبعضو ویروسي امراضو کموالی .

۸- د ذهن آرمتیا.

۹- دخلکو لپاره دکار زمینه مساعدوي.

۱۰- د خرابې هوا فیلترکول او د کاربن ډای اکساید کمول چې د سړي د ناروغي دکمولو سره مرسته کوي

۱۱- دښارد خلکو روحي او جسمي آرامتیا.(Jim C Y 2017 ).

**۷- د بام په سر دباغ رامنځته کولو څخه وړاندي مهم ټکي**

۱-د چت د ټینگوالي څخه باید مطمئن شو چې ایزوگام د بام پرسرباندې څومره ده او دا چې چت کولای شي د باغ اضافه وزن وزغمي په سړو سیموکې د اورښت وزن هم باید په نظرکې ولرو .

۲-چت باید د اوبو ضد طبقو لکه حرارتي پلاستیکي پوښ یا ډبرو پواسطه وپوښل شي. د وروستۍ مرحلې د شروع څخه مخکې باید بام لوند کړل شي د دې لپاره چې مطمئن شو چې اوبه نفوذ نه کوي.

۳-که چیرې بام میلان لري نوضرورده چې دتختونو پواسطه هغه په کوچنیو مربع گانو یا مستطیلو باندې ووېشو .

۴-د ځینو ترکیبي موادو لکه رنگ،سکاره،کوچني بوټي ( خاشي ) یا کاغذ او نورو څخه یوه د زهکشي طبقه ور علاوه کړي.

۵-د خاورې د ښه مخلوط څخه چې د نباتاتو لپاره مناسب دي ۲۰ سانتي متر د خاورې ژوروالی په نظرکې ونیسي.

٦-په خپل بام باندې مختلف نباتات چې د هر فصل لپاره مناسب وي وکرئ .

۷-د پیچک او کوچني سرخسونو په کرلو سره پیل وکړئ او وروسته نور نباتات په خپله خوښه وکرئ.

۸-په نظر کې ولرئ چه د بام پر سر باندې نباتات وکرئ نو باید ساتنه او مراقبت یې وشي.

**۸- د بام هغه فزیکي ځانګړتیاوې چې د ډیزاین په وخت کې باید په نظر کې ونیول شي :**

**میلان** : ۱-۳۰ درجې میلان د خاورې د تخریب د مخنیوي لپاره ضرور او د خاورې د تـثبیت سبب گرځي . د بام اوږدوالی له شروع څخه د بام تر پایه پورې خاورې د رطوبت پر فیصدي باندې اغیزه لري . لاسته راغلې اوبه د موینگي قوې پواسطه په خاوره کې دریږي مگر ډېره کمه فاصله د خاورې رطوبت پاتې کیږي . د وچوالي زیاتره شرایط د بام په لوړه برخه کې وجود لري .

**لوری** : د بام شمالي او جنوبي برخې د تودوخې او رڼا مختلف شرایطو لرونکي دي . همدارنگه که د بام ځیني برخې د نورو ونو یا تعمیرونو په سیوري کې وي نو نباتات په مختلفو شکلو وده کوي. همدارنگه پر بامو باندې ځیني ځایونه دي چې زیاتې اوبه د نورو بامونو څخه ورته راځي یا ځینې ځایونه کیدای شي هیڅ اوبه تر لاسه نه کړي،په دغو دواړو حالتونو کې د کوچنیو ډېرو څخه د وچ شوي نباتي پوښ په ځای گټه څنې اخیستلای شي مناسب دی. مگردا چې د دې اداره ولري چې د آبیاری پواسطه نوموړې برخې شنې وساتي .

**باد** : زرغون بام د نورو جوړو شوو بامو په نسبت چه دنورو موادوڅخه جوړ وي د توفان په مقابل کې د لږ خطر سره مخامخ دي تجربو ښودلې چې د یو طوفان څخه وروسته په سویډن کې یو زرغون بام د نورو په نسبت لږ ضرر لیدلی وو. په هغه ځایونو کې چې زیات باد چلیږي نو محافظوي شبکو ته اړتیا لري چې پر بام باندې تاو شوي وي .

**وزن** : د شنه بام د نصب څخه مخکې باید هغه اضافي وزن چې پر بام باندې واردیږي او ساختمان یې زغملای شي معلومات ولرو. د زرغون بام یو ه نازکه طبقه ۵۰ kg پر مترمربع وزن لري چې د اوبو څخه اشباع وي . نور ډولونه یې سپک دي چې د ډبرو د وړیو څخه کار اخیستل شوی دی د هغه یوه لایه (طبقه ) خاورې پر ځای ۳۵ کیلو گرام پر متر مربع وزن لري زغملای شي د دې

په پر تله د موزايکو وزن ۳۳-۳۵ کيلو ګرامه دی که په سيمو کې واورې اوري د واورې د وزن هم بايد وړاندوينه وشي او هغه ته ور اضافه شي (Wark Christopher 2003 ).

**۹-د شنه بام د جوړښت لپاره لاندي پنځه برخې په نظر کې نيول په کار دي**

**۹-۱د نباتاتو د پوښلو طبقه يا پوښ Plant layer :**

د امکان تر حده پورې بايد شنه بامونه سپک جوړ شي نو په غالب ګمان سره بايد هغه نباتات پکې وکرل شي چې کم ژوروالي ته اړتيا ولري او په لږ ساتلو او مراقبت کولو سره وده وکړي.

**۹-۲د کرلو محيط growing medium :**

دا هغه ساحه ده چيرته چې نباتات په وده او نمو پيل کوي او د دې ساحې خاوره بايد سپک وزن ولري او خاوره يې په معمولي ډول ترکيبي خاوره وي ( د براده او نباتي کود ) څخه تشکيل شوي وي.

**۹-۳ د زهکشي پوښ يا طبقه :**

د زهکشي پوښ کيدای شي د لاندي پوښونو د مجموعي څخه لاسته راغلی وي

- ✓ **د فيلټر پوښ Filter layer** :

د کښت د پوښ او د زهکشي د پوښ تر منځ د فيلټر پوښ قرار لري چې رطوبت د ريښو څخه لرې کوي او د ريښو د ورستيدو مانع ګرځي .

- ✓ **د ريښو د نفوذ ضد پوښ Root Barrier** :

دا يو پوښ چې د ريښو د نفوذ څخه په ښه ډول مخنيوی کوي او نه پريږدي چه د تعمير چت د ريښو پواسطه تخريب شي.

- ✓ **د زهکشي پوښ Brain Board** :

دا پوښ د دريو برخو څخه جوړ شوی دی چه لومړنی پوښ د فيلټر کار کوي او اضافي اوبه د نبات د ريښو څخه لرې کوي او د ريښو د ساتلو دنده هم لري او منځنی پوښ يې مخروطي کاشي په شان شکل لري اضافي اوبه د ريښو څخه اخلي او په ځان کې يې ساتي او لاندنی پوښ يې د فيلټر يوه برخه ده او پوښ د تخريب څخه ساتي .(۴)

**۹-۴ محافظتي پوښ يا طبقه :**

دا پوښ د هغه پوښ څخه عبارت دی چې بام او د بام د عايق سيستم د اوبو د نفوذ څخه ساتي دا پوښ د مختلفو شيانو د ترکيب څخه جوړ شوی ( پنډ پلاستيکې پوښ ، مسي پوښ او داسې نور )

**۹-۵ د بام رطوبتي پوښ Water Proofing :**

د تعميرونو د چت د کيناستلو يا نشست او څه څولو څخه مخ نيوی کوي (Yu WD, Cheng 2017).




**انځور(۴) د شنه بام دپاره طبقې**

**۱۰- پـایـله**

بام د باغونو شتون د ساختمان د ټولو خلکو او مالکانو لپاره بهترينه انګيزه منځته راوړي يوه نمونه د ښاري بزګرى ( Urban agriculture ) کولای شو د وانکور په ښار د بريتيش کلمبيا په ايالات په کاناډا کې مشاهده کړو ، او همدارنګه د Trent د پوهنتون د بام د سر د باغونو محصولات کولای شي چې تازه غذايي مواد د پوهنتون د محصلينو او د ښار د يوې منطقې لپاره برابر کړي .نورې پايلې يې په لنډ ډول داسې يادوو.

۱ په روف ګارډن يا شين بام کې ټول هغه کارونه چې په شنه فضا پورې مربوط دي او جذاب وي سرته رسيږي.

۲ په روف ګارډن کې حوض ، د بوټو او تختو څخه جوړې شوې خونې ، فلاور باکس ، طبيعي او مصنوعي چمنونه ، باربيکيو چاپيريالونو جوړول سرته رسيږي .

۳ په روف ګارډن يا شين بام کې د طبيعي او مصنوعي چمن څخه استفاده کولای شو او د بام شا او خوا داسې جوړولای شو چې د يو طبيعي چاپيريال يا ژوند کولو ځای په څير معلوم شي .

۴ په روف ګارډن کې فلاور باکس،د تختو څخه جوړ شوي ګلدانونه، سيمتي او پلاستيکي په يوازې او يوځای توګه استفاده کولای شو .

۵ د روف ګارډن د بام د سطح څخه کولای شو د لاندنی‌سطحې په توګه استفاده وکړو او دغه د مورد نظر سطحې بايد ايزوګام کړو او وروسته بيا مختلفې باغچې،نباتات،چمنونه،حوضونه او سايوانونه پرې جوړولای شو.

**۱۱- سپارښتنې**

۱- دولت د ښاري نفوسو د تراکم او د غذايي موادو په تيره بيا د سابو او ميوو د کمښت له منځه وړلو لپاره بايد د روف ګاردنينګ ترويجولو ته خاصه پاملرنه وکړي.

۲- په لويو ښارونو کې د هوا د ککړتيا د کمولو لپاره د روف ګاردنينګ غوره اغيزه د پامه ونه غورځول شي.

۳- د ښارونو دښکلي کولو او په ښارونو کې د شنې فضا رامنځته کولو دپاره بايد اقدام وشي.

۴- د روف ګاردنينګ په مروجولو سره خلکو ته د کار زمينه برابره شي.

۵- په هيواد کې د اوبو کمښت ورځ تر بلې ناوړه حالت غوره کوي نو ښه ده چې د اورښتونو او نورو اضافه اوبو څخه د روف ګارډي نينګ پواسطه اعظمي ګټه پورته شي.

**۱۲- ماخذونه**


۱. ۲ سبقتی ، ایرج ، ( پشت بام های سبز ) ، ۱۳۷۱

۲. ٦ ـ یزدان داد ، حشین ، ( ارزشها و کارکردهای محیط زیستی بام های سبز در توسعه پایداری شهری ) دانشگاه گیلان ، ۱۳۸۹ ه ش ص ص ۷۱ – ۷۸

3. Ahmed S F, Ahasan T, Rasul M G, Khan M M K and Azad A K 2013 Performance Evaluation of Hybrid Green Roof System in a Subtropical Climate Using Fluent *J. Power Energy Eng.* **2**(4) 113–119

4. Dunnett N N and Kingsbury 2008 *Planting Green Roofs and Living Walls* 2nd illustrated (Portland, Ore: Timber Press)

5. Hossain MA, Shams S, Amin M, Reza MS and Chowdhury TU 2019 Perception and Barriers to Implementation of Intensive and Extensive Green Roofs in Dhaka, Bangladesh *Buildings* **9**(4) 79

7. Jim C Y 2017 Green roof evolution through exemplars: Germinal prototypes to modern variants, *Sustain. Cities Soc.* **35** August 69–82

8. Jim C Y 2017 Green roof evolution through exemplars: Germinal prototypes to modern variants, *Sustain. Cities Soc.* **35** August 69–82

9. Urbanization Statistics UN 2018 *Revision of World Urbanization Prospects* (New York: UN DESA)

10. Wark Christopher (green roof specification and standards establishing an emerging technology) 2003, pp 2 – 9

11. Yu WD, Cheng S T, Miao C M and Perng G Y 2017 Green innovation of green roof technology - a case study *Materwiss. Werksttech* **48**(5) 420–429

**Work Cited**


1. Rooftop Gardens. N.p., n.d. Web. 09 May 2017. http://www.cityfarmer.org/rooftop59.html
2. " SAGE "Sage green life. N.p., n.d. Web. 07 May 2017.
3. <https://sagegreenlife.com/livingwalls/?gclid=CPejnanA49MCFcK6wAod158PqA>.
4. Wiley, Deb. "Vertical Gardening." Better Homes and Gardens. N.p, 17 Feb. 2017. Web. 06 May 2017.
5. <http://www.bhg.com/gardening/container/plans-ideas/vertical-gardening/>

# د خاورې سولرائزيشن او د نباتي افتونو، ناروغيو او هرزه بوټو په کنترول باندې د هغه اغيزې

**پوهندوی سيدرحيم " غفاري" [1*] او پوهنيار سيدالرحمن " صميمي" [2]**

۱- د غزني پوهنتون، د کرنې پوهنځي، اګرانومي څانګې استاد

۲ - د غزني پوهنتون، د کرنې پوهنځي، د نباتاتو د ژغورني څانګې استاد

sayedrahim23@gmail.com

**د تر لاسه کولو نېټه:** (۱۴۴۵/۷/۱۵)                    **د منلو نېټه** (۱۴۴۵/۸/۱۹)

**لنډيز**

په عام ډول سره ډېر وخت د کرنيزو نباتاتو حاصل د هرزه بوټو د هجوم او د خاورې څخه رامينځته کيدونکي ناروغيو له امله ننګول کيږي. په مقابل کې يې کروندګر اړ دي چې په پراخه کچه زيان رسوونکي، لوړ قيمت او نه پايښت لرونکي کيمياوي سرې، هرزه وژونکي او آفت وژونکي وکاروي. د مختلفو کيمياوي موادو استعمال په کروندو کې د خاورې څخه د زيږنده ناروغيو، آفتونو او هرزه بوټو اغيزمن کنټرول رامينځته کوي، مګر د هغوی زهريت او په نباتاتو او خاوره کې يې پاته کيدونکې زهريت او د هغوی لوړ قيمت د دوی استعمال خطرناکه او زيات لګښت لرونکی ګرځوي. له همدې امله، د غير کيمياوي يا دآفت وژونکو کم استعمال د کنټرول ميتودونو په کارولو باندې ډېر ټينګار شوی دی. د خاورې سولرائزيشن د آفت وژونکو يا کيمياوي موادو له کارولو پرته يو تخنيک دی چې په پراخه کچه د خاورې پتوجنونه ، نيماتودونه او د هرزه بوټو تخمونه د خاورې د تودوخې پواسطه چې په مرطوبه خاوره د پلاستيکي شيټونو د ځای په ځای کولو سره لوړېږي له مينځه وړي. سربيره په دې د خاورې حاصلخيزي اصلاح کوي او په دې توګه د کرنيزو نباتاتو په حاصلاتو کې د پام وړ زياتوالی رامينځته کوي. د خاورې سولرائزيشن په موثره توګه د لمريزي انرژی کارولو ته شامليږي ترڅو پولی اتيلين شيټ پواسطه د پوښل شوي مرطوبې خاورې تودوخه تر ۵۰ سانتي ګراد پورې لوړه شي. د خاورې تودوخه، د خاورې رطوبت، د پلاستيکي موادو کيفيت چې د سولرائزيشن لپاره کارول کيږي، د فلم ضخامت او د پروسې موده هغه مهم عوامل دي، چې د آفتونو او ناروغيو څخه د پاکې خاورې ترلاسه کول اغيزمن کوي. دا ټکنالوژي د نباتاتو د ژغورنې او خاورې حاصلخيزي لوړولو لپاره يوه خوندي، ارزانه، اغيزمنه او دوامداره ستراتيژي ده.

**کليدي ټکي:** د خاورې سولرائزيشن، دخاورې زيږنده پتوجنونه، هرزه بوټي او نيماتودونه

**۱- سريزه**

خاوره د خوړو د توليد لپاره يوه بنسټيزه وسيله ده. برسېره پردې، دا د ټولو نباتاتو د بېلابېلو نوعو، د ډېرو گټورو مايکرونيزمونو، او زيان رسونکو مايکرو ارگانيزمونه چې د ناروغيو لامل کيږي يو بستر دی (Kanaan *et al*., 2018). په خاوره کې د هرزه وښو د تخمونو او د ناروغيو د سپورونو تحرک د هرزه بوټو او د خاورې څخه د زيږنده ناروغيو د ويش، تراکم او هجوم اندازه ټاکي (Kumar *et al*., 2023). برسېره پردې، د خاورې د حاصلخيزي کمزوری حالت د هرزه بوټو هجوم راوړنکې او د خاورې څخه د زيږنده ناروغيو زيان رسونکې اغيزې لا زياتوي (Safdar *et al*., 2021). هرزه بوټي د نباتاتو سره د غذايي موادو، رطوبت او رڼا لپاره رقابت کوي او د خاورې څخه د زيږنده ناروغيو لپاره ښه ناقلين دي، چې کيدای شي په حاصلاتو کې د پام وړ کموالی مينځته راوړي. هرزه بوټي، د خاورې زيږنده ناروغی، او د خاورې د حاصلخيزي کمزوری حالت د کرنيزو نباتاتو حاصلات په ترتيب سره شاوخوا ۷۱، ۶۵، او ۱۰۰٪ کمولای شي (Mihajlovic *et al*., 2017). د خاوری څخه د زيږنده پتوجنونو او په خاوره کې د هرزه بوټو د تخم بانک اداره کول يو ستونزمن کار دی، ځکه چې دوی کولی شي د ځيني جوړښتونو (ميکروسکلروتيا، سکليروتيا، کليميډوسپورنو يا اواسپورنو) په رامينځته کولو سره د څو کلونو لپاره دوام وکړي (Gebretsadkan *et al*., 2020).

که څه هم د افت وژونکو (herbicides, insecticides, fungicides etc.) په وسيله د هرزه بوټو، حشراتو او ناروغيو په کنترول کې يو کاميابه ريکارد ترلاسه شوی دی، د نړۍ په هره برخه کې يې حاصل څو چنده زيات کړی دی، او کروندگرو د زراعتي کيمياوي موادو (مصنوعي سرې، آفت وژونکو او هرزه وژونکو) کارولو ته ليواله دي. خو د دغه کرنيزوکيمياوي موادو د دوامداره او زيات استعمال له پلوه د بزگرانو اقتصاد ته زيان رسيږي له بله پلوه د خاورې گټور مايکرونيزمونه وژني، د خاورې طبيعي حاصلخيزي کموي او چاپيريال (اوبه او هوا) ککړوي (Wolie, 2023). ځينې ضدعفوني کوونکي په تيزۍ سره له خاورې فرار کوي او له دې امله د اوزون طبقې ته د زيان رسيدو سبب کيږي. ځيني ارگانوکلوراين حشره وژونکي بيا په ډېره بطي توگه په خاوره کې په منرالي حالت بدليږي او په دې توگه د خاورې له هغې برخې څخه، چې هغې ته مونږه دغه کيمياوي مواد علاوه کړي د هغوی پاته شوني د خاورې هغې برخې ته حرکت کوي چيرته چې نوموړي مواد مو نه وي علاوه کړي. نو په دې ډول سره د هغوی شديد استعمال د انسانانو، حيواناتو او هدف نه گرځول شوو

اورگانيزمونو لپاره چاپيريالي ستونزه رامنځته کوي. خاورې ته د هرزه وژونکو او حشره وژونکو علاوه کول ځمکه ملوثه کوي او د ځمکې د مخ اوبه خرابوي. په پايله کې اترازين، پروپانيل، او نور هرزه وژونکي او DDT، BHC ، Aldrin او داسې نور حشره وژونکي بدې پايلې او د انسان په روغتيا باندې نه جبران كوونكې اغيزې رامنځته کوي.

په نړيواله کچه د کرنې سکتور تمه لري، چې تر ۲۰۳۰ کال پورې د کيمياوي سرو او آفت وژونکو استعمال په ترتيب سره ۲۰ او ۵۰٪ کم کړي او عضوي کرنې ته د ۲۵٪ په اندازه پراختيا او وده ورکړي (د اروپا کميسيون، ۲۰۲۳). له همدې امله د خاورې د حاصلخيزي لوړونې او د هرزه بوټو او نباتي ناروغيو د مديريت لپاره يوې پايداره، له اقتصادي پلوه د امکان وړ، چاپيريال همغږه کوونکې، په ټولنيزه توگه منل کېدونکې او اغيزمنې ستراتيژۍ ته اړتيا ده. له دغه ډول ستراتيژيو څخه يو هم د خاورې سولرائزيشن (خاورې ته لمر ورکونه) طريقه ده، چې خاورې ته د تودوخې ورکونې په معنی سره ده. د خاورې سولرائزيشن په سيمه ييزه توگه د لاسرسي وړ مواد (پلاستيک او د نباتي پاتې شونو) په کارولو سره چې د خاورې پوښلو لپاره کارول کيږي د لمر انرژي د رانيولو عمل دی. دغه کړنه د خاورې په تودوخه کې زياتوالی رامينځته کوي، په خاوره کې د هرزه بوټو د تخمونو بانک له مينځه وړي او د عضوي موادو تجزيه اسانه کوي (Gill *et al*., 2017). خو د نباتي پاتې شونو سره د خاورې سولرائزيشن د ژوندی کتلې (بايوماس) د لوړې اندازې د توليد له امله او د پتوجنونو او هرزه بوټو د تخمونو د وژلو لپاره د اړتيا وړ اعظمي تودوخه نه ترلاسه کولو ممکن ښه انتخاب نه وي. نو په دې توگه د نباتاتو د ساتنې لپاره د پلاستيکي ملچ پواسطه د خاورې سولرائزيشن د يوې خوندي، ارزانه، اغيزمنې او پايداره ستراتيژۍ په توگه د هرزه بوټو او له خاورې څخه د زيږنده ناروغيو د کنترول او د خاورې رطوبت او حاصلخيزی لوړولو لپاره يو ښه انتخاب کيدای شي (Gebretsadkan *et al*., 2020). د پلاستيکي ملچ پواسطه د خاورې سولرائزيشن يوه هيله ښونکې ټکنالوژي ده، چې د کرنيزو نباتاتو ساتنه چاپيريال سره په همغږه کوونکي ډول سره مينځته راوړي (Wolie *et al*., 2023).

دا چې زمونږ په هيواد کې بزگران د خاورې په حاصلخيزي د هرزه بوټو او ناروغيو په کنترول باندې د خاورې سولرائزيشن د اغيزو په اړه لږه او يا هيڅ پوهه شتون نه لري نو د هغه تطبيق هم ډېر کم او يا هيڅ شتون نلري. د دغه کتابتوني څېړنې له پايلو څخه تمه کيږي، چې د خاورې سولرائزيشن

د کارونې په اړه د نویو معلوماتو په چمتو کولو سره به د خاورې په حیاتي تنوع، د خاورې حاصل ورکونې او چاپیریال باندې د سولرائزیشن د اغیزو په اړه د معلوماتو د نه شتون تشه له منځه یوړل شي.

**۲- د څېړنې کړنلاره**

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري د یادې موضوع د ښه تحلیل او تفسیر لپاره هڅه شوې چې مستند او معتبر معلومات را غونډ شي. د معلوماتو د موندلو په موخه له بېلابیلو کتابونو، علمي مقالو او انټرنیټي ویب سایټونو څخه استفاده شوې ده. د معلوماتو د اوډلو، تحلیل او تفسیر په موخه په شته معلوماتو نهایت غور او دقت شوی.

**۳- بحث او مناقشه**

د خاورې د سولرائزیشن مفهوم او د هغه د پلي کولو اساسات

د خاورې سولرائزیشن[1](خاورې ته لمر ورکونه) په خاوره کې د رامنځته کیدونکو پتوجنونو او هرزه بوټو د کنترول په موخه یوه غیر کیمیاوي او هایدروترمل[2] (د لمده بل او تودوخې یو ځایي او ترکیب کوونکی عمل) پروسه ده، چې په دغه ساده طریقه کې مرطوبه خاوره د یوې زماني پروسې په جریان کې د لمر د وړانگو نیولو په موخه د اوړي په گرمو میاشتو کې د پلاستیک پوسیله پوښل کیږي (۱- شکل). د دغې مرحلې په جریان کې له ۸۵ – ۹۵ سلنه د لمر وړانگې له پلاستیک څخه نفوذ کوي او په خاوره کې د فزیکي، کیمیاوي او بیولوژیکي تغیراتو رامنځته کیدو سبب گرځي. په دغه طریقه کې د خاورې د تودوخې درجه هغه اندازې ته لوړیږي چې په خاوره کې د رامنځته کیدونکو زیاترو نباتي پتوجونونو، د هرزه بوټو د تخمونو، د پرازیټي بوټو د جوانو او د خاورې د سپږیو لپاره وژونکي وي (DeVay, 1991;). په عام ډول سره د خاورې سولرائزیشن په مرطوبه خاوره کې چې په مساوي ډول سره قلبه شوې، همواره شوې، او له اوبو لگولو وروسته د مزرعې د توان حالت ته رسیدلي وي ترسره کیږي (Wolie *et al.*, 2023). نو د دې لپاره چې خاورې ته له

---

[1] Soil solaization

[2] Hydrothermal

لمرورکونې څخه ښې پایلې ترلاسه شي د خاورې سولرائزيشن په مهال باید لاندې اساسات په پام کې ونیسو:

**۴. د خاورې اماده کول:** د خاورې سولرائزيشن د سرته رسولو په وخت کې لومړنی گام د بستر قلبه کول او د کرلو لپاره د هغه اماده کول دي تر څو د خاورې د لاندنيو طبقو څخه د خاورې سطحې ته د هرزه بوټو د هغه تخمونو له راوړلو څخه مخنيوی وشي کوم چې د سولرائزيشن تر اغيزې لاندې نه وي راغلې. نو ځکه لازمه ده چې د سولرائزيشن څخه مخکې خاوره په بشپړه توگه قلبه او همواره شي، د هرزه بوټو، نباتي پاته شونو او لوټو څخه پاکه شي، تر څو ښه میده ټکسچر رامنځته شي او د پلاستيک لاندې د هوايي خلاوو د رامنځته کیدو مخنيوی وشي، ځکه هوايي خلاوې د لمر د وړانگو د تشعشع په وړاندې دعایق په څیر عمل تر سره کوي او د تودوخې اغيزه کموي. سربيره په دې د هرزه بوټو، نباتي پاته شونو او لوټو شتون د پلاستيک د پاره کيدو لامل هم گرځي.



https://sellugsk.live/product_details/25953463.html

**۱- شکل: د نیماتودونو او خاورې څخه زیږنده ناروغیو د کنترول لپاره د خاورې سولرائزيشن**

**۵. د خاورې ابیاري:** دخاورې د اماده کولو وروسته خاوره باید په ښه ډول سره ابیاري شي، ځکه د لمده بل په علاوه کولو سره له یوې خوا تودخه په تیزی سره په خاورې کې نفوذ کوي او له بله پلوه د اورگانيزمونو حساسیت د تودوخې په وړاندې زیاتيږي.

**۶. د جر جوړول:** د پلاستيک له پوښلو څخه مخکې باید د پلاټ شاوخوا یو جر د ۶ -۸ اینچه په ژوروالي سره وکيندل شي، تر څو د پلاستيک د داخلي څنډو د ټټولو لپاره ورڅخه استفاده وشي(Jagtap *et al.*, 2022).

**۷. د خاورې پوښل:** له اوبخور وروسته د خاورې سطحه باید زرتر زره د پولي ایتلین شفاف پلاستیک په وسیله وپوښل شي. کله چې پلاستیک په بشپړه توگه ځای په ځای شي نو د پلاستیک څنډې له مخکې نه په ایستل شوي جر کې باید ښې پټې او خاوره ورباندې ښه تخته شي تر څو دتودوخې دضایع کیدو مخنیوی وشي (Jagtap *et al.*, 2022). نازک او شفاف پلاستیک د تور پلاستیک په پرتله د لمر زیاتو وړانگو ته اجازه ورکوي او خاوره زیاته گرموي. د دې لپاره چې د باد په وسیله د پلاستیک د پاره کولو مخه ونیول شي نو د پلاستیک لاندې د یوه اندازه لمده بل له کمیدو وروسته ښه دا ده چې په پلاستیک یو وزن کیښودل شي، خو وزن باید تیرې څنډې ونلري. کیدای شي پلاستیکي کڅوړې له خاورو ډکې او استعمال شي.

**۸. د پلاستیک لرې کول او کرنه:** د خاورې د اغیزمن سولرائزیشن لپاره پلاستیک په کرونده کې د لمر د وړانگو نیولو لپاره د خاورې ډول، د خاورې د رطوبت شرایطو، د کارول شوي پلاستیک رنگ، د کال موسمونه او اقلیمي شرایطو ته په پام سره له ۲ څخه تر ۸ اونیو پورې پریښودل کېږي (Wolie *et al.*, 2023). وروسته له هغه کولای شو چې پلاستیک لرې کړو. څکه دا موده کولای شي، چې له پلاستیک څخه د لاندې سطحې تودخه د سانتي گرید ۶۰ درجو ته لوړه کړي، کوم چې د زیاتره پتوجنونو او هرزه بوټو د له منځه وړلو لپاره بسنه کوي. د پلاستیک لرې کولو وروسته خاوره دوباره باید قلبه نشي څکه د هرزه بوټو هغه تخمونه او د ناروغیو هغه ارگانیزمونه چې د خاورې په ژوروالي کې قرار لري او د تودوخې تر تأثیرلاندې نه دي راغلي د دې لامل کیږي چې کرونده بیرته ناپاکه کړي. په همدې دلیل ده چې د ځمکې اماده کول او د کیمیاوي سرو استفاده کول او یا د اوبخور ترسره کول د پلاستیک پواسطه د ځمکې له پوښلو څخه مخکې تر سره شي. کله چې پلاستیک لرې کړو نو کولای شو کرنه هم شروع کړو.

**۹- د سولرائزیشن گټې**

د خاورې سولرائزیشن د هرزه بوټو د تخمونو ، باکتریاوو، فنگسونو او نیماتوډونو د کنترول لپاره یوه غیر کیمیاوي طریقه ده، چې د دغه طریقې پلي کول ځینې لاندې گټې لري:

۱. دا د انسانانو او چاپیریال لپاره خوندي دي څکه آفت وژونکي، کوم چې د انسانانو او چاپیریال لپاره خطرناک واقع کیدای شي، د سولرائزیشن په وخت کې نه کارول کیږي.

۲. د هغه پلي کول نسبتاً یوه ساده کړنلاره ده او ځانګړو وسایلو او ځانګړي مهارت ته اړتیا نه لري.

۳. د خاورې سولرائزیشن د آفتونو د ډېری ډولونو په وړاندې، د نیماتونو، د هرزه بوټو، او هغه ناروغیو چې د فنګسونو او باکتریاو له امله رامینځته کیږي اغیزمن واقع کیدای شي.

۴. د خاورې سولرائزیشن په خاوره کې د تخلخل رامینځته کولو او د نبات ریښو ته د اوبو او غذایي موادو د اسانه لاسرسي په واسطه کولی شي د خاورې د سترکچر په اصلاح کې مرسته وکړي. سربیره پردې، دا کولی شي د خاورې عضوي موادو اندازه زیاته کړي.

۵. په عموم کې د خاورې سولرائزیشن د آفتونو د مدیریت په برخه کې په ځانګړې توګه د اوږدې مودې لپاره، د نورو ستراتیژیو په پرتله لږ لګښت ته اړتیا لري.

٦. د خاورې سولرائزیشن که څه هم په هغو سیمو کې غوره کار کوي چې ګرمه هوا او لمر ولري، مګر بیا هم په مختلفو اقلیمونو کې ګټور دی.

**۱۰- د سولرائزیشن تاوانونه او محدودیتونه**

د خاورې سولرائزیشن د پورتنیو ګټو سربیره ځینې تاوانونه او محدودیتونه هم لري چې په لاندې ډول دي:

۱. د خاورې سولرائزیشن په یو موسم پورې محدود دی پرته له دې څخه چې خاوره د څو اونیو لپاره د تولید په موخه استعمال شي.

۲. د خاورې سولرائزیشن د پولي تین لوړ لګښت ته اړتیا لري.

۳. د پولي تین شیټ له استعمال څخه وروسته د هغه په اداره کولو کې ځینې ستونزې وي او د هغوی تجزیه مشکله ده.

۴. اقلیمي شرایط په زیاته اندازه د هغه ګټه تر تأثیرلاندې راولي. وریځې هوا او نوبتي باران د هغوی موثریت کموي.

۵. بار بار بادونه د پلاستیک د پاره کولو سبب ګرځي، سربیره په دې ځینې وخت حیوانات هم د پلاستیک د خرابیدو سبب ګرځي.

۶. د خاورې سولرائزيشن د ځينې هرزه بوټو لکه *Cyperus rotundus* چې څو کلن هرزه بوټي دی او د *Melilotus indica* چې ژمنی یو کلن هرزه بوټي دی او د ځينو ناروغيو د پتوجنونو د کنترول په وړاندې زيات اغيزمن نه دي.

## د خاورې د سولرائزيشن اغيزې

### ۱. د خاورې په تودوخه باندې د خاورې سولرائزيشن اغيزې

د پلاستيک پواسطه د خاورې د پورتنۍ سطحې پوښل په څرگنده توگه د خاورې تودوخه ډېروي. په سولرائز شويو خاورو کې د خاورې منځنۍ تودوخه له ۳۵ – تر ۵۵ درجو د سانتي گراد وي، کوم چې د غيرسولرائز شويو خاورو په پرتله ۲۰ درجې د سانتي گراد لوړه ده (Wolie *et al.*, 2023). په سولرائز شوې خاوره کې د تودوخې درجې په لوړيدلو باندې په عمده توگه اقليم، د پوښوونکو موادو ډول، هغه موسم په کوم کې چې سولرائزيشن ترسره کېږي، د سولرائزيشن موده، د پلاستيک رنگ او ضخامت او د هغه خاورې د رطوبت وضعيت چې سولرائزيشن کېږي اغيزه کوي (Shinde *et al.*, 2023). د خاورې سولرائزيشن په گرمو او حاره سيمو کې او يا په گرم موسم کې زيات اغيزمن وي. د اوږدې مودې لپاره د خاورې سولرائزيشن سره د خاورې د تودوخې درجه زياته لوړيږي ځکه خاوره د لمر زياته انرژي جذبوي (Di Mola *et al.*, 2021). د پوليتين تور پلاستيک د سپين يا نورو رنگونو څخه د سانتي گراد ۱۱ درجې زياته تودوخه جذبوي (Shinde *et al.*, 2023). د خاورې رطوبت د خاورې د سولرائزيشن اغيزمنتيا زياتوي، ځکه اوبه د مخصوصه حرارت يو لوړ ظرفيت لري. د خاورو بېلابېل ډولونه د لمر د تشعشع په وړاندې بېلابېل عکس العملونه ښيي او په ريگي خاورو کې زيات اغيزمن وي. دا ممکن له دې امله وي چې ريگي خاورې زياته پوراسيټي او د هوا جريان لري کوم چې د کلي او سيلټ خاورو په پرتله د لمر زياته انرژي په تيزي سره جذبوي (Sofi *et al.*, 2014).

### ۱۱. د خاورې د حاصلخيزی په اصلاح باندې د خاورې سولرائزيشن اغيزې

د خاورې سولرائزيشن په خاوه کې د غذايي عناصرو د استفادې په وړتيا باندې د پام وړ اغيزه کوي. د تودوخې د لوړيدو له امله د عضوي موادو تجزيه او منرالي کيدنه زياتيږي، نو ځکه د يو شمير غذايي عناصرو د استفادې وړتيا هم زياتيږي(۱- جدول). په عام ډول سره د خاورې

سولرائزیشن له امله دN,P,K ، جست سلفر او تعویضي Ca او Mg اندازه په څرگند ډول زیاتیږي(Al-Solaimani *et al*., 2015)، په همدې ډول د کتایون د تبادلې ظرفیت او د کاربن اندازه هم د سولرائزیشن له امله زیاتیږي (Chen Y., and Katan J. 1980).

**۱ - جدول: په خاوره کې د نایتروجن، فاسفورس، پوتاشیم او عضوي موادو په اندازو باندې د خاورې د سولرائزیشن اغیزې.**

| د خاورې د سولرائزیشن موده (له کرلو څخه وړاندې اونۍ) | د خاورې نایتروجن (٪) | د خاورې فاسفورس (ppm) | د خاورې پوتاشیم (ppm) | د خاورې عضوي مواد (٪) |
|---|---|---|---|---|
| ۰ | ۰,۴۷ d* | ۷,۴۲ d | ۱۲۴,۸ e | ۰,۹۲ c |
| ۳ | ۰,۴۹ d | ۷,۷۵ cd | ۱۳۲,۵ d | ۰,۹۵ c |
| ۶ | ۰,۵۸ c | ۸,۱۵ c | ۱۴۴,۱ c | ۱,۰۰ b |
| ۹ | ۰,۶۲ b | ۸,۷۱ b | ۱۵۴,۰ b | ۱,۰۸ a |
| ۱۲ | ۰,۷۱ a | ۹,۶۳ a | ۱۶۶,۱ a | ۱,۱۲ a |
| HSD(په ۵٪ احتمال کې) | ۰,۰۳۲ | ۰,۵۶۰۵ | ۵,۵۴۳۳ | ۰,۰۴۴۱ |

* د Tukey's honestly significant difference (HSD) ازمایښت مطابق کوم اوسطونه چې په یو ستون کې د ورته حرفونو لرونکي دي، هغوی د ۵٪ احتمال په کچه کې یو له بل څخه د پام وړ توپیر نلري.
سرچینه: Safdar *et al* (2021)

## ۱۲. د خاورې په حیاتي تنوع او گټور مایکرواورگانیزمونو باندې د خاورې سولرائزیشن اغیزې

خاوره د ډیرو پیچلو مایکرو ارگانیزمونو کور دی چې هغوی کولی شي د خاورې په بیولوژیکي، فزیکي او کیمیاوي خاصیتونو باندې اغیزه وکړي (Balakrishna *et al*., 2015). د خاورې بیولوژیکي خاصیتونه د خاورې او نبات په تولید کې مهم رول لوبوي. د سولرائزیشن په مهال د تودوخې زیاتوالی ممکن د ځینو مایکرو ارگانیزمونو تنوع (د ودې هڅوونکي او د ناروغۍ ضد باکتریاوو او فنگسونو) اندازه لږ څه کمه کړي، مگر دوی کولی شي په چټکۍ سره د خاورې د تودوخې سره تطابق وکړي، په ځانگړې توگه هیموفیلیک، تودوخې زغمونکي او اکټینو مایسیټس (Kanaan *et al*., 2018). گټور مایکرو ارگانیزمونه لکه رایزوبیم باکتریا، ځمکني چینجیان، او مایکورایزا فنگسونه (د نباتاتو سره سمبیوټیک اړیکې لري چې د غذایي موادو په راټولولو او د

نبات په وده کې مرسته کوي) د تودوخې د لوړې درجې سره خورا حساس دي، مګر په خاوره کې د دوی شمیر د سولرائز یشن له پروسې وروسته ۸۰٪ ته زیاتیږي او د غیر سولرائز شوو خاورو په پرتله د ناروغیو په وړاندې ډیر مقاومت کوي(Zhang *et al*., 2023). د ۸ اونیو د سولاریزیشن دوره د خاورې مایکروبیل بایوماس زیاتوي او په ګټورو مایکرو ارګانیزمونو لکه.Bacillus spp ، actinomycetes، او fluorescent pseudomonads باندې انتي ګونیستیک اغیزې کموي (Balakrishna *et al*., 2015). په عمومي ډول داسې انګیرل کیږي چې ځمکني چینجي د تودوخې څخه د خلاصون لپاره د ځمکې په لاندې برخو کې پټیږي(Di Mola *et al*., 2021).

**۱۳. د خاورې څخه د زیږنده ناروغیو په مدیریت باندې د خاورې د سولرائزیشن اغیزې**

د خاورې څخه زیږنده ناروغۍ په مستقیم ډول د نباتاتو د حاصل د کمولو او د کیفیت د خرابوالي لپاره مسؤل دي، او په غیر مستقیم ډول د آفت وژونکو د پیرودلو لپاره ډیرو پیسو ته اړتیا لري چې د خاورې په حیاتي تنوع باندې منفي اغیزه کوي (Wolie, 2023). د خاورې سولرائزیشن پواسطه تولید شوې تودوخه، په خاوره کې میکروبي نفوس ته بدلون ورکوي او مضر پتوجنونه چې د خاورې فنګسونو(*Fusarium oxysporum*، *Rhizoctonia solani*، او *Phytophthora cinnamomi*)، باکتریاو (Pseudomonas، Solanacearum، Tonanaellum، Tonanaartansie، Scabies) او نیماتودونو (Cricibactera، MeloidaNesie، Atylenchus penetrants) ته شاملیږي له مینځه وړي (Jagtap *et al*., 2022). د خاورې سولرائزیشن د میتایل بروماید ضد غفوني په څیر د بیلابیلو نباتي افاتونو، فتوجونو او نیماتودونو په مقابل کې ډیر موثر دی. په حقیقت کې سولرائزیشن د ضدعفوني په پرتله قوي، مصئونه او ارزانه ده. د ۳، ٦ او ۹ اونیو لپاره سولرائزیشن د خاورې څخه پیدا شویو ناروغیو واقع کیدل او شدت له ۵۰٪ څخه ډیر کموي (Gebretsadkan *et al*., 2020). په ورته ډول، د نیماتودونو نفوس د سولرائزشن د وخت له زیاتوالي سره تر ۳۷- ۱۰۰٪ پورې کمیږي (Mullaimaran *et al*., 2022). له همدې امله، د خاورې سولرائزیشن د خاورې څخه زیږنده ناروغۍ چې فنګسونو، باکتریاوو او نیماتودونو ته شاملیږي په پراخه اندازه سره کنټرولوي (Gebretsadkan *et al*., 2020).

**۱۴. د هرزه بوټو په تراکم او د هرزه بوټو د تخم بانک په مدیریت باندې د خاورې د سولرائزیشن اغیزې**

د خاورې د تخم بانک د راتلونکو فصلونو لپاره د هرزه بوټو سرچینه ده او دوی کولای شي، چې د خاورې چاپیریال احساس کړي چې ایا د استراحت حالت ته لاړ شي او که د ټوکیدنې لپاره فعال شي(Schwartz-Lazaro and Copes, 2019). سولرائزیشن کولای شي په پراخ طیف سره د متنوع هرزه بوټو د تخمونو ذخیرې ووژني او له مینځه یې یوسي (۲ – جدول). د سولرائزیشن په مهال د تودوخې لوړېدنه او رطوبت د تخمونو د حرارتي مړینې اصلي عوامل دي ( Jagtap *et al.,* 2022). د سولرائزیشن څخه مخکې په زیات ژوروالي سره اوبه لگونه په خاوره کې د هرزه بوټو د تخم بانک په تخلیه کې دسولرائزیشن موثریت ۷۸٪ زیاتوي (Wolie *et al.,* 2023). د لمده بل له امله دی چې ښخ شوي تخمونه ټوکیدل پیلوي او د خاورې د تخم بانک د ټوکیدلو هرزه بوټو د لمرسوځیدنې له امله کمیږي (Schwartz-Lazaro and Copes, 2019). د ۷ اونیو لپاره د سولرائزیشن پواسطه د هرزه بوټو د بېلابېلو نوعو تراکم شاوخوا ۸۲٪ له مینځه وړل کیږي (Kanellou, *et al.,* 2023). د خاورې سولرائزیشن پواسطه د گڼو د هرزه بوټو لکه bluegrass، common ،cogongrass ،barnyard grass ،Amaranthus spp. ،Ageratum spp. ،Setaria spp. ،redroot pigweed ،Portulaca spp. ،Digitaria spp. ،purslane، broomrape، او داسې نورو په بریالیتوب سره کنټرول ترلاسه شوی دی (Gill *et al.,* 2017;). د هرزه بوټو په تراکم کې دا د پام وړ کمښت ممکن د سولرائزیشن په جریان کې اعظمي حد ته د تودوخې د رسیدو له امله وي چې د هرزه بوټو د تخم بانک تخریبوي او ټوکیدونکي تخمونه وژني.

**۲- جدول: د کنجدنبات په کرونده کې د هرزه بوټو د کنترول په اغیزمنتوب باندې د سولرائزیشن د بېلابېلو تریتمنتونو اغیزې.**

| د خاورې د سولرائزیشن موده (له کرلو څخه وړاندې اونۍ) | د هرزه بوټو تراکم ($m^{-2}$) | د هرزه بوټو بایوماس ($g\ m^{-2}$) | د هرزه بوټو د کنترول اغیزمنتوب (٪) |
|---|---|---|---|
| ۰ | ۲۶،۷۵ a* | ۴۶،۵۰ a | |
| ۳ | ۱۵،۲۵ b | ۳۵،۷۵ b | ۲۳،۱۱ |
| ٦ | ۸،۵۰ c | ۲۸،۲۵ c | ۳۹،۲۴ |
| ۹ | ۸،۲۵ c | ۲۴،۷۵ c | ۴٦،۷۷ |
| ۱۲ | ۵،۵۰ c | ۱٦،۵۰ c | ٦۴،۵۰ |
| HSD(په ۵٪ احتمال کې) | ۳،۸۷ | ۵،۱۱ | |

* د Tukey's honestly significant difference (HSD) ازمایښت مطابق کوم اوسطونه چې په یو ستون کې د ورته حرفونو لرونکي دي، هغوی د ۵٪ احتمال په کچه کې یو له بل څخه د پام وړ توپیر نلري.
سرچینه: Safdar *et al* (2021)

## ۱۵. په چاپیریال او اقلیم باندې د خاورې د سولرائزیشن اغېزې

د خاورې سولرائزیشن په چاپیریال او اقلیم باندې ډیرې مثبتې او منفي اغیزې رامینځته کوي. دا د عضوي موادو تجزیه گړندۍ کوي ،او د سوځولو له لارې د هغوی دفع له حد څخه د زیاتو گلخانه یي زهرجنو گازونو د خپریدو او د چاپیریال د زیاتې ککړتیا لامل کیږي (Maraveas, 2020). دا کولی شي په مستقیم ډول د خاورې تنفس اغیزمن کړي او د خاورې د سطحې ځانگړتیاوو په بدلولو او د خاورې په مایکرو چاپیریال(د خاورې تودوخه، رطوبت، پوراسیتي، او تهویې) باندې د اغیزې کولو له لارې $CO_2$ اندازه تغیر کړي(Pereira *et al*., 2023). د سولرائزیشن په جریان کې د غیرهوازي مایکرو ارگانیزمونو نفوس په زیاتوالي پیل کوي، دوی په عضوي مرکباتو کې موجود کاربن او په خاوره کې موجود اکسیجن مصرفوي، چې په پایله کې یې د تودوخې درجه د پام وړ زیاتیږي او کاربن ډای اکسایډ او اوبه ازادیږي، مگر د هوازي مایکرو ارگانیزمونو د ډیریدلو مخه نیسي، او بیا د عضوي اسیدونو امونیم، او نایترس اسیدونه جوړیږي ( Díaz-Hernández *et al*., 2017). د گلخانه یي گازونو لوړ غلظت کیدای شي له خاورې څخه خارج شي کوم چې کولی شي د نړۍ گرموالی (Global warming) او د اقلیم بدلون ته وده ورکړي (Pereira *et al*., 2023). د سولرائزیشن لپاره د کارول کیدونکو پولی ایتلین پلاستیکي فلمونو اندازه شاوخوا ۱،۸ ملیون ټنه

اړتکل شوې ده (Mormile *et al*., 2017). له همدې امله، د دوی مناسبه تجزیه او ریسایکل کول د چاپیریال د اغیزو کمولو لپاره حیاتي مسئله ده. ځکه چې دا پلاستیکي صفحي هایدروفوبیک دي، دا کیدای شي د ځمکې په مخ د بهیدونکو اوبو کچه لوړه کړي او د خاورې تخریب گړندی کړي. دا پولی ایتیلین پلاستیکي شیټونه اکثرا د کثافاتو د دفن کولو په ځای کې ځای په ځای کیږي او دا عمل کولی شي د چاپیریال ناوړه اغیزې رامینځته کړي (Di Mola *et al*., 2021). ځکه چې د دوی تجزیه شاوخوا ۱۰۰ کاله وخت نیسي (Van Schothorst, 2021). د سولرائزیشن د پلي کولو په جریان کې او وروسته باید پاملرنه وشي چې پلاستیک هرچیرې ونه وغورځول شي او د شپې په جریان کې باید لرې شي ترڅو د پوښل شویو سطحو څخه د گلخانه یي گازونو خپریدنه کمه شي (Di Mola *et al*., 2021).

## ۱٦- هغه عوامل چې د خاورې سولرائزیشن باندې اغېزه کوي

ډیری عوامل شتون لري چې کولی شي د خاورې سولرائزیشن اغیزمنتیا اغیزمنه کړي، چې هغوی په لاندې ډول دي:

۱. د تودوخې درجه: د خاورې سولرائزیشن په گرمو او لمر لرونکو اقلیمونو کې خورا اغیزمن دی چیرې چې د خاورې تودوخه له ۴۳ تر ۴۹ درجو د سانتي گراد ته رسیږي، ځکه چې د خاورې د تودوخې لوړیدنه په ځانگړي ډول د خاورې له سطحې څخه تر پنځه سانتي متر ژوروالي پورې په مستقیمه توگه د اتوموسفیر له تودوخې سره تړاو لري. په یخ اقلیم کې، د خاورې تودوخه ممکن د آفتونو او ناروغیو د وژلو لپاره د اړتیا وړ کچې ته ونه رسیږي.

۲. د سولرائزیشن موده: د هغه وخت اوږدوالی چې خاوره د سولرائزیشن شیټ سره پوښل کیږي د سولرائزیشن پروسې په اغیزمنتوب کې یو مهم عامل دی. په عموم کې، د سولرائزیشن اوږده موده ډیره اغیزمنه ده، که څه هم د سولرائزیشن مناسبه موده به د ځانگړو آفتونو او ناروغیو په نښه کولو پورې اړه ولري.

۳. د خاورې رطوبت: څرنگه چې د خاورې سولرائزیشن یوه هایدروترمل پروسه ده نو ځکه د هغوی کامیابي او ناکامي په رطوبت او تودوخې دواړو پورې تړلې ده. د خاورې له ملچ کولو څخه وړاندې باید اوبخور ترسره شي تر څو خاوره مرطوبه وساتل شي او د خاورې حرارتي هدایت او د هرزه بوټو د تخمونو حرارتي حساسیت زیات کړي. مرطوبه تودوخه د هرزه گیاوو تخمونه او یا مایکرو

اورګانیزمونه د وچې تودوخې په پرتله په ټیټه درجه کې وژني ځکه دا د هغوی حجروي فعالیتونه زیاتوي.

۴. د خاورې ډول: د خاورې بېلابېل ډولونه کیدای شي د سولرائزیشن په وړاندې بېلابېل غبرګونونه څرګند کړي د بیلګې په توګه، ریګي خاوره کیدای شي د کلي خاورو په پرتله ډیر ژر توده شي. سربیره په دې د خاورې رنګ هم په سولرائزیشن کې مهم رول لري، ځکه د خاورې روښانه رنګ د دې میلان لري چې حرارتي شعاوې انعکاس کړي او د خړ رنګه خاورو په پرتله کمه تودوخه جذبوي.

۵. پوښونکي مواد: د پوښونکو موادو ډول چې د سولرائزیشن لپاره کارول کېږي، کیدی شي د سولرائزیشن پروسې په موثریت باندې اغیزه وکړي. روښانه پلاستیکي شیټونه تر ټولو عام کارونکي پوښونکي مواد دي، مګر نور مواد لکه تور پلاستیک هم کارول کیدی شي.

٦. د لمر د وړانګو شدت: د لمر د وړانګو شدت کولی شي د خاورې د سولرائزیشن په موثریت باندې اغیزه وکړي. په عموم کې، سولرائزیشن په هغو سیمو کې خورا اغیزمن دی چې د لمر وړانګو لوړه کچه لري.

۷. د آفتونو او ناروغیو مقاومت: ځینې آفتونه او ناروغۍ ممکن د نورو آفتونو او ناروغیو په پرتله د سولرائزیشن په وړاندې ډیر مقاومت لري. د مثال په توګه، نیماتودونه چې د خاورې په یو څه زیات ژوروالي کې ځای نیسي ممکن د سولرائزیشن پواسطه اغیزمن نشي. د آفتونو او ناروغیو کنټرول د خاورې په پورتنیو څو انچو کې ډیر ښه دی او د خاورې په ژوروالي سره کمیږي. فنګسونه چې د خاورې په پورتنۍ ۲-۳انچو کې ژوند کوي لکه Rhizoctonia یا Southern Blight فنګس، د نورو نباتاتو ناروغیو په پرتله د سولرائزیشن پواسطه په اسانی سره کنټرولیږي.

### ۱۷- پایله

د خاورې سولرائزیشن چې د خاورې تودوخه کې د پام وړ لوړوالی رامینځته کوي د لندبل د کمښت په ښه کولو کې، د هرزه بوټو تخمونو د بانک او افتونه په له مینځه وړلو کې، د خاورې څخه د زیرنده ناروغیو په کنټرولولو کې او د خاورې غذایي موادو د اندازې په زیاتولو کې پراخه موثریت لري. برسېره پردې، دا د خاورې د حاصلخیزۍ د ښه کولو او کرنیزو نباتاتو ته د غذایي موادو د

لاسرسي لپاره د خاورې په ګټورو مایکرو ارګانیزمونو باندې مثبته اغیزه لري، چې په دې توګه د کرنیزو نباتاتو حاصل تر ۵۰٪ زیاتیږي او د کوچنیو کروندګرو لپاره تر ټولو اقتصادي او باثباته انتخاب دی. دا په ریګي او مرطوبو خاورو کې، تر ټولو ګرم موسم کې او اوږدې مودې کې ډېر بریالی دی. په هرصورت، د هغې ناسم مدیریت ممکن د ګلخانه یي ګازونو خپریدنه او د چاپیریال ککړتیا نوره هم زیاته کړي. له همدې امله، د مخکنۍ اوبو لګونې سره د بایو ډیګریډ وړ پلاستیکي فلمونو کارول سولرائزیشن خوندي، مؤثره او اقتصادي کوي. د خاورې د متوالي سولرائزیشن پلي کول کولی شي د آفت وژونکو، هرزه بوټو وژونکو او کیمیاوي سرو د کارولو ځای نیونکی شي، چې پدې توګه په چاپیریال او اقتصاد باندې د دوی ناوړه اغیزې کموي. دا یو دوامداره او د چاپیریال همغږه کوونکی حل دی چې د بیولوژیکي کنټرول له نماینده ګانو سره ورته دی ترڅو د هرزه بوټو او ناروغیو انتان له مینځه یوسي او د خاورې حاصلخیزي ښه کړي.

## سرچينې


1. Al-Solaimani, S. G., Mahmood, S., Ahmad, S., Duar, I., El-Nakhlawy, F. S., & Nematullah, A. A. (2015). Effectiveness of soil solarization with polyethylene sheets and organic manure to control weeds and fungi and to increase the lettuce yield. *International Journal of Engineering Research & Technology*, *6*(9), 303–308.
2. Balakrishna, A. N., Lakshmipathy, R., Bagyaraj, D. J., & Ashwin, R. (2015). Effect of soil solarization on native AM fungi and microbial biomass. *Agricultural Research*, *4*(2), 196–201.
3. Chen Y., and Katan J. 1980. Effect of solar heating of soils by transparent polyethylene mulching on their chemical properties. Soil Science, 130: 271-277.
4. DeVay JJ (1991) Historical review and principles of soil solarization. In: DeVay JE, Stapleton JJ, Elmore CL (eds) Proceedings of the first international conference on soil solarization, Amman, Jordan, 19–25 February 1990. FAO Plant Protection and Production Paper 109, Rome, Italy, pp 1–11
5. Di Mola, I., Ventorino, V., Cozzolino, E., Ottaiano, L., Romano, I., Duri, L. G., Pepe, O., & Mori, M. (2021). Biodegradable mulching vs traditional polyethylene film for sustainable solarization: Chemical properties and microbial community response to soil management. *Applied Soil Ecology*, *163*, 103921.

6. Díaz-Hernández, S., Gallo-Llobet, L., Domínguez-Correa, P., & Rodríguez, A. (2017). Effect of repeated cycles of soil solarization and biosolarization on corky root, weeds and fruit yield in screen-house tomatoes under subtropical climate conditions in the Canary Islands. *Crop Protection*, *94*, 20–27.
7. European commission. (2023). *Organic farming in the EU – A decade of organic growth*. European Commission, DG Agriculture and Rural Development.
8. ewodros, T., Endalew, T., Yohannes, G., & Hayal, L. (2016). Effect of colored polyethylene mulch on soil temperature, growth, fruit quality and yield of tomato (Lycopersicon esculentum Mill). *World Journal of Agriculture Scinces*, *12*(3), 161–166. Gebretsadkan, A., Araya, A., Fitiwy, I., Yohannes, T., & Kalayu, Z. (2020). Effect of pesticidal weed extracts and soil solarization on soil health and management of onion white rot (*Sclerotium cepivorus*). *Archives of Phytopathology and Plant Protection*, *53*(13-14), 625–639.
9. Gill, H. K., Aujla, I. S., De Bellis, L., & Luvisi, A. (2017). The Role of Soil Solarization in India: How an Unnoticed Practice Could Support Pest Control. *Frontiers in Plant Science*, *8*, 1515.
10. Jagtap, M. P., Shinde, Y. A., & Khatri, N. (2022). An investigation on the effect of soil solarization on soil temperature and soil moisture conservation. *Arabian Journal of Geosciences*, *15*(24), 1778.
11. Jagtap, M. P., Shinde, Y. A., & Khatri, N. (2022). An investigation on the effect of soil solarization on soil temperature and soil moisture conservation. *Arabian Journal of Geosciences*, *15*(24), 1778.
12. Kanaan, H., Frenk, S., Raviv, M., Medina, S., & Minz, D. (2018). Long and short term effects of solarization on soil microbiome and agricultural production. *Applied Soil Ecology*, *124*, 54–61.
13. Kanellou, E., Papafotiou, M., Economou, G., & Ntoulas, N. (2023). Soil Solarization as an Alternative Weed Control Method for Archaeological Sites in the Mediterranean Region. *Sustainability*, *15*(14), 11324.
14. Kumar, R., Prajapati, J., Upadhyay, A., & Yadav, A. (2023). Increase in Production of Different Vegetable Crops by Using Plastic Mulch. *Vigyan Varta*, *4*(1), 93–95.

15. Maraveas, C. (2020). Environmental sustainability of plastic in agriculture. *Agriculture, 10*(8), 310.
16. Mihajlovic, M., Rekanovic, E., Hrustic, J., Grahovac, M., & Tanovic, B. (2017). Methods for management of soilborne plant pathogens. *Pesticidi i Fitomedicina, 32*(1), 9–24.
17. Mullaimaran, S., Haripriya, K., & Barathkumar, T. R. (2022). Effect of soil solarization and organic amendments on root-knot nematode management in tomato nursery. *International Journal of Phytology Research, 2*(4), 34–37.
18. Pereira, L., Tejada, J. L., Cecílio Filho, A. B., & Alves, P. L. (2023). Lettuce weed control with prior soil solarization. *Comunicata Scientiae, 14,* e3906-e3906.
19. Safdar, M. E., Safdar, M., Ali, A., Farooq, N., Sarwar, G., Hassan, I., Nadeem, M. A., & Abbas, T. (2021). Soil solarization improves soil fertility in addition to weed management in sesame under subtropical conditions of Pakistan. *Advances in Weed Science, 39,* e020219464.
20. Safdar, M. E., Safdar, M., Ali, A., Farooq, N., Sarwar, G., Hassan, I., Nadeem, M. A., & Abbas, T. (2021). Soil solarization improves soil fertility in addition to weed management in sesame under subtropical conditions of Pakistan. *Advances in Weed Science, 39,* e020219464.
21. Safdar, M.E., Safdar, M., Ali, A., Farooq, N., Sarwar, G., Hassan, I., Nadeema, M.E., & Abbasc, T. (2021). Soil solarization improves soil fertility in addition to weed management in sesame under subtropical conditions of Pakistan. *AdvWeed Sci,*;39:e020219464.
22. Schwartz-Lazaro, L. M., & Copes, J. T. (2019). A review of the soil seedbank from a weed scientist’s perspective. *Agronomy, 9*(7), 369.
23. Shinde, Y. A., Jagtap, M. P., Patil, M. G., & Khatri, N. (2023). Experimental investigation on the effect of soil solarization incorporating black, silver, and transparent polythene, and straw as mulch, on the microbial population and weed growth. *Chemosphere, 336*, 139263.
24. Sofi, T. A., Tewari, A. K., Razdan, V. K., & Koul, V. K. (2014). Long term effect of soil solarization on soil properties and cauliflower vigor. *Phytoparasitica, 42*(1), 1–11.

25. Van Schothorst, B., Beriot, N., Huerta, L. E., & Geissen, V. (2021). Sources of light density microplastic related to two agricultural practices: the use of compost and plastic mulch. *Environments, 8*(4), 36.
26. Wolie, G. G. (2023). Soilless culture technology to transform vegetable farming, reduce land pressure and degradation in drylands. *Cogent Food and Agriculture*, *9*(2), 1–13.
27. Wolie, G. G., Alemu, A. K., Zebib, K., & Tarekegn, Y. (2023). Application of soil solarization and manure, individually and in combination, control broomrape infestation and improve tomato yield. *International Journal of Vegetable Science*, *29*(3), 205–214.
28. Zhang, W., Ma, J., Cui, Z., Xu, L., Liu, Q., Li, J., Wang, S., & Zeng, X. (2023). Effects of Biodegradable Plastic Mulch Film on Cabbage Agronomic and Nutritional Quality Traits, Soil Physicochemical Properties and Microbial Communities. *Agronomy*, *13*(5), 1220.

# د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې خنډونه او حل لارې

**پوهنمل وحيدالله امين*[1] او پوهنمل احسان الله سعيد[2]**

۱ . مالي او بانکي چارې څانګه، اقتصاد پوهنځی، غزني پوهنتون

۲ . BBA څانګه، اقتصاد پوهنځی، غزني پوهنتون

*Waheed.amin.2014@gmail.com

**د تر لاسه کولو نېټه:** (۱۴۴۵/۷/۱۷) **د منلو نېټه** (۱۴۴۵/۸/۲۰)

**لنډيز**

د يوه هيواد اقتصادي وضعيت نه يوازې دا چې په نورو برخو او سکتورونو باندې اغيزه کوي، بلکې په اوسنۍ نړۍ کې د حکومتونو دوام او ثبات هم په اقتصادي وضعيت پورې تړلی دی. هيواد په اقتصادي برخه کې له يو شمير سترو ستونزو سره هم مخ دی، لکه مسلکي کادرونو کمبود او د بشري پانګې کمښت، د متخصصو علمي کادرونو تېښته، صنعتي او کرنيزې برخې ته د عامو خلکو او دولت کمه پاملرنه، اداري فساد، په يوه وارداتي هيواد بدليدل، د انرژي کمښت او داسې نور. په واقعيتونو ولاړه څېړنه د هيواد اړتيا ده، تر څو حکومت ځان په هنداره کې ووينې او خپلو نيمګړتياوو ته متوجې شي، د اصلاح لپاره يې ګامونه پورته کړي او د خپل ملت پر وړاندې خپل مسئوليت ادا کړي. همدا راز عام خلک اړتيا لري، تر څو له واقعيتونو خبر شي او د سياستونو د اصلاح لپاره مناسب او فعال فشارونه رامنځته کړي. همدارنګه خصوصي سکتور هم اړتيا لري، تر څو د فرصتونو او اړتياوو د پيژندلو په پايله کې د خپل مثبت رول ادا کولو ته متوجې شي. په ټوله کې د واقعيتونو ښکاره کول د عامه منافعو او ګټو د ساتلو او د هغو د ودې په برخه کې يوه ضروري او لازمه هڅه ده. دغه څېړنه يوه کتابتوني څېړنه ده او له دوهمي لاس اطلاعاتو څخه په کې ګټه اخيستل شوېده.

**بنسټيزې کليمې**: اقتصادي پرمختګ، اقتصادي وده، طبيعي سرچينې او ناخالص داخلي توليد

## ۱.سريزه

افغانستان هم په بيلابيلو تاريخي دورو کې په اقتصادي هلو ځلو کې بوخت پاتې شوی دی، خو بيا هم په ټولو تاريخي پړاوونو کې د افغانستان اقتصاد تر ډيره د نا امنيو، کورنيو جګړو او يرغلونو له کبله اغيزمن شوی دی. د چنګيز خان خوړنيو تاړاکونو، په نولسمه پيړۍ کې د انګريزانو تهاجم، په شلمه پيړۍ کې د شوروي يرغل، کورنۍ جګړې او په ۲۱ پيړۍ کې د غربي نړۍ او په رأس کې يې

د امريکا يرغل په اقتصادي برخه کې پر افغانستان ډېرې بدې اغيزې له ځانه سره لرلې دي(غبار، ۱۳۸٦).

له ۱۳۸۰ ل.ل کال څخه وروسته که څه هم په سلگونو ميلیارده ډالره مرستې له افغانستان سره وشوې خو د دې سره سره د فساد او نورو عواملو له امله څرنگه چې لازمه وه د بيارغونې او هيواد جوړونې په برخه کې په مصرف و نه رسيدې(اسلمي او رضا، ۱۳۸۹).

د يو شمير اقتصادي سازمانونو غړيتوب تر لاسه شو، بريښنا وارده او د ډيرو صنعتي پارکونو د بنسټ ډبرې کيښودل شوې(غرجستاني، ۱۳۹۲). مگر بيا هم د امريکايي يرغل په پای سره په هيواد کې د زيربناوو په برخه کې پاملرنه زياته او هره ورځ د يوې نوې او زيربنايي پروژې د افتتاح شاهدان يو.

که څه هم په تيرو کلونو کې يو شمير څېړنيزو مرکزونو، د هيواد د اقتصادي وضعيت په باره کې بعضې څېړنې تر سره کړې دي، ولې تر ډيره دغه څېړنې د ارقامو او شميرو تر کچې وې، همدا راز يو شمير نړيوالو او په هيواد د ننه خصوصي ادارو هم د افغانستان د اقتصادي وضعيت د څارلو او ارزولو په موخه سروې گانې، نظر پوښتنې تر سره او بيا يې د راپور په بڼه چاپ کړې، خو دغه ټول راپورونه د وخت له پلوه يوازې د يوه کال او يا هم څو کلونو پورې تړاو لري، مگر بيا هم په هغو کلونو کې د ارقامو توپير، عوامل يې او د اقتصادي پرمختگ پر وړاندې يې ننگونې او خنډونه نه دي څېړل شوي.

**د څيړنې د موضوع اهميت او اړتيا**

د هر هيواد پاليسي جوړوونکي او چارواکي د خپلو کارونو او فعاليتونو لپاره يوې منظمې او منسجمې ستراتيژۍ او تگلارې ته اړتيا لري، تر څو خپلې چارې د عيني واقعيتونو پر بنسټ تر سره کړي. دغه ستراتيژي د موثقو او باوري معلوماتو او سرچينو بنسټ جوړوي چې مواد په کې د هيواد له بيلابيلو سيمو، خلکو او سرچينو څخه را ټوليږي، دغه راز په يو شمير مطالعاتو او څيړنو هم تکيه کيږي چې له مخې يې وضعيت ارزول کيږي او ستونزې او شته ننگونې په کې په نښه کيږي. په دغه څيړنه کې هڅه شوې چې له باوري سرچينو څخه اړين او دقيق معلومات لاسته راوړل شي تر څو د پاليسي جوړوونکو، چارواکو او خصوصي سکتور سره تصميم نيولو کې مرسته وکړي.

**د څېړنې موخې**

د نوموړې مقالې موخې په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

۱. د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې شته خنډونه او د هغې عوامل بررسي کول.

۲. د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې د شته خنډونو حل لارې مشخص کول.

**۲. د څېړنې میتود**

په دغه څېړنه کې د اطلاعاتو د ټولولو په پار له کتابتوني روش څخه ګټه اخیستل شوېده، او د اطلاعاتو د نوعیت له نظره یوه توصیفي څېړنه ده. او د معلوماتو د ټولولو په پار د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې او نړیوال بانک له انټرنیټي سایټونو څخه ګټه اخیستل شوېده.

**۳. د پرمختیایي اقتصاد عوامل**

اقتصاد پوهانو د هیوادونو د وروسته پاتې والي لاملونه په بیلابیل ډول څېړلي او معرفي کړي دي. مهمه خبره دا ده چې هیڅ عامل په تنهایی سره د وروسته پاتې والي علت نه شو بللی، بلکې دوه یا څو عامله سره یو ځای او یو هیواد ته یې د وروسته پاتې، لږ پرمختللي او پرمختیایي هیواد ځانګړنه ورکړې ده. له دې څخه معلومیږي چې د هیوادونو ترقي او پرمختیا په بشپړ ډول نسبي بڼه لري، ټول لاملونه د هر وروسته پاتې اقتصاد لپاره هم صدق نه کوي، ځکه د دغو لاملونو څخه هر یو یې د یو پرمختیایي هیواد د اقتصاد وروسته پاتې والی قسماً روښانه کوي. هغه هیوادونه چې اوس هم د وروسته پاتې والي څخه ځوریږي عوامل یې په لاندې ډول یادولای شو؛

۱. د طبیعي سرچینو څخه نامساعده، غیر مسلکي، غیر معیاري او ډیره لږه ګټه اخیستنه،

۲. د پانګې کمښت، په معاصر اقتصاد کې پانګه په اقتصادي وده کې مهم او زیات رول لوبولای شي،

۳. وروسته پاتې تکنالوژي، په پرمختیایي هیوادونو کې د پرمختللې تکنالوژي څخه ګټه اخیستل ګران تمامیږي نو له هغې څخه کمه ګټه اخیستنه د داخلي صنعت د وروسته پاتې والي لامل کیږي.

۴. د تولیدي تاسیساتو او اقتصادي زیربنایي چارو کمښت، د شومپټر له نظره اقتصادي وده، پراختیا او پرمختګ هغه وخت را منځته کیږي چې نوښتګر متشبثین شتون ولري او دوی سپما شوې

پانګه ښه وکاروي. په دې توګه تشبث او نوښت اقتصاد ته مخ پر وړاندې خوځښت ورکوي(Jhingan, 1393).

۵. د ښکيلاک ناوړه اغيزې؛ د ډېرو پرمختيايي هيوادونو تاريخ ښيي چې دوی د ډيرې يا لږې مودې لپاره د شتمنو هيوادونو د ښکيلاک لاندې پاتې شويدي. په دغه موده کې دوی ته د صنعتي کيدو اجازه نه ده ورکړل شوې او يا يې هم ډيره انرژي، وخت او پاملرنه د آزادي ګټلو لپاره کارول شوېده نو ځکه اقتصادي ودې او پراختيا ته نه دي وزګار شوي. ځينې هيوادونه له استعمار وروسته هم له اقتصادي پلوه له نورو سره تړلي پاتې شوي نو ځکه د اقتصادي آزادۍ نه لرلو له کبله يې لازم پرمختګ نه ده کړی(دادګر، ۱۳۸۳).

۶. د موسساتو وروسته پاتې والی؛ پرمختللی اقتصاد د فعالو، چټکو او يو بل سره تړلو مرستندويه اقتصادي موسسو او ادارو غوښتنه کوي، خو په پرمختيايي هيوادونو کې نيمګړی بانکي سيستم فعاليت لري، ريښتيني صنعتي بانکونه نه لري او په لږې پرتو سيمو کې بانکي څانګې نه وي د پانګې اچونې تشويقي او حمايوي لايحې او فعال سوداګريز اوطاقونه شتون نه لري نو ځکه د منظمې پانګونې او فعال مالي او پيسو سيستم تحرک له ځنډ او ځنډ سره مخ وي. بانکونه په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي او د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې مهم خنډ له نامناسب پولي او بانکي سيستم څخه عبارت دی، څرنګه چې د افغانستان خلک مسلمانان دي او د خپلو اسلامي عقايدو پر بنسټ په سودي بانکونو باندې اتکاء نه کوي او نه هم له دغې لارې د ګټې لاسته راوړل ورته ارزښت لري، نو د دې لپاره چې بانکونه د اقتصادي پرمختګ په برخه کې رول ولوبوي نو بايد په هيواد کې اسلامي بانکوالي مروجه او پراختيا ورکړل شي او ورسره جوخت خلکو ته هم اړين معلومات ورکړل شي. له همدې امله اړينه ده، تر څو خلک په اقتصادي پرمختګ کې د بانکونو د رول څخه خبر شي او په دې اړوند اړين معلومات تر لاسه کړي، تر څو د سپما پيسې په مولده توګه په بانکونو کې وساتي او په دې توګه بانکونه په اقتصادي پرمختګ کې خپل مثبت رول ولوبوي.

۷. غير اقتصادي عوامل؛ د يوه هيواد د اوسيدونکو بېسوادي، دودونه، قبيلوي سيستم، تعصب، موهومات او خرافات هم هغه عوامل دي چې د اقتصادي ودې او پرمختګ د مخنيوي لامل ګرځيدلې دي(غرجستاني، ۱۳۹۲).

**۳. د اقتصاد د پرمختيا لپاره اړين شرايط**

تر دې ځايه مو د اقتصادي پرمختګ او پرمختيا خنډونه په لنډ ډول تر بحث لاندې ونيول، اما کله چې د اقتصادی پرمختيا په باره کې فکر کوو، نو د همدغه موانعو او خنډونو له منځه وړل اقتصادي پرمختګ دي او يا په بل عبارت بايد د اقتصادي ودې او پرمختيا لازم لاملونه( Factors of economic growth) وپيژنو. د اقتصادي پرمختګ لارې چارې او شرايط په دوه ډوله دي؛

۱. اقتصادي شرايط
۲. غير اقتصادي شرايط

اقتصادي وده په يو شمير شرايطو پورې تړلې ده لکه، طبيعي سرچينې، بشري سرچينې، پانګه، تشبثات، تکنالوژي او نور چې دا ټول اقتصادي فکتورونه دي خو د اوږدې مودې لپاره اقتصادي وده نه شي تر لاسه کيدای تر څو چې په يوه ټولنه کې اخلاقي ارزښتونه، سياسي وضعه او ټولنيز موسسات ښه او بدل نه شي چې دا غير اقتصادي شرايط دي، د اقتصادي پرمختګ لپاره تنها د هغې موانع او خنډونه له منځه وړل کافي نه دي بلکې پر دې سربيره د ځينو اړينو شرايطو برابرول حتمي بريښي. د اقتصادي پرمختګ لپاره درې شرطونه ډير اړين او لازم بريښي؛

- د پانګې په کار اچول،
- د پوهې د کچې لوړول او
- د پلان جوړونې څخه ګټنه(دوديال، ۱۳۸۶).

د اقتصادي ودې لپاره يوازې اقتصادي شرايط نه بلکې د ټولنيزو وګړو د کړو وړو ټول اړخونه، د نظم او قوانينو جوړول، د ټولنې د وګړو سواد او مهارت ته هم اړتيا ده. نو ځکه کلتوري، سياسي او ټولنيز ټول شرايط د اقتصادي شرايطو سره ګډ په کار دي. د دې سره سره د اقتصادي پرمختګ لپاره لانديني شرايط اړين دي؛

۱. داخلي اساس او بنسټ؛ د پرمختګ پړاوونه بايد لومړی په کورنيو لاملونو باندې پيل شي، بهرني لاملونه د متممو ځواکونو په توګه عمل کولای شي. د دې لپاره چې د پرمختګ پروسه دوامداره وي نو بايد د هغې ځواکونه د هيواد د ننه ولټېو، له هغې پرته به پرمختګ لنډ مهاله او مصنوعي خاصيت ولري، که د وګړو په مغزو کې پراختيا را نه شي اقتصادي پرمختګ ناشونی دی.

۲. د بډایه طبیعي سرچینو شتون؛ کوم هیواد چې طبیعي زیرمې لري نظر نورو هیوادونو ته د پرمختګ لپاره ښه چانس لري. معنی دا چې کوم هیوادونه چې منابع نه لري د پرمختګ امکان یې لږ وي. په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې د طبیعي زیرمو څخه د استفادې رول او ارزښت ورځ په ورځ زیاتیږي او دا چې د افغانستان معدنونه په طبیعي شکل ساتل شوي، نو افغانستان د طبیعي زیرمو په لرلو سره د نړۍ د بډایه هیوادونو په کتار کې راځي. د دې لپاره چې د دغه ذخایرو د ایستلو لپاره یو پیاوړی چاپیریال جوړ شي نو داسې بنسټیزو هڅو ته اړتیا ده تر څو اقتصادي او ټولنیز بنسټونه جوړ او له لارې یې د غربت د کموالي لپاره زمینه مساعده شي او په موثر ډول یې کیندل او استخراج د هیواد د پرمختګ او نیکمرغۍ لامل وګرځي. په طبیعي سرچینو پورې اړوند پروژو کې د خصوصي پانګونو راجلبول کولای شي په راتلونکو کلونو کې د کارموندنې په فرصتونو، د فقر په کموالی، د ټولنیزې سوکالۍ په ښه والي او د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول ولوبوي.

۳. د نیمګړي بازار د نښو له منځه وړل؛ د لږ مولدیت لرونکي سکتور څخه زیات مولدیت لرونکي سکتور ته د عواملو د لیږد خنډونه باید لرې شي، کورنۍ تولید کې انحصار له منځه ولاړ شي، بازار ته د هر متشبث داخلیدل او پانګه اچول وهڅول شي (سباوون، ۱۳۷۵).

۴. د سرچینو اغیزمنه ویشنه او د جوړښت بدلون؛ بشپړ بازار د منابعو او سرچینو مناسبې توزیع او ویشنې ته لاره هواروي، په پایله کې د تولید امکانات پراخ کیږي. د تولیدي ځواک څرنګوالي ښه او د وګړو تولیدي مهارت لوړیږي. د کرنې سکتور کې د تکنالوژۍ څخه ګټه هم په اقتصادي جوړښت کې د بدلون په معنی ده.

۵. د پانګې ټولیدل؛ د پانګې د ټولیدو د اساس چټک زیاتوالی هغه وخت د حاصل د ودې او نمو لامل کیږي چې د هغې زیاتوالی د نفوس د زیاتوالي له اندازې څخه اوچت او لوړ وي. اقتصادي پرمختګ او پرمختیا ته رسیدل د اوبو لګولو پروژو، د کرنیزو ځمکو پراختیا، بندونو، پلونو، ویالو، کانال کیندنې، سرک جوړونې، اوسپنې پټلۍ غزونې، هوایي ډګرونو معیاري کولو، بندرونو او د نویو تولیدي وسایلو له ګټنې څخه پرته ناشوني دي ځکه همدا د تولید د اغیزمنتوب د لوړولو لامل کیږي.

د پورتنيو ټولو چارو لپاره پانگې ته اړتيا ده. په پرمختيايي هيوادونو کې پانگه لږه ده. په دې توگه د پانگې ټولول د اقتصادي پرمختگ لپاره ستراتيژيک ارزښت لري(دوديال، ۱۳۸۶).

٦. ټکنالوژي؛ پرمختيايي هيوادونو ته د مناسبې ټکنالوژۍ غوره کول ډېره مهمه اړتيا ده، دا ځکه چې ځينې وخت په دغو هيوادونو کې پرمختللې ټکنالوژۍ د دوی د شرايطو سره مطابقت نه کوي، ځينې وختونه د ډېرې پرمختللې ټکنالوژۍ په کار اچول د منابعو د ضايع کيدو او د بيکارۍ د را منځته کيدو سبب کيږي. تر څو چې لازمه پانگه چمتو شوې نه وي او لازمه پوهه شتون و نه لري، د ټکنالوژي نوي کيدل ناممکن دي. ځکه چې اغيزمن تخنيکونه پانگې او ماهرو فني کارکوونکو ته اړتيا لري.

٧. د پانگې اچونې ښې لارې چارې؛ دولت او د پلان جوړونې ارگانونو ته لازمه ده چې د پانگونې مناسبې طريقې وټاکي. دا ځکه چې يوازې مناسبه پانگونه لوړ مولديت تر لاسه کولای شي.

